ویندوز 8

په اړه

Windows 8

بنسټیز او عملي زده کړه

لیکوال

عزت الله مرزا

ویندوز 8 په اړه بنسټیز او عملي زده کړه

لیکوال : عزت الله مرزا

لیکوال

عزت الله مرزا

Email: ezatullahmirza3378@gmail

موبایل : +93771891069

کال : 1405 لمریز

وینډوز 8 په اړه

بنسټیز او عملي زده کړه

عزت الله مرزا اورياخېل

کال: ۱۴۰۵ لمریز

د کتاب ځانګړنې

د کتاب نوم: ویندوز 8 په اړه بنسټیز او عملي زده کړه

لیکوال: عزت الله مرزا اوریاخېل

ډیزاین چارې : خپله لیکوال

چاپ کال: ۱۴۰۵ لمریز

چاپ وار: اول

ډالۍ

هغو ځوانانو ته چې شپه او ورځ د خپل هیواد او خپل دین لپاره خدمت کوي.

عزت الله مرزا

مقدمه

الحمد لله رب العالمين، والصلاة والسلام على سيدنا محمد ﷺ وعلى آله و اصحابه اجمعين

مورِ د داسې زماني اوسېدونکي يو چې پوهه، ټکنالوژي او معلومات د پرمختګ تر ټولو ستري وسيلې بلل کېږي. ننني نړۍ د کمپيوټر، انټرنېټ او ډيجيټلي وسايلو پر مټ له يو بل سره نږدې شوې ده، او هر هغه څوک چې له دغو وسايلو سره بلدتيا ولري، د زده کړې، کار او پرمختګ لپاره ډېر فرصتونه ترلاسه کولی شي.

دا کتاب د همدې موخې لپاره ليکل شوی چې زمورِ د ښوونځيو زده کوونکي، ځوانان او نور لوستونکي د کمپيوټر له بنسټيزو او عملي مفاهيمو سره په ساده او روانه ژبنتو ژبه بلد شي. په دې کتاب کې د کمپيوټر پېژندنه، هارډوير، ويندوز ۸ او د مايکروسافټ آفيس اړين موضوعات په داسې ډول بيان شوي چې لوستونکی وکولای شي د عملي کار لپاره تړې ګټه واخلي.

زما هيله دا ده چې دا کتاب به د زده کوونکو لپاره د پوهې يوه ګټوره سرچينه وګرځي او هغوی به د عصري ټکنالوژۍ د سمې کارونې، زده کړې او نوښت پر لور وهڅوي. نن سبا يوازې د کمپيوټر کارول کافي نه دي، بلکې اړينه ده چې له ټکنالوژۍ څخه د علم، تحقيق، اختراع او ټولنې د خدمت لپاره ګټه واخلو.

زه له خپلو قدرمنو ښوونکو، ملګرو او ټولو هغو کسانو څخه منننه کوم چې د علم او زده کړې په لاره کې يې راته لارښوونه کړې ده. همدارنګه د لوستونکو هر ډول سالمې نيوکې او وړانديزونه به د راتلونکو چاپونو د لا ښه والي لپاره په ورين تندي ومنل شي.

په درنښت

عزت الله مرزا

فهرست

لومړی برخه د کمپیوټر سره اشنایي او هارډویر

کمپیوټر پېژندل ۱

د کمپیوټر برخې ۴

د کمپیوټر ډولونه ۴

سافټویر ۷

سیستم یونټ ۸

CPU ۸

RAM ۹

Ports ۱۰

د لپټاپ چالانولو طریقه ۱۳

د ډیسکټاپ چالانول ۱۳

Power Sockets ۱۴

د کمپیوټر ادبونه ۱۶

دویمه برخه مایکروسافټ ویندوز

د ډیسکټاپ لومړی صفحه ۱۸

ماوس ۱۹

Right Click ۲۰

Screen Resolution ۲۲

Personalize ۲۵

Screen Saver ۲۶

Multimedia ۳۱

د کمپیوټر د حافظې واحدونه ۳۶
Recycle Bin ۳۷
ډیلیټ شوي معلومات بېرته پیدا کول ۳۹
Video Players ۴۰
MS Paint ۴۲
Calculator ۴۸
Snipping Tool ۴۹
Notepad ۵۰
WordPad ۵۲
Sound Recorder ۵۴
Sticky notes ۵۴
Run ۵۵
Wi-Fi وصلول ۵۶
CMD ۵۷
USB فارمټ کول ۶۰
کیبورډ شارټکټونه ۶۲
Control Panel ۶۶
Mouse ۶۶
Date and time ۶۸
Keyboard ۶۹
Taskbar ۷۰
Language ۷۳

Folder option ۷۹
Programs and Features ۸۳
Fonts ۸۶
Windows Mobility Center ۸۶
Sound ۸۷
Power Options ۸۹
Ease of Access Center ۹۳
Device Manager ۹۴
User Accounts ۹۷
Family Safety ۱۰۷
BitLocker ۱۱۰
AutoPlay ۱۱۳
Default Programs ۱۱۴
Troubleshooting ۱۱۵
Region ۱۲۰
Indexing Options ۱۲۲
Recovery ۱۲۴
Windows Defender ۱۲۵
System ۱۲۶
Administrative tools ۱۲۸

دریمه برخه مایکروسافټ آفس

مایکروسافټ آفس پېژندل ۱۳۳

MS Word ۱۳۴
File Tab ۱۳۵
Home Tab ۱۳۷
Insert Tab ۱۴۳
Design Tab ۱۴۹
Page Layout ۱۵۰
View Tab ۱۵۰
MS Word ډیزاینونه ۱۵۲
MS Excel ۱۵۳
Home Tab ۱۵۶
ایکسل فارمولي ۱۶۱
حسابي فارمولي ۱۶۱
د وخت او نېټې فارمولي ۱۶۲
د متن فارمولي ۱۶۳
د زده کوونکو نتایجو فارمټ ۱۶۴

لومړی برخه

د کمپیوټر سره اشنایي او هارډویر

۱ : کمپیوټر څه شی ده؟

۲ : د کمپیوټر اساسي برخې کومې دي؟

۳ : کمپیوټر په فزیکي ډول له څو برخو جوړشوی؟

۴ : کمپیوټرونه په څو ډوله دي؟

۵ : کمپیوټر په کومو ځایونو کې استعمالیږي؟

۶ : سافټویر څه شی ده او په څو ډوله دی؟

۷ : ویندوز څه شی ده؟

۸ : ولې موږ MS Windows , MS Word , MS Excel , MS Access , MS Power point دغه برنامې زده کوو؟

۹ : System Unit په عمومي ډول له څو برخو څخه جوړ شوی؟

۱ جواب : کمپوټر هغه وسیله ده چې له موږ څخه ډیټا اخلي (input) ، همدا ډیټا پراسس کوي (process) ، موږ ته نتیجه راکوي (output) او زموږ معلومات له ځان سره ساتي (storage).

Input: معنا له موږ څخه ډیټا اخلي لکه د کیبورډ په واسطه ، د ماوس په واسطه ، د کیمرې په واسطه ، د مایکروفون (مایک) په واسطه ، د سکنر په واسطه.

Process:

کمپیوټر په هر ډول ډیټا عکس ، ویډیو ، لیکنه ، ګرافیک او نوره هره ډیټا چې کمپیوټر کې ښکاري پراسس پرې کوي د 0 او 1 په ډول پرې پراسس کوي ؛ 1 0 ته binary عددونه وایي چې د 2 عدد په قاعدې لیکل کیږي او فقد همدا 1 0 دوه عددونه لري ؛ په روزمره ژوند کې چې کوم عددونه موږ کاروو هغه ته د Decimal یا د 10 په قاعده عددونه وایي چې له 0 څخه شروع کیږي او تر 9 پورې قیمتونه اخلي .

کمپیوټر د CPU (Central Processing Unit) په واسطه پراسس کوي چې د کمپیوټر مغز هم ورته وایي یعني ټولې ریاضیکي او منطقي کړنې همدا CPU ترسره کوي .



Output: دغه پروسه کې کمپیوټر مور ته نتیجه ښیي نتیجه به یا په سکرین وي یا د پرنټر په واسطه ، یا هم د سپیکر په واسطه .

Storage: هغه عملیه چې کمپیوټر پکې زمور معلومات یا د موقت وخت لپاره ساتي یا هم د تل لپاره.

موقت وخت لپاره لکه یو عکس کې چې ایډیټ کوو خو چې تر څو مو دغه تصویر ثبت کړی نه وي تر هغه وخته دغه تصویر په RAM یا د کمپیوټر په موقتي حافظه کې وي خو که دغه حالت کې چې کوم پروګرام کې مور تصویر ایډیټ کوو او دغه پروګرام بند کړو نو هغه تصویر به د همیش لپاره مور سره نه وي ثبت ځکه چې مور د Save آپشن ندی کارولی کله مو چې دغه تصویر Save کړ نو همدغه ایډیټ سر دغه تصویر د تل لپاره له مور سره په کمپیوټر کې ذخیره شو.

نو په همدې اساس کمپیوټر دوه ډوله حافظه لري :

1: Primary Storage

2: Secondary Storage

Primary Storages

a. **RAM** (Random Access Memory)
b. **ROM** (Read Only Memory)

RAM:

د System Unit دننه یوه حافظه ده چې ډیټا د موقت وخت لپاره له ځان سره ساتي (موقتي حافظه ده که له کمپیوټر څخه برق لاړشي نو له دې حافظې څخه هم معلومات پاکیږي) ؛ مثلاً که مور په MS Paint پروګرام کې یو تصویر رسموو خو Save کړی مو نه وي نو تر اوسه دغه تصویر په RAM کې ذخیره ده که دغه حالت کې له کمپیوټر څخه برق لاړشي نو د RAM څخه دغه تصویر هم پاکیږي که بیا چېرته کمپیوټر چالان کړو نو هغه تصویر به بیا په کمپیوټر کې ونه ګورو او که دغه تصویر مو Save کړی وي نو د کمپیوټر په دایمي حافظه کې به وي که له کمپیوټر څخه برق لاړ هم شي نو دغه تصویر به په کمپیوټر کې Save وي .

که د کمپیوټر RAM څومره ډېر وي هماغومره به د کمپیوټر د کار کولو ظرفیت لوړ وي مثلاً دوه کمپیوټرونه یو ډول CPU یو ډول Generation ولري خو د لومړي کمپیوټر RAM = 4GB وي او د دویم کمپیوټر RAM = 8GB وي نو د دویم کمپیوټر د کار کولو ظرفیت به ډېر وي ځکه RAM یې ډېر ده.



ROM:

د کمپيوټر دايمي حافظه ده چې د کمپيوټر د پيل (Boot) اړين معلومات پکې ذخيره وي چې عموماً يوازې لوستل کېداي شي نه پکې موږ څه اچولی شو او د بريښنا په قطع کېدو سره معلومات تري له منځه نه ځي؛ د ROM بنه مثال BIOS دی چې د کمپيوټر د چالانېدو معلومات پکې ذخيره وي .

د **ROM** اصلي دنده دا ده چې کمپيوټر هارډوير د چالانېدو پر مهال معاينه کوي ګوري چې د کمپيوټر وسيلي کار کولو ته اماده دي کنه؟

Secondary Storages

دا د کمپيوټر دايمي حافظه ده هغه حافظه ده چې موږ پکې خپل معلومات ساتو (زموږ معلومات همدلته ساتل کيږي)، windows هم همدلته ساتل کيږي.

دا حافظه مختلف ډولونه لري:

HDD (Hard disk Drive)

SSD (Solid State Drive)

HDD

SSD

۲ جواب: د کمپیوټر اساسي برخې دوه دي: **سافټویر** او **هارډویر**

سافټویر : د کمپیوټر هغه برخه چې په سترګو لیدل شي او په لاس لمس نه شي سافټویر ده ؛ همدارنګه سافټویر د کمپیوټر ټول کارونه ترسره کوي او همدا سافټویر ده چې په واسطه یې موږ له کمپیوټر څخه استفاده کولی شو.

د سافټویر مثالونه: مایکروسافټ ویندوز، مایکروسافټ آفس ، فوټوشاپ ، واټساپ ، فیسبوک ، ټلګرام...

هارډویر: د کمپیوټر هغه برخه چې په سترګو لیدل شي او په لاس هم لمس شي د کمپیوټر هارډویر بلل کیږي لکه : ماوس ، کیبورډ ، مانیټور ، سیستم یونټ ، سي پي یو ، پاورسپلای ...

۳ جواب: کمپیوټر له ۴ فزیکي برخو جوړ شوی دی

Monitor, System Unit, Keyboard, Mouse

Keyboard

System Unit

Monitor or Screen

Mouse

۴ جواب: کمپیوټرونه د مختلفو فکټورونو له مخې ویشل شوي دي

کمپیوټرونه د قدرت او سرعت له مخې په ۴ برخو وېشل کیږي

1: Super Computer

تر ټولو چټک کمپیوټرونه دي چې په یوه ثانیه کې په بیلونونو عملیې ترسره کوي او هم په یو وخت کې میلیونونه استعمالوونکو ته ځواب ورکوي دغه ډول کمپیوټرونه په هوا حالاتو، نظامي پروژو،علمي او تحقیقاتي مسایل،تلفون سیستم ، ګوګل ، فیسبوک ایمیل او داسې نورو لویو ځایونو کې کارول کیږي.

2: Main-Frame Computer

هغه کمپیوټر دی چې په یو وخت کې زرګونه استعمالوونکو ته خدمت وړاندې کوي ، دا ډول کمپیوټرونه د کمپیوټري شبکې په ډول کارول کیږي لکه : یو استعمالوونکی فقد ماوس ، کیبورډ او مانیټور لري خو System

Unit نلري د همدې Main-Frame کمپيوټر څخه د System Unit په ډول تري استفاده کوي چې د همدغه استعمالوونکي ټول معلومات په Main-Frame کمپيوټر کې ذخيره کيږي.

همدارنګه Main-Frame کمپيوټر کولی شي له ځان سره ډېر استعمالوونکي وصل کړي او هر يو ته بيل بيل System Unit ورکړي (په فزيکي ډول به هماغه يو کمپيوټر وي خو په منطقي ډول به همدا کمپيوټر د څو استعمالوونکو لخوا وېشل شوی وي).



3: Mini-Computers

دغه کمپيوټرونه هم په يو وخت کې ډېرو استعمالوونکو ته د Main-Frame په شان خدمت وړاندې کوي خو له Main-Frame څخه لږ کمزوري دي

نن سبا چې Workstation کېږي د Mini کمپيوټرونو ځای يې نيولی دی او انجنيران، تحليل ګران،مالي محاسبه کوونکي ،سافټوير انجنيران يې کاروي.

4: Micro (Personal) Computers

تر ټولو عام کمپيوټرونه دي چې د مختلفو کارونو د ترسره کولو لپاره کارېږي ؛ چې معياري هارډوير او معياري عامل سيستم لرونکي دي (هغه کمپيوټرونه چې عام خلک يې کاروي Personal Computer ورته وايي چې په لنډ ډول يې PC بولي).

PC کمپيوټرونه په دوه ډولونو پيداکيږي:

1: Desktop

د ډيسکټاپ ۴ ټولې فزيکي برخې (System Unit,Monitor,Keyboard,Mouse) هره يوه جلا جلا وي .

2: Laptop

د لېپټاپ ۴ ټولې فزيکي برخې يې يو ځاي او د کتابچې په شکل وي همدارنګه بطری هم لري چې بيدون له برق څخه د بطری په واسطه چليږي.

۵ جواب : کمپيوټر د ننې ژوند په ټولو اړخونو کې استفاده کيږي په مکتبونو ، شفاخانو،هوايي ميدانونو او د ژوند په ټولو اړخونو کې استعماليږي .

پولیس

شفاخانه

مکتب

۶ جواب : سافټویر د کمپیوټر هغه برخه چې په سترګو لیدل شي اما په لاس لمس نشي همدارنګه د کمپیوټر ټول کارونه همدا سافټویر ترسره کوي که چیرې سافټویر نه و نو کمپیوټر هیڅ کار نشو ترسره کولی.

سافټویر په دوه ډوله دي : ۱ سیستم سافټویر ۲ اپلیکیشن سافټویر

System Software

هغه سافټویر چې د کمپیوټر ټول کارونه ترسره کوي ، د کمپیوټر پرزې په کار اچوي او کمپیوټر ته د کار کولو توان ورکوي همدارنګه ټول اپلیکیشن سافټویرونه په سیستم سافټویر کې نصبیږي ؛ مثلاً که موږ په کمپیوټر کې MS Windows نصب نکړو نو کمپیوټر هیڅ کار نکوي .

د سیستم سافټویر مثالونه : MS Windows (XP: Vista: 2000: 7 : 8 : 10 : 11) , Unix , Linux ,Mac OS ...

همدغه سیستم سافټویرونو ته OS (Operating System) یا عامل سیستم وایي لکه : Windows OS , Mac OS....

هر موبایل او هر ماشین چې ډیجیټل وي هغه OS په واسطه کار کوي د موبایل عامل سیستمونه: ...Android,iOS,HarmonyOS,Windows Phone

Application software:

هغه سافټویر چې د استعمالوونکي د غوښتنو مطابق وي او که نصب یې کړو یا یې نصب نه کړو موږ له کمپیوټر څخه استفاده کولی شو .

د اپلیکیشن سافټویر مثال: واتساپ ، فیسبوک ، مایکروسافټ آفس ، ګیمونه...

۷ جواب : ویندوز یو سیستم سافټویر ده چې د کمپیوټر پرزې په کار اچوي او کمپیوټر کار کولو ته اماده کوي (بیدون له ویندوز څخه هیڅ کمپیوټر کار نشي کولی) .

ویندوز هم مختلف ډولونه لري چې په لاندې ډول دي:

Windows 7, Windows 8, Windows 8.1, Windows 10, Windows 11

۸ جواب : MS Windows , MS Word , MS Excel , MS Access , MS Power point دغه برنامه ځکه زده کوو چې د کمپیوټر اساسات له همدې ځایه شروع کیږي او د کمپیوټر د زده کولو لپاره مونږ باید لومړی له ویندوز څخه شروع وکړو.

ورډ،ایکسل،پاورپوائنټ،اکسیس دغه برنامې ځکه زده کوو چې دغه برنامې په دفتري کارونو کې ډېر زیات استفاده کیږي **ورډ** د کتابونو د لیکلو لپاره **ایکسل** د محاسبې لپاره **پاورپوائنټ** د ښوونکو لپاره چې د تدریس لپاره سلایډونه جوړکړي **اکسیس** د کوچنیو ډیټابیسونو لپاره.

۹ جواب: System Unit په عمومي ډول له ۷ برخو څخه جوړ شوی دی:

۱ برخه:

CPU (Processor)

CPU (Central Processing Unit) د کمپیوټر مغز هم ورته وایي د کمپیوټر ټولې ریاضیکي او منطقي کړنې او اجرأت ترسره کوي.

CPU



CPU

۲ برخه :

Motherboard (Mainboard)

د کمپیوټر ټولې برخې سره وصلوي او د هغوی ترمنځ معلومات او لیږي.

Motherboard

Motherboard

۳ برخه :

RAM

د کمپيوټر له موقتي حافظي څخه عبارت ده او معلومات تر هغه وخت پوري له ځان سره ساتي تر څو چې کمپيوټر چالان وي ؛ کله چې کمپيوټر بند شي نو د RAM څخه هم ټوله ډيټا له منځه ځي .



۴ برخه :

RAM

SSD/HDD

د کمپيوټر له دايمي حافظي څخه عبارت ده چې معلومات د تل لپاره له ځان سره ساتي او ويندوز هم همدغه حافظه کې ساتل کيږي.

SSD

HDD

۵ برخه :

Power Supply (PSU)

د بريښنا جريان د کمپيوټر ټولو برخو ته په خپله اندازه انتقالوي.

Power Supply

Power Supply

۶ برخه :

Cooling Fan

د CPU او د نورو برخو تودوخه کموي او د کمپيوټر د سوځېدو مخه نيسي.

Cooling Fan

۷ برخه :

Ports

د کمپيوټر هغه برخه ده چې نورې وسيلې له کمپيوټر سره وصلوي لکه :
Keyboard,Mouse,Speaker,Camera,Printer,Internet او ...

1:- USB Port

د ماوس، کيبورډ، پرنټر،فلش ډرايو او نورو وسايلو د وصلولو لپاره کارول کيږي.

USB ports



USB ports



USB ports

2:- VGA Port

System Unit له Monitor سره وصلوي تر څو مور نتيجه د Monitor په واسطه وګورو ؛ خو غږ نشي انتقالولی.



VGA Port

3:- HDMI Port

دا هم System Unit له Monitor سره وصلوي تر څو مونږ نتيجه د Monitor په واسطه وګورو ؛ غږ هم Monitor ته انتقالوي او د تصوير ښودلو کيفيت يې له VGA څخه لوړ ده.

HDMI Port

HDMI Cable

4:- Display Port (DP Port)

دا هم System Unit له Monitor سره وصلوي ؛ غږ هم انتقالوي Monitor ته او کيفيت يې هم له VGA څخه زيات ده .

Display Ports

Display Cable

6:- RJ-45 (LAN) Port

ددې پورټ په واسطه کولی شو له شبکې يا انټرنټ سره وصل شو او هم کولی شو دوه کمپيوټرونه ددې پورټ په واسطه وصل کړو.



RJ-45 Port

Ethernet Cable

7:- Audio Ports

Audio Ports

ددې پورټونو په واسطه Speaker,headphone,Mice وصلولی شو.

8:- PS/2 Port

دا پورټ د پخوانيو کيبورډونو او ماوسونو د وصلولو لپاره کارول کېده ؛ خو اوس نه کارول کيږي.

Audio Ports

9:- Serial (COM) Port

د شبکې د وسيلو د configuration لپاره کارول کيږي ؛ خو اوس عصري کمپيوټرونه دغه پورټ نلري نو بيا د شبکې انجينران له USB-to-Serial Adapter څخه کار اخلي.

Serial Port

Serial Cable

USB Adapter

10:- Parallel (LPT) Port

د زړو پرنټرونو او نورو زړو وسيلو د وصلولو لپاره کارول کيږي.

Parallel Port

Parallel Cable

11:- Power Connector (Power Socket)

ددې په واسطه کولی شو System Unit له بريښنا سره وصل کړو.

System Unit Power Socket

یادونه:

نن ورځ ډیری وسایل د USB پورټ په واسطه وصلیږي.

څنګه کمپیوټر چالان کړو؟

مخکې مو وویل چې PC کمپیوټرونه په دوه ډوله دي لپټاپ او ډیسکټاپ نو د هر یو د چالانولو طریقه هم توپیر لري

د لپټاپ کمپیوټر د چالانولو طریقه :

په لپټاپ کې یو بټن ده چې Power button ورته وایي فقد هغه بټن یو ځل وهو نو لپټاپ چالانیږي .

د ډیسکټاپ کمپیوټر د چالانولو طریقه:

د ډیسکټاپ هره برخه بیله بیله ده نو چلانول یې هم نسبت لپټاپ ته لږ مشکل ده

۱ مرحله: دغه مرحله کې به دا وپیژنو چې څنګه او د څه په واسطه د ډیسکټاپ دغه ۴ مختلفې برخې له یو بل سره وصلیږي:

لکه څرنګه چې مخامخ تصویر کې د ډیسکټاپ کمپیوټر د وصلولو ټول وسایل او ټوله طریقه ذکر شوې ده نو هر یو به یې مورږ په جلا ډول سره ووایو.

1:- Power cable & Power Socket

ددې لپاره چې کمپیوټر چالان کړو نو بریښنا ته ضرورت دی چې کمپیوټر چالان کړو لومړی به دوه دانې Power cables ولرو تر څو یو د Monitor لپاره او بل د System Unit لپاره بریښنا ورکړي چې دغه مرحله په لاندې تصویر کې روښانه کوو:

Power Cable

System Unit Power Socket

Monitor Power Socket

Connected Power cable

Plugged in power

کله مو چې دغه مر حله ترسره کړه بیا راځو دویمې مرحلې ته.

2:- Connect Mouse and Keyboard with System Unit

اوس غواړو کیبورډ او ماوس د System Unit سره وصل کړو ؛ چې په لاندې تصور کې یې کتلی شو:

Desktop USB Ports

Keyboard USB Cable

Mouse USB Cable

Connected Mouse and keyboard Cable with System Unit

3:- Connect VGA Cable with System Unit & Monitor

اوس به د VGA کیبل یو سر له System Unit سره او بل سر له Monitor سره وصل کړو ؛ تر څو مونږ د Monitor په واسطه د کمپیوټر د کارونو نتیجه وکتلی شو ؛ چې په لاندې تصویرونو کې یې د وصلولو طریقه کتلی شو:

VGA Cable



System Unit & Monitor VGA Port

Connected VGA Cable

4:- Power on PC

کله مو چې دغه ټولې مرحلې ترسره کړې نو اوس به د System Unit څخه Power button ووهو تر څو کمپیوټر چالان شي :

System Unit Power button

System Unit Power button

د کمپيوټر د استعمال آدبونه

کمپيوټر د زده کړې، معلوماتو او ټکنالوژۍ يوه مهمه وسيله ده. خو د دې وسيلې سم او منظم استعمال ته کمپيوټر ادبونه ويل کيږي. زده کوونکي بايد د کمپيوټر کارولو پر مهال ځينې مهم اصول مراعات کړي تر څو له دې څخه ګټه واخلي او تاوان ترې و نه وينې.

۱ .د استعمال وخت محدودول:
زده کوونکي بايد کمپيوټر ډېر اوږد وخت ونه کاروي. د زيات وخت لپاره د سکرين مخې ته کښاستل د سترګو، ذهن او بدن لپاره زيان لري. ښه ده چې هره ۳۰ تر ۶۰ دقيقو وروسته وقفه وشي.

۲ .د سترګو ساتنه:
د کمپيوټر سکرين ته ډېر نږدې کښاستل بايد مخنيوی وشي. مناسب واټن او رڼا بايد مراعات شي ترڅو د سترګو ستړيا او ضعف مخه ونيول شي.

۳ .د پاکوالي او نظم ساتنه:
کمپيوټر او شاوخوا ميز بايد پاک وساتل شي. خوراک او څښاک د کمپيوټر تر څنګ نه دي مناسب، ځکه چې د وسايلو د خرابېدو سبب ګرځي.

۴ .د زده کړې لپاره استعمال:
کمپيوټر بايد د لوبو لپاره نه بلکې د زده کړې، تحقيق او تعليمي کارونو لپاره زيات وکارول شي. زده کوونکي بايد له انټرنېټ څخه ګټور معلومات ترلاسه کړي.

۵ .د نامناسبو موادو نه ليدل:
زده کوونکي بايد له داسې ويبسايټونو او موادو څخه ډډه وکړي چې اخلاقي يا تعليمي ارزښت ونه لري. دا د زده کوونکي د شخصيت او اخلاقو لپاره زيانمن دي.

۶ .د نورو احترام:
په کمپيوټر کې د نورو زده کوونکو کار ته بايد درناوی وشي. د نورو فايلونه بايد بې اجازې ونه کارول شي او نه بايد خراب شي.

۷ .د انټرنېټ خوندي استعمال:
شخصي معلومات لکه پاسورډ، نوم او پته بايد له چا سره شريک نه شي. د انټرنېټ کارول بايد په احتياط او مسؤليت سره وشي او د کار په آخره کې بايد کمپيوټر په صحيح طريقه بند شي.

دويمه برخه
مايکروسافټ
ويندوز

کله چې کمپيوټر چالان شي نو موږ سره به لاندې صفحه خلاصه شي:



دلته به خپله پاسورډ وليکو او Enter بټن به ووهو

کله مو چې پاسورډ وليکه او Enter بټن مو ووهله نو يوه بله صفحه به راشي چې په لاندې ډول ده:

دغې صفحې ته Start صفحه يا Start menu وايي.

دلته به اوس Desktop پيدا کړو او کليک به پرې وکړو ؛ که چېرته Desktop په نوم آيکين موجود نه و بيا به له کيبورډ څخه Win + D بټنې ووهو او موږ به Desktop ته بوځي.

کله چې د ډيسکټاپ په آيکن باندې کليک وکړو يا Win + D بټن ووهو نو موږ سره به لاندې صفحه خلاصه شي:



د مايکروسافټ وېندوز لومړی سکرين.

1: icons

2: Taskbar

3: Notification area

4: Desktop or Wallpaper

Mouse (ماوس)

ماوس د کمپیوټر یو مهم input Device دی چې د کمپیوټر د کنټرول لپاره کارول کیږي.

د ماوس دندې :

- کلیک کول
- فایلونه خلاصول
- شیان انتخابول
- لیکنې او انځورونو ته حرکت ورکول

موس ۳ بټنې لري :

1: Left Button

2: Right Button

3: scroll wheel



Types of click: (د کلیک ډولونه)

1: single click (Left click) (Left button)

کله چې په یو فایل یا یو فولډر چپ کلیک یو ځل وکړو single click ورته وایي ؛ دنده یې فقد یو فایل یا یو فولډر انتخابوي.

2: double click (Left button)

کله چې په یو فایل یا یو فولډر چپ کلیک دوه ځلي وکړو Double Click ورته وایي ؛ دنده یې په هر څه چې ډبل کلیک وکړو هغه Open کوي.

3: Right click (popup menu) (Context menu)

کله چې په ډیسکټاپ ، ویډیو ، فولډر ، تصویر یا په هر فایل ښي کلیک وکړو مونږ ته یو صفحه خلاصوي چې دغې صفحې ته Popup menu (Context menu) هم وایي او مونږته د هماغه فایل په هکله یا هم د ډیسکټاپ په هکله مونږ ته معلومات راکوي.

Right Click on Desktop:



View:

Large icons: ددې په واسطه د ډيسکټاپ آيکنې غټولی شو

Medium icons: ددې په واسطه د ډيسکټاپ آيکنې متوسط حالت کې ښکاره کولی شو

Small icons: ددې په واسطه آيکنې کوچنی کولی شو

Auto arrange icons: که له دغه څخه ټيکمار ليرې کړو نو آيکن د ډيسکټاپ هرې برخې ته انتقالولی شو

Align icons to grid: که له دغه ټکمار ليرې کړو نو آيکن به يو له بل لپاسه هم راوستلی شو.

Show desktop icons: که له دغې ټکمار ليرې کړو نو موږ ته به د ډيسکټاپ آيکن نه ښيي ؛ د بيرته د ښودلو لپاره به همدلته ټکمار ورته ولګوو

Sort by:

دغه آپشن د آيکنو او فولډرونو د تنظيم کولو لپاره کارول کيږي .

Name: د نوم پر اساس ايکنې يا فولډرونه تنظيموي لکه: احمد،بلال،تواب...

Size: د اندازې پر اساس فولډرونه يا ايکنې تنظيموي.

Item type: د نوعيت پر اساس آيکنې يا فولډرونه تنظيموي لکه عکسونه يو طرف ته ويډيوګانې بل طرف ته او...

Data modified: د وخت له مخې آيکنونه تنظيموي لکه وروستی چې کوم آيکن يا فولډر کې بدلون راغلی نو هغه آيکنونه يا فولډرونه پورته راولي.

Refresh:

دغه آپشن د کمپیوټر د تازه کولو لپاره کارول کیږي ؛ کله چې کوم فولډر ، تصویر ، ویډیو یا بل هر فایل سم کار ونکړي نو بیا Refresh کاروو.

Paste:

نوموړی اپشن تر هغه وخته کار نکوي ترڅو موږ یو فایل کاپي نکړو د فایل د کاپي کولو لپاره به په هماغه فایل ښي کلیک وکړو او copy آپشن به کلیک کړو نو د past آپشن به کار وکړي اوس چېرته چې غواړو دغه فایل انتقال کړو نو past به ووهو.

Paste shortcut:

که یو فایل کاپي کړو او چېرته چې غواړو انتقال یې کړو نو که past shortcut ووهو نو د همدې فایل یو موقتي کاپي به دلته موږ سره وي که اصلي فایل ډیلیټ شي نو همدا فایل هم ورسره له منځه ځي .

New: د دغه آپشن سره کولی شو نوی فولډر، د یو فایل شارټکټ،یو نوی ورډ فایل یا ایکسل فایل او داسې نور فایلونه چې موږ ته هلته ښکاره شي هغه جوړولی شو.



- **Folder**

دلته کولی شو یو نوی فولډر جوړ کړو new→folder دلته به کلیک وکړو او یو نوم به فولډر ته ورکړو او Enter بټن به ووهو نو فولډر به جوړ شي.

فولډر : هغه منطقي جوړښت دی چې د فایلونو او نورو فولډرونو د تنظیم ، جوړښت او مدیریت لپاره کارول کیږي ، څو معلومات په منظم ډول وساتل شي او لاسرسی ورته اسانه شي.

د فولډر جوړولو شارټکټ:

Ctrl + Shift + N → New Folder

Ctrl + D → Delete

F2 → Rename

- **Shortcut**

New→Shortcut دلته کولی شو د هر څه او هر فایل لپاره شارټکټ جوړ کړو ؛ په Shortcut به کلیک کړو او Browse کې به که فایل وي یا فولډر نو هماغه به انتخاب کړي ok بیا Next بیا Finish وهو او شارټکټ یې جوړیږي.

New→Shortcut→shutdown /s /t 0→ next →Finish

که دغه آپشن وکاروو نو په صفحه به مونږ سره د Shutdown لپاره شارټکټ جوړ شي ؛ که ډبل کلیک پرې وکړو نو زمونږ کمپیوټر به په مکمل ډول بند شي.

New→Shortcut→shutdown /r /t 0→ next →Finish

که دغه آپشن وکاروو نو په صفحه به مونږ سره د Restart لپاره شارټکټ جوړ شي ؛ که ډبل کلیک پرې وکړو نو زمونږ کمپیوټر به بند شي او بیا به چالان شي.

Screen Resolution:

دغه اپشن سره د سکرین حالت بدلولی او هر ډول تغیرات او تنظیمات د سکرین کولی شو ؛ کله چې په دغه آپشن باندې کلیک وکړو نو لاندې صفحه به خلاصه شي :



1: Detect

که مونږ یو بل سکرین د کمپیوټر سره وصل کړو او هغه سکرین نه ښکاري نو detect یې پیدا کوي .

2: identify

که مونږ د کمپیوټر سره دوه یا زیات سکرینونه وصل کړي وي دغه اپشن راته د هر یو نمبر ښیي چې کوم سکرین کوم نمبر کې وصل ده.

3: Display

دلته هغه مانيټور يا سکرين ښکاري کوم چې مور سره وصل وي ، پورته تصوير کې دغه اپشن کې ځکه Mobile PC Display ليکلي چې دغه کمپيوټر لپټاپ ده او د لپټاپ خپل اصلي سکرين ده ويندوز يې په همدې نوم پېژني او دا بيرونی سکرين نده ؛ خو که بله بيرونی سکرين وصل وي هغه هم راته همدلته ښيي.

4: Resolution

دغه آپشن د سکرين اندازه اوصفايي ټاکي لکه : 600x800 دغه اندازه که دلته وټاکو نو شيان غټ ښيي خو کمه صفايي کې او 768x1366 نو تقريباً لږ صفا وي که غواړو سکرين راته بيخي صفا وښيي نو هغه اندازه به خپل کمپيوټر کې پيدا کړو کوم سره يې چې Recommended ليکلي وي همدا اندازه به انتخاب او Apply به يې کړو نو سکرين به راته صفا وښيي.

5: Orientation

ددې په واسطه مور د سکرين حالت بدلولی شو يعني سکرين ښي،چپ،پورته او لاندې خوا ته تاوولی شو او لاندې ځلور اپشنونه پکې دي :

1: Landscape دا اپشن سکرين عادي حالت کې راته ښيي

2: Portrait دا اپشن سکرين راته ښي طرف کې ښيي

3: Landscape (flipped) دا اپشن سکرين چپه ښيي

4: Portrait (flipped) دا اپشن راته سکرين په چپ اړخ ښيي



1

2



3

4

6: Project to a second Screen (or press Windows key + P)

کوم سکرين مو چې وصل کړی وي د هغه تنظيمات له دغه ځايه کيږي چې ۴ آپنونه لري :

- PC Screen only

دغه آپشن که انتخاب کړو يوازې به د کمپيوټر په سکرين راته Display راکوي دويم سکرين به display نه ورکوي .

- Duplicate

که دا آپشن انتخاب کړو نو هم به د کمپيوټر په سکرين او هم به په دويم سکرين کې راته display راکوي.

- Extend

دغه آپشن که انتخاب کړو نو دواړه سکرينونه به جلا جلا display ورکوي مثلاً په کمپيوټر کې به ګوګل خلاص وي او په دويم سکرين کې به ورډ يو فايل خلاص وي يا په دويم سکرين کې به يو تصوير ښکاري .

- Second Screen only

دغه آپشن که انتخاب کړو نو فقد دويم سکرين کې به راته display ښيي او کمپيوټر کې به يې نه ښيي ؛ که غواړې چې بيرته دې راته کمپيوټر کې هم وښايي نو windows + P بټنې به ووهي او Duplicate به انتخاب کړی.

7: Make text and other items larger or smaller

دغه آپشن سره کولی شو د ټولې صفحې يا د آيکنونو يا د title bar د ليکنو اندازې غټې کړو ؛ کله چې په دغه اپشن کليک وکړو لاندې يوه صفحه به راته خلاصه شي :



1: Smaller - 100% (Default)

دغه آپشن عادي حالت کي همدي 100% کي وي د سکرين هره برخه شکلونه او ليکنه راته عادي حالت کي ښيي.

Medium – 125%

دغه آپشن د سکرين اندازه غټوي (ليکنه او شکلونه غټ ښيي) ؛ دا آپشن به انتخاب کړو او Apply به ووهو بيا به Sign out now ووهو مور به له خپل اکاونټ څخه ووځو بيا به پاسورډ داخل کړو نو د سکرين اندازه (ليکنه او شکلونه) به راته لوی وښيي.

2: Title bar

که دا انتخاب کړو او سايز يي مخامخ چي ليکلی 11 له دي څخه پورته 20 کړو او که Bold ته ټکمارک هم ولګوو نو د title bar د ليکنې اندازه به لويه شي او ليکنه به يې Bold (ډبله) هم شي .

Personalize



له دغه ځايه کولی شو د صفحي د مخ تصويران بدل کړو که دلته په هر تصوير کليک وکړو هماغه تصوير به په صفحه ولګيږي.

که غواړو خپل تصوير په صفحه ولګوو دوه طريقي :

لومړی طريقه:

همدلته به په Desktop background باندي کليک وکړو او Browse ته به راشو په کوم فولډر کي تصوير وي هماغه فولډر به انتخاب کړو OK به يي کړو بيا که چيري دغه فولډر کي ډير تصويران وي هغه ټول به Clear all کړو او فقد هماغه يو تصوير ته به ټکمارک ولګوو.

دويمه طريقه:

په تصوير به Right click وکړو او Set as Desktop background به کليک کړو نو دغه تصوير به په صفحه ولګيږي.

Change desktop icons

دغه آپشن د ډيسکټاپ د آيکنو د ښودلو يا نه ښودلو لپاره کارول کيږي که دلته مو هر آيکن ته ټکمار ولګوو نو هماغه آيکن به مورِ سره په ډيسکټاپ کي ښيي او که کوم يو ته ټکمار نه و نو هغه به راسره په ډيسکټاپ کي نه ښيي



که دلته change icon ته لاړ شو نو د هر آيکن شکل هم بدلولی شو.

Right click →Personalize→Screen saver



دغه آپشن هغه وخت کي کارووِ چي کله يو دقيقه يا دوه دقيقي هر څومره وخت چي تاسو ورکوئ ورکولی شئ مثلاً ما دوه دقيقي وخت ورکړ نو د دوه دقيقو لپاره چي زه په کمپيوتر کي هيڅ ګوتي ونه وهم نو په کمپيوټر به يوه ليکنه راځي يا هم غواړم د ليکني په ځای خپل تصوير راولم يا تور سکرين راولم يا هم نور ډيزانونه راولم په دغه آپشن سره يي کولی شم که ما ليکنه انتخاب کړي وي او Ahmad مي ليکلی وي که د دوه دقيقو لپاره کيبورډ يا ماوس څخه استفاده ونکړم نو د کمپيوټر په screen به همدا د Ahmad نوم راته ښيي تر څو چي زه د کيبورډ کومه بټن ونه وهم يا هم ماوس ته حرکت ورنه کړم .

په مخامخ شکل کي که وګورو ۴ آپشنونه مورِ سره ښکاري ولي دغه preview Settings او wait دغه بټني کار نکوي ځکه مورِ هلته None په اول بکس کي انتخاب کړی Noun مانا دا چي که زه کمپيوټر کي د هر څومره وخت لپاره کار ونکړم نو ته هيڅکله مه بندېږه .



که زه غواړم چې خپل نوم راولم نو لومړي بکس کې هغه د Noun په ځای به کلیک وکړو او 3D Text به انتخاب کړو اوس راځو د لیکنې په ټول سیټینګ باندې بحث کوو:



کله مو چې 3D Text واخیسته نو نو Settings ، Preview او Wait دغه آپشنونو هم کار شروع کړ لومړی آپشن دغه تصویر کې Wait ده چې مخامخ بکس کې ورته 1 لیکلې دلته 1 معنا چې که یوه دقیقه کمپیوټر څخه استفاده ونکړم نو کمپیوټر باندې دي دغه لیکنه راشي او هغه نور سکرین دي راته نه ښیي .

دغه تصویر کې سور رنګ بکس کې که دلته ټکمار ولګوو او یوه دقیقه کمپیوټر څخه استفاده ونه کړو نو کله چې بیرته د کیبورډ بټن ووهو یا ماوس ته حرکت ورکړو نو بیا به له مونږ څخه پاسورډ غواړي او که دلته ورته ټکمارک ونه لګوو نو بیا به له مونږ څخه پاسورډ نه غواړي .

Preview: دغه ددې لپاره ده چې خپل جوړ شوی سیټینګ دي پرې وګوري چې څنګه کار کوي ؛ که یوه دقیقه صبر نشي کولی نو له دي آپشن څخه به استفاده کوي.

Settings:



دغه تصویر کې مونږ سره ۳ بکسونه ښکاري هر یو بیل بیل وایو

1 Box

Time

په لومړي بکس کې چپ طرف ته Time ښکاري که دغه انتخاب کړو نو مونږ سره به د کمپیوټر وخت په screen saver کې ښیي دغه حالت کې

نشو کولی چې خپل نوم وليکو

Custom Text

دغه آپشن هم چپ طرف ته دغه بکس کې ده ددې په واسطه کولی شو

خپل نوم يا بله کومه يوه کلمه وليکو مخامخ بکس کې چې هر څه مو وليکل

نو هماغه به راته د Screen saver حالت کې ښيي .

دلته يې Windows 8 ليکلي دي غواړو ددې ډيزاين او سرعت يې بدل کړو:

Resolution

دغه آپشن سره د ليکنې کيفيت ډيريږي او کميږي که Low يې کړو کيفيت يې کميږي او که High يې کړو نو کيفيت يې زياتيږي.

Size

ددې په واسطه د ليکنې اندازه غټولی او کوچنۍ کولی شو که small طرف ته يې راولو نو کوچنۍ کيږي او که Large طرف ته يې کړو نو د ليکنې سايز غټيږي.

Choose font

دلته ليکنې ته ډيزاين ورکولی شو.

2 Box

Rotation type

دغه آپشن کې ۵ آپشنونه دي Noun , spin , see-saw , wobble , Tumble دغه هر يو دي چې انتخاب کړ په هماغه ديزاين کې به ليکنه حرکت کوي.

دا د ليکنې د حرکت سرعت زياتوي او *Rotation Speed* کموي.

3 Box

دا بکس د ليکنې د رنګ د تغيرولو لپاره کارول کيږي.

Solid colour

ليکني ته solid colour ته راشو custom colour ته هم ټکمارک ولګوو بيا choose colour ته راشو نو دلته چې کوم رنګ انتخاب کړو هماغه رنګ به ليکنه واخلي.

Texture

دغه آپشن ليکني ته فلزي ډوله بڼکلا ورکوي او که Custom Texture انتخاب او Choose Texture ته راشي نو يو تصوير به انتخاب کړي نو هماغه تصوير کي چې کوم رنګ ډېر وي ليکنه به هماغه رنګ واخلي **البته** چې د تصوير Extension به bmp وي لکه د تصوير نوم به Ahmad.bmp دغسي وي .

Reflection

که دغه آپشن انتخاب کړو نو متن شيشه ډوله رنګ غوره کوي او که غواړو دلته هم ليکني ته د يو تصوير رنګ ورکړو نو د پورته طريقي په شان به ځو.

Show specular highlights

دغه اپشن ليکني ته رڼايي ورکوي که ټکمار ورته ولګوو.

Blank

که دغه آپشن واخلو نو په screen saver mode کي راته هيڅ هم نه بڼايي فقد راته



تور سکرين بڼيي.

Bubbles

که دغه آپشن انتخاب کړو نو سکرين به راسره په لاندي ډول بڼيي:



Mystify

دا هم يو ډيزاين ده د screen saver mode لپاره دي کي موږ نشو کولی چې تغيرات راولو.

Photos

دغه آپشن سره په screen saver mode باندې خپل تصويران راوستلی شو د تصويرانو د راوستلو لپاره به

Settings→Browse دلته به ورته يو فولډر انتخاب کړو يو تصوير درسره دلته نه قبلوي کوم فولډر کي چې درسره تصويران وي هماغه فولډر به انتخاب کړي که غواړي يو تصوير دي راشي نو يو فولډر به جوړ کړي او فقد هماغه يو تصوير به پکي وساتي

که ډېر عکسونه دي انتخاب کړي وي settings نو دلته فقد 3 آپشنونه دي

Slide show speed: 1 fast 2 medium 3 slow

Fast تصويران ژر ژر بدلوي ، medium تصويران متوسط حالت کي بدلوي ، slow تصويران په کراره تيروي.

که دا ټکمارک کړو او ډېر تصويران مو اپلی کړي په اتومات ډول به تصويران Shuffle Picture: انتخابوي.

که غوړو له دي څخه بغير يو تصوير په ډيسکټاپ ولګوو :

Right click on Picture→Set as Desktop background

Ribbons:

که دا انتخاب کړو نو دا هم يو ډيزاين ورکوي Screen saver mode ته نور تغيرات مور پکي نشو راوستلی.

Personalize→Colour



دلته کولی شو د title bar او task bar رنګونه بدل کړو

(که هر رنګ انتخاب کړو هماغه رنګ اخلي).

Title bar: په هره صفحه کي هغه پورته سطر ته وايي.

Multimedia

Multimedia له دوه کلمو څخه اخستل شوی Multi معنا څو یا ګڼ او Media معنا رسنۍ یا د معلوماتو د وړاندې کولو وسیلې.

Multimedia هغه سیستم ته ویل کیږي چې د معلوماتو د وړاندې کولو لپاره له څو ډولونو غږ، انځور او ویډیو څخه استفاده کیږي.

Picture (تصویر)

تصویر یو بصري فایل ده چې د اشخاصو، ځایونو، شیانو یا پیښو بڼه ثبت او څرګندوي.

په کمپیوټر کي تصویرونه د JPG , PNG , BMP او نورو فایل بڼو کي ساتل کیږي.

موږ باید خپل تصویران چېرته او څنګه وساتو؟

کله چې په Desktop کي په Computer icon باندې ډبل کلیک وکړو یا Win+E بټن ووهو لاندې صفحه به راته خلاصه شي:



پورته شکل کي C , D , F , E ,G هر یو ته Drive وایي او هر یو کي معلومات ذخیره کولی شو(د کمپیوټر حافظي دي).

C: Drive

د کمپیوټر ټول معلومات همدلته ذخیره وي او Windows هم همدلته ساتل کیږي که چېرې یو سافټویر install کړو هغه هم همدلته install کیږي.

موږ باید خپل معلومات او ډیټا دلته ونه ساتو ځکه که کمپیوټر کي کوم مشکل راشي او بله Windows ورته کوو که دغه C Drive کي هر ډول ډیټا موجوده وي هغه له منځه ځي.

D: Drive

مور باید خپل معلومات او ډیټا په D: Drive کې وساتو که چیرې د کمپیوټر Windows خراب هم شي او بله Windows ورته وکړو نو له دغه Drive څخه معلومات له منځه نه ځي.

F: Drive

که دلته هم معلومات وساتو د کمپیوټر د Windows د بیا نوي کولو سره له منځه نه ځي.

DVD/CD-RW Drive (E :)

دا Drive د CD لپاره ده کله چې CD په CD Rom کې واچوو بیا به په دغه Drive کلیک وکړو نو CD کې چې کوم ډول ډیټا وي هغه به راته وښیي.

Removable Disk (G :)

دا داخلي Flash Drive دی چې د کمپیوټر سره وصل ده.

نوټ: که Hard Disk ضربه وخوري یا لږ ټکان وخوري یا د برق دجریان په واسطه متأثره شي نو کیداي شي د Hard Disk حافظه کمه شي یا زمور معلومات ورسره له منځه لاړشي.

په پورته شکل کې که وګورو د هر Drive اندازه هم راته ښیي چې هر Drive څومره د ډیټا د ذخیره کولو ظرفیت لري.

ماسره په D Drive کې عکسونه شتون لري اوس غواړو د عکس په هکله بشپړ معلومات ترلاسه کړو:

کله چې په D Drive کلیک وکړي نو هغه ډیټا چې په دغه Drive کې شتون لري هغه به درته ټول وښیي که په یو تصویر Right Click وکړو لاندې تصویر په شان صفحه به راته خلاصه شي:

Preview:

که دغه کلیک کړو تصویر به مور ته Open کړي.

Set as desktop background:

که دغه کلیک کړو تصویربه په Desktop صفحه باندې ولګیږي.

Edit:

که دغه کلیک کړو تصویر به راته په MS Paint پروګرام کې open کړي چې کولی شو دغه تصویر کې edit هم وکړو.

Print:

که چیرې مور سره Printer وصل وي که دغه آپشن کلیک کړو دغه تصویر به راته Print شي.

General Zapya sharing QR Code:

که دغه آپشن کلیک کړو دغه تصویر د Zapya دلاري لږلی شو خو باید زمور کمپیوټر Wireless NIC Card ولري.

Rotate right:

تصویر ښي طرف ته اړوي (که تصویر سرچپه وي) .

Rotate left:

تصویر چپ طرف ته بدلوي.

Open with:

مور ته دا ښيي چې تصوير په کوم پروګرام کې Open کړي خو د تصوير د ښودلو لپاره دلته تر ټولو غوره format هغه Windows photos viewer دی دلته به دغه انتخاب کړو.

Add to Archive…

مخکې لدې چې دغه آپشن راته کمپيوټر کې ښکاره شي بايد يو سافټوير د WinRAR په نوم ده هغه بايد install کړو که دغه سافټوير install نکړو بيا راته دغه آپشن نه ښيي.

کله چې په دغه آپشن کليک وکړو نو لاندې تصوير په شان صفحه به راته خلاصه شي:



دلته کولی شو چې لوی فايل په کوچني فايل بدل کړو لکه 100MB فايل وي هغه په 80MB يا کښدای شي له دې څخه هم په کمه اندازه کوچنی کړي.

Compression method

که دلته Store انتخاب کړو هيڅ compression نه کوي، که Fastest انتخاب کړو ډېر ژر Compression کوي، که Normal انتخاب کړو عادي حالت کې به وي؛ که Best انتخاب کړو تر ټولو زيات Compression کوي خو وخت ډېر نيسي.

Spilt to volumes

لوی فايل په څو برخو وېشي؛ مثال 1GB فايل په 100MB برخو وېشي.

Delete files after archiving

که دلته ټکمارک ولګوو اصلي فايل به حذفوي او يوازې Archive فايل به پريږدي.

Set Password

فايل ته پاسورډ ورکولی شو دلته ؛ يوازې هغه څوک به يې خلاصولی شي چې څوک يې پاسورډ لري.

که غواړو يو تصوير ته پاسورډ ورکړو لاندې مرحلې به تعقيب کړو:

Right click on Picture→Add to archive→archive format ZIP or RAR→Set Password→Enter your password→OK→OK

اوس به دغه تصوير باندې پاسورډ ولګيږي او که خلاصوو يې نو پاسورډ به راځخه غواړي.

او که غواړو بېرته له دغه تصوير څخه بېرته پاسورډ ختم کړو:

همدغه فايل باندې به single click وکړو او پاسورډ به وليکو بيا به همدغه فايل انتخاب کړو او Extract to کليک کړو بيا به هغه ځاي ورته وټاکو چېرته چې يې غواړو هماغه ځاي به ورته انتخاب کړو نو دغه تصوير څخه به پاسورډ ختم شي.





Send to

دلته کولی شو دغه تصویر ولټړو:



- Bluetooth Device

ددی په واسطه کولی شو د بلوتوث په واسطه دغه تصویر ولټړو په همدغه آپشن به کلیک وکړو او کومې وسیلې ته یې چې لیږو هماغه وسیله به انتخاب کړو او Next به ووهو دغه تصویر به د بلوتوث په واسطه ولټړل شي بل کمپیوټر یا موبایل ته.

- Compressed (zipped) folder

که دا کلیک کړو همدا تصویر یا فایل به په Zip folder کې واچوي ګټه یې داده چې د کمپیوټر حافظه به کمه نیسي.

- Desktop (create Shortcut)

که دا کلیک کړو که په فولډر یا ویډیو یا په هر ډول فایل مو کلیک کړی وي نو ددې فایل شارټکټ به په ډیسکټاپ جوړ شي ګټه یې داده چې په اسانی سره به کولی شو دغه فایل ته لاسرسی ولرو.

- Documents

که دا کلیک کړو دغه تصویریا بل هر ډول فایل چې وي دلته به پاتې شي او Document ته به هم لاړ شي.



- Fax recipient

که دا کليک کړو د Fax له لارې کولی شو يو چاته همدا فايل ولېږو ؛ خو Fax يو پخوانی مخابراتي سيستم دی چې نن ورځ ددې پرځای Email , WhatsApp , Telegram او داسې نور پروګرامونه کاروي.

- Mail recipient

کولی شو همدغه فايل د Email له لارې بل چاته ولېږو.

- DVD/CD-RW Drive (E :)

کولی شو همدغه فايل CD ته ولېږو.

Cut

که دغه آپشن کليک کړو دغه فايل يا تصوير به له دغه ځايه (اوسني موقعيت څخه) پرې کړي او که غواړې بل ځای ته يې انتقال کړي په هماغه ځاي کې به ښې کليک وکړي او Past به ووهي؛ نو دغه فايل يا تصوير به له لومړني ځاي څخه ختم شي او نوي ځاي ته به لاړشي.

Cut Shortcut: Ctrl + X

Paste Shortcut: Ctrl + V

Copy

که دا کليک کړو نو ددغه فايل يوه کاپي به مور واخلو او هر چېرته چې يې Past کړو هماغلته به دغه فايل انتقال شي خو دغه فايل به په لومړني ځاي کې هم پاتې وي او نوي ځاي ته به هم لاړشي.

Copy shortcut: Ctrl + C

د Copy او Cut تر منځ توپير:

فرض کړه مور يو USB Drive له کمپيوټر سره وصل کړ د Ahmad په نوم تصوير کمپيوټر کې موجود وي که مور دغه تصوير Cut کړو او په USB Drive کې يې Past کړو دغه تصوير له کمپيوټر څخه ختم شو او USB ته انتقال شو که دغه حالت کې USB له کمپيوټر څخه وباسو نو د Ahmad په نوم تصوير به په کمپيوټر کې پيدا نکړو اوس دغه تصوير فقد په USB کې موجود ده ؛

خو که Copy انتخاب کړو دغه تصوير به په کمپيوټر کې هم پاتې شي او USB ته به هم انتقال شي.

Delete

که دا کليک کړو دغه فولډر يا فايل به ډيليټ (پاک) شي له کمپيوټر څخه خو د تل لپاره به نه ډيليټ کيږي دغه فايل که ډيليټ کړو Recycle bin ته ځي که غواړو بيرته يې راولو Recycle bin ته به راشو Right click به په همدغه فايل وکړو نو لاندې تصوير په شان څو آپشنونه مور ته ښکاره کوي :

Recycle Bin



Right click on Deleted file

- **Restore**

که دا کليک کړو له کوم ځاي څخه مو چې دغه تصوير يا فايل ډيليټ کړی وي بيرته هملته ځي.

- **Cut**

که دا کليک کړو له دغه ځايه مو دغه فايل Cut کړ هر چېرته مو چې

خوښه وي هملته يې Past کولی شو.

- **Delete**

که دا کلیک کړو له دغه ځایه هم فایل ډیلیټ شو او بیا هیڅ نشو کولی دغه فایل په کمپیوټرکې پیدا کړو.

- **Properties**

د همدغه تصویر په هکله معلومات راکوي.

Rename

که دا کلیک کړو د فایل نوم بدلولی شو.

Rename shortcut: F2

Properties

مورِ ته د دغه فایل یا فولډر په هکله معلومات راکوي.



دلته د همدې فایل په هکله بشپړ معلومات مورِ ته ښیي.

Location:

د فایل موقعیت راته ښیي چې په کوم Drive کې او په کوم فولډر کې دغه فایل ذخیره شوی.

Size:

د فایل اندازه ښیي چې څومره اندازه لري.

Size on disk:

د کمپیوټر په حافظه کې یې څومره ځای نیولی.

Created:

دغه فایل په کوم تاریخ او په څو بجو جوړ شوی یا ډانلوډ شوی یا له بل چا څخه را کاپي شوی.

Details:

دلته راته نور زیات معلومات د د همدې فایل په هکله ښیي.

د کمپیوټر د حافظې د اندازه کولو واحدونه

هر څه د اندازه کولو لپاره واحدونه لري وخت په ثانیه، فاصله په متر، تودوخه په سانتی ګریډ، حجم په لیټر او... نو د کمپیوټر د حافظې د اندازه کولو واحد bit دی.

د کمپیوټر د حافظې د اندازه کولو تر ټولو کوچنی واحد bit دی؛ bit(binary digit) چې یواځې دوه ارزښتونه لرلی شي 0 یا 1 چې 0 معنا بند یا دروغ او 1 معنا چالان یا ریښتیا.

Bit

8 bit = 1 Byte

1024 Byte = 1 KB (Kilo Byte)

1024 KB = 1 MB (Mega Byte)

1024 MB = 1 GB (Giga Byte)

1024 GB = 1 TB (Tera Byte)

څنګه معلوم کړو چې 3600 KB څو GB کیږي؟

که کوچنی کمیت یې راکړی وي او لوی پیدا کوو همدغه کوچنی کمیت به تر هغه وخته په 1024 وېشو تر څو هدف کمیت ته ورسېږو.

3600 KB / 1024 = 3.515625 MB

3.515625 MB / 1024 = 0.003433 GB

3600 KB = 0.003433 GB

1 GB =? KB

که له لوی کمیت څخه کوچنی کمیت پیداکوو دغه لوی کمیت به تر هغه وخته له 1024 سره ضربوو تر څو چې هدف کمیت لاسته راشي:

1 x 1024 = 1024 MB

1024 x 1024 = 1048576 KB

1 GB = 1048576 KB

Recycle Bin

Recycle bin په حقیقت کې یو فولډر ده چې کله موږ یو فایل یا فولډر Delete کړو دلته Recycle bin ته راځي ګڼه یې دا ده چې که یو فایل



راځخه په غلطی کې Delete شي همدلته راځي.

کله چې په Recycle bin باندې Right Click وکړو مخامخ صفحه راته خلاصیږي:

Open:

که دا کلیک کړو Recycle bin راته خلاصوي.

Pain to Start:

که دا کلیک کړو همدغه د Recycle bin آیکن به راته په Start صفحه کې هم ښیي.

Empty Recycle Bin:

که دا کلیک کړو په Recycle bin کې چې څومره ډیټا وي هغه ټوله له کمپیوټر څخه له منځه ځي او بیا په هیڅ ډول بېرته کمپیوټر ته نه راځي.

Create Shortcut:

که دا کلیک کړو د همدغه آیکن یو Shortcut به راسره همدلته جوړ شي؛ خو Shortcut هغه فایل یا هغه آیکن دی چې د اصلي فایل په اساس کار کوي که چېرې اصلي فایل خراب یا ډیلیټ شي نو دغه Shortcut فایل یا آیکن هم بیا کار نکوي؛ دغه آپشن فقد د آسانی لپاره ده.

Rename:

که دا کلیک کړو د Recycle bin نوم بدلولی شو.

Properties:

که دا کلیک کړو لاندې صفحې په ډول یوه صفحه به مونږ ته خلاصه شي:



په مخامخ تصویر کې په لومړي جدول کې راته د کمپیوټر د هر Drive اندازه ښیي.

Custom size:

Maximum size (MB):

دلته ټاکلی شو چې Recycle bin دې په اعظمي توګه څومره ډېټا له ځان سره وساتي. که دغه آپشن ته مخامخ جدول کې په هره اندازه قیمت ورکړي نو Recycle bin به په هماغه اندازه Delete شوي فایلونه له ځان سره ساتي چې ما 7030 MB انتخاب کړی چې تقریباً 7 GB کیږي که چېرې زه 8 GB معلومات له کمپیوټر څخه ډیلیټ کړم 7 GB معلومات به همدلته په Recycle bin کې پاتې شي او 1 GB معلومات به د تل لپاره له کمپیوټر څخه ډیلیټ شي.

Don't move the Recycle bin, Remove files immediately when deleted

که دغه آپشن انتخاب کړو نو که مونږ یو فایل ، تصویر ، ویډیو ، فولډر یا هر څه له کمپیوټر څخه ډیلیټ کړل Recycle bin ته به نه راځي مستقیم به دیلیټ کیږي او بیا که هر څومره کوښښ وکړو دغه فایل به په کمپیوټر کې پیدا نکړو.

که دغه آپشن ته ټکمارک هم ونه لګوو بیا هم کولی شو یو فایل یا فولډر له کمپیوټر څخه مستقیم ډیلیټ کړو دلاندې شارټکټ په واسطه:

Shift + delete

غوره خبره دا ده چې دغه آپشن باید غیر فعال وي ځکه که یو فایل راڅخه په اشتباه کې هم ډیلیټ نو له کمپیوټر څخه د تل لپاره له منځه ځي.

☐ **Display delete confirmation dialogue**

که دغه ته ټکمارک ولګوو که یو فایل ډیلیټ کوو مونږ ته به یو پیغام راکوي چې آیا ته دغه فایل ډیلیټ کول غواړې که yes ووهو فایل به ډیلیټ شي او که no ووهو فایل به ډیلیټ نشي؛ دغه پیغام په لاندې تصویر کې کتلی شئ:

خو که دغه آپشن ته مو ټکمارک نه وي لګولی که یو فایل ډیلیټ کوو دغه پیغام به راته نه ښي او فایل به مستقیم ډیلیټ کیږي او Recycle bin ته به راځي.



کله چې له USB Drive يا Memory Card يا کمپيوټر څخه زموږ مهم معلومات راڅخه د تل لپاره ډيليټ شي آيا بېرته همدغه مهم معلومات پيداکولی شو؟

هو ددې لپاره يو سافټوير شتون لري چې زموږ ډيليټ شوي معلومات بېرته راپيدا کړي دهغه سافټوير نوم:

Data Recovery Wizard

دغه سافټوير به له انټرنټ څخه ډانلوډ کړو يا هم له بل چا څخه به دغه سافټوير پيدا کړو او په کمپيوټر کې به يې install کړو:

کله چې دغه سافټوير مو نصب کړو په Desktop به يې هم راسره يو آيکن پيدا شي يا هم د Start څخه کولی شو دغه سافټوير باندې Double click وکړو او دغه سافټوير Open کړو:



دلته به په Complete Recovery ايکن باندې کليک وکړو او له صفحه به راته خلاصه شي

دلته به هغه Drive انتخاب کړو چې له کوم څخه زموږ معلومات ډيليټ شوي ؛ که له USB Drive څخه ډيليټ شوي وي USB به له کمپيوټر سره وصل کړو او د نوم به يې وګورو بيا به په دغه صفحه کې USB انتخاب کړو؛ خو اوس زه غواړم له F Drive څخه زما کوم معلومات ډيليټ شوي وي هغه بېرته Recovery کړم دلته به په همدغه F Drive باندې کليک وکړو اوNext به ووهو يوه بله صفحه به راته خلاصه شي.

په همدې صفحه کې Option په نوم يو آيکن ښکاري:

Option به کليک کړو يوه بله صفحه به راته خلاصه شي بيا به RAW باندې کليک وکړو او Maximal file Size دلته مخامخ جدول کې به 9999999999 وليکو او Ok به کليک کړو.

لږ انتظار به وکړو تر څو هغه معلومات راپيدا شي .

دغه فايلونه يې راپيدا کړل او هغه فايلونه چې زمونږ مربوط کيږي او زمونږ خپل معلومات و هغه ته به ټکمارک ولګوو او Next به کليک کړو له دې وروسته به هغه ځای ورته انتخاب کړو چېرته چې مونږ غواړو دغه فايلونه بېرته راشي او Next به کليک کړو نو زمونږ ډيليټ شوي ډېټا به بېرته راشي.

Video Players

کله چې کمپيوټر کې وينډوز نصب کړو د ويډيو د play کولو لپاره بايد مونږ غوره Player نصب کړو چې عبارت دي له:

VLC Media Player, Pot Player, KM Player

خو تر ټولو غوره VLC Player دی اوس غواړو VLC Player نصب کړو:

۱ مرحله :

کمپيوټر به مو چيک کړو چې 32 bit دی که 64 bit

کمپيوټرونه په يو وخت کې د ډېټا د پراسس کولو له مخې په دوه ډوله دي :

A: - 32 bit

چې په يو وخت کې کولی شي 32 bit ډېټا پراسس کړي؛ خو نسبت کمزوري دي.

B: - 64 bit

په يو وخت کې کولی شي 64 bit ډېټا پراسس کړي ؛ قوي کمپيوټرونه دي او چټک کار کوي.

ځنګه معلوم کړو چې زمونږ کمپيوټر 32 bit ده که 64 bit ؟

د کمپيوټر په آيکن به ښي کليک وکړو او Properties ته به راشو يوه صفحه به راته خلاصه شي:



دلته به System types آپشن پيدا کړو او هغه ته مخامخ به وګورو چې 32-bit ده او که 64-bit دلته به راته معلومه شي. چې مخامخ تصوير کې کمپيوټر 64-bit ده.

۲ مرحله:
اوس به له انټرنټ څخه 64-bit VLC Media Player سافټویر ډانلوډ کړو یا کولی شو له بل کمپیوټر څخه یې هم خپل کمپیوټر ته ولیږو.
۳ مرحله:
په سافټویر به Right Click وکړو او Run as administrator به کلیک او وروسته به Yes کلیک کړو؛ یوه صفحه به راته خلاصه شي:
۴ مرحله:

دلته به ژبه انتخاب کړو هره ژبه مو چې خوښه وي هغه انتخابولی شو او Ok به کلیک کړو ؛
دغه Player چې کله install شو بیا به د Player ژبه همدغه ژبه وي کومه مو چې دلته انتخاب کړي ده.



۵ مرحله:

دلته به Next کلیک کړو؛ له دي وروسته بله صفحه راځي هلته به هم Next کلیک کړو بیا بله صفحه راځي
هلته به هم Next کړو.



۶ مرحله:

دلته به Install کړو؛ او لږ صبر به وکړو تر څو installation ترسره شي او آخره کې به Finish ووهو.
دغه Player چې کله هم install شو په کمپیوټر کې به په یوه ویډیو Right Click وکړو او Open With ته به راشو هلته به Choose default Programme... کلیک کړو او VLC Player به کلیک کړو نور لدې وروسته چې هره ویډیو Play کوو په VLC Player کې به یې راته Play کوي.



MS Paint

په Microsoft Windows کې دا MS Paint يو پروګرام دی چې د رسامی کولو لپاره کارول کيږي او د کيمرې په واسطه اخستل شويو تصويرانو کې هم يو څه تغيرات راوستلی شو؛ خو بشپړ تغيرات که غواړو يو تصوير کې راولو بيا Photoshop پروګرام کاروو.

څنګه MS Paint پروګرام Open کړو:

Start→mspaint

Win + R → mspaint

يا به په Start menu خالي ځای کې Right Click وکړو او MS Paint پروګرام به پيدا کړو او کليک به پرې وکړو.



کله چې MS Paint پروګرام Open کړو يوه صفحه به راته خلاصه شي:

دلته مورږ سره پورته ساحه کې ۳ بټنې ښکاري File , Home , View چې دغه هر يو ته Tab وايي لکه File Tab , View Tab , Home Tab





File Tab

د تصويرانو اړوند معلومات پکې وي لکه يو تصوير Open کول په MS Paint کې دغه تصوير Save کول يا هم دغه تصوير چاپول ټول له همدغه ځايه کيږي.

- **New**

مورږ ته يوه بله نوې صفحه راکوي (خالي صفحه).

New Shortcut: Ctrl + N

- **Open**

له دغه ځايه کولی شو يو تصوير په MS Paint پروګرام کي Open کړو او تغيرات پکي راولو.

Open Shortcut: Ctrl + O

- **Save**

که موږ رسامي وکړه غواړو کمپيوټر کي يې وساتو (ثبت يې کړو) دغه آپشن په واسطه يې کولی شو.
کله مو Save کليک کړ لاندي صفحي په شان يوه صفحه راته خلاصيږي:



دلته مو چې کوم ځاي انتخاب کړ تصوير به مو هملته Save شي ؛
او دلته File name: له دغه ځايه کولی شو نوم هم ورته په خپله خوښه انتخاب کړو او آخره کي به Save کليک کړو.

Save Shortcut: Ctrl + S

- **Save as**

کولی شو يو تصوير په ډيرو ځايونو کي په ډيرو نومونو سره ثبت کړو.
فرض کړه موږ يو تصوير کي تغيرات راوستل غواړو د همدي تصوير مخکيني (اصلي) تصوير دي هم پاتي شي او دغه تغيرات مو چې پکي راوستل دغه هم د کمپيوټر په يو فولډر کي ذخيره کړو نو دغسي حالاتو کي له Save as څخه کار اخلو.
خو که دلته مو Save کليک کړ اصلي تصوير کي تغيرات راغلل او هغه مخکيني تصوير له منځه ځي .

Save as Shortcut: F12

- **Print**

کله چې موږ رسامي وکړو غواړو دغه چاپ کړو له دغه آپشن څخه به استفاده کوو خو په دي شرط چې پرنټر به له کمپيوټر سره وصل وي.

- **From Scanner or Camera**

که کمپيوټر سره Scanner يا Camera وصل وي تصوير ورڅخه راولي MS Paint ته.

- **Set as Desktop background**

کومه رسامي چې مونږ وکړه د کمپيوټر په Desktop يې لږوي.

- **Properties**

ددې تصوير په هکله مونږ ته معلومات راکوي.

- **About**

د MS paint په هکله مونږ ته معلومات راکوي.

- **Exit**

MS Paint پروګرام بندوي.

Home Tab

دلته د Paint اصلي وسايل پکې وي لکه برش، پنسل، رنګونه او...
د Home tab په عمومي ډول په ۵ برخو وېشل شوی:



1: Clipboard

د کاپي او past اړوند تنظيمات همدلته کيږي.

- Copy

که يوه ساحه مو انتخاب کړي وي د هغې کاپي اخلي.

Copy Shortcut: Ctrl + C

- Cut

که يوه ساحه مو انتخاب کړي وي هغه کټ کوي له دغه ځايه .

Cut Shortcut: Ctrl + X

- Past

دغه کې دوه آپشنونه دي:

Past:

که يوه ساحه مو کاپي کړي وي هغه Past کوي دلته يې راولي.

Paste from:

له بل تصوير څخه کاپي را اخلي.

Past Shortcut: Ctrl + V

2: Image

- Select

ددې په واسطه کولی شو يوه ساحه انتخاب کړو بيا ددې دننه هم څو آپشنونه شتون لري

a:- Rectangular Selection

چهارکنجه انتخاب کوي.

b:- Free-form selection

د ماوس چپ بټن به زور ونيسو او هره رقم شکل مو چې رسم کړ هماغه ځاي انتخابوي.

c:- Select all

ټول تصوير انتخابوي.

d:- invert selection

که يوه ساحه مو انتخاب کړي وي هغه نه انتخابوي او کومه ساحه مو چې نده انتخاب کړي هغه انتخابوي.

e:- delete

که يوه ساحه مو انتخاب کړي وي هغه ډيليټ کوي.

- **Crop**

که يوه ساحه مو انتخاب کړي وي همدغه انتخاب شوي ساحه پرېږدي او نوره ټوله ساحه ختموي.

- **Resize**

که يوه ساحه مو انتخاب کړي وي د هغې اندازه بدلولی شو



افقي او عمودي ورته اندازه ټاکلی شو او مايل ډول سره هم ورته اندازه ټاکلی شو.

- **Rotate**

ددې په واسطه کولی شو د تصوير زاويه بدله کړو ښي طرف، چپ طرف، چپه او په همدې ډول ورته زاويه بدله کړو.

3: Tools

- ***1: Pencil***

د ماوس له کرسر څخه به د پنسل په ډول کار اخستلی شو کله چې Left button زور ونيسو نو ماوس چې هر طرف ته وړو هماغسي ليکل او رسامي به کيږي.

- ***2: Fill with colour***

که دا انتخاب کړو او هر ډول رنګ مو انتخاب کړی وي او په خاي صفحه کي کليک وکړو دغه رنګ به ټولي صفحي ته ورکړي ؛ يا که يوه دايره مو رسم کړي وي غواړو دغي دايري ته يو رنګ ورکړو نو دغه آپشن به انتخاب او د دايري په منځ کي به کليک وکړو نو دغه رنګ به فقد دغي دايري ته ورکړي.

- ***3: Text***

که دا انتخاب کړو او يوه ځاي کي کليک وکړو هملته کولی شو ليکنه وکړو .
که ليکنه انتخاب کړو نو پورته ساحه کي به د Text tab ښکاره شي.



Fonts

له دغه ځايه کولی شو د ليکنو ډيزاين او اندازه بدله کړو.

- Arial

که دلته هر ډيزاين انتخاب کړو ليکنه به همدغه ډول ډيزاين واخلي.

- 36

له دغه ځايه کولی شو د ليکني اندازه زياته يا کمه کړو.

- **B** **Bold**

کولی شو ليکنه په ډبل سايز کي راولو؛ لکه : **Ahmad**

Bold Shortcut: Ctrl + B

- *I* *Italic*

کولی شو ليکنه لږ کوږ ډول سره راوړو لکه : *Ahmad*

Italic Shortcut: Ctrl + I

- U Underline

کولی شو ليکني لاندي يوه کرښه راولو لکه: Ahmad

Underline shortcut: Ctrl + U

- ~~abc~~

کولی شو ليکني لپاسه کرښه راولو لکه : ~~Ahmad~~

Background

دا ټاکو چې د ليکني شاته بګروند دي د تصوير لپاسه راشي :

Opaque:

که دا انتخاب کړو د ليکني بګروند دي په تصوير لپاسه راشي .

Transparent:

که دا انتخاب کړو فقد ليکنه به د تصوير لپاسه راشي د ليکنې بګروند به په تصوير لپاسه نه راځي.

- ***4: Rubber***

که دغه کليک کړو موږ سره به يو پنسل پاک راکړي چې په واسطه يې موږ کولی شو اضافي ځايونه پاک کړو.

- ***5: Colour Picker***

که دا کليک کړو او په يو رنګ باندې کليک وکړو نو هماغه رنګ به انتخاب شي که ليکنه کوو بيا به په همدې رنګ ليکنه کيږي.

- ***6: Magnifier***

که دا کليک کړو د کرسر سره به يو جدول رابښکاره شي که هر ځاي کې Left Click وکړو هغه ځاي راته رانږدې کوي او که Right click وکړو همدغه ځاي ببرته ليرې کوي.

Brushes

که دا کليک کړو موږ ته برشونه راکوي چې په رسامی کې ترې کار اخستل کيږي.

Shapes

دلته کولی شو مختلف شکلونه رسم او جوړ کړو.

- outline

کولی شو د shape بيرون باډر ته ډيزاينونه له دغه ځايه ورکړو.

Size

دلته کولی شو د Shape لپاره د باډر اندازه يې وټاکو چې باډر يې څومره ډبل يا څومره نری وي.

لکه:

Colours



دلته کولی شو رنګونه د هر څه لپاره وټاکو.

View Tab



دلته کولی شو د انځور د لیدلو تنظیمات وګورو او جوړ کړو.

- Zoom in

کولی شو دغه تصویر رانږدې کړو.

- Zoom out

کولی شو دغه تصویر ښرته لیرې کړو.
دغه Zoom in او Zoom out هم کولی شو چې د MS Paint په صفحه کې ښي طرف لاندې ساحه کې نږدې او لېرې کړو.

- 100%

دغه آپشن تصویر په عادي حالت کې راولي نه غټ او نه کوچنی.

- Rulers

که دلته ټکمارک ولګوو خط کش هم په پورته او هم په چپ خوا کې راته وښيي.

- Gridlines

که دغه ته ټکمارک ولګوو صفحه کې لاندې به سطرونه او ستونونه راښکاره شي تر څو رسامي په دقت وشي.



- Status bar

که دغه ټکمارک کړو د MS Paint پروګرام کې لاندې ساحه کې به د تصویر په اړه معلومات راکوي.

- Full Screen

که دا انتخاب کړو تصویر به راته فول سکرین کې ښيي.

Calculator



د حساب کولو ماشین ده چې په واسطه يې کولی شو ډېر پېچلي عملیې ترسره کړو.
Start ته به راشو او په خالي ځاي کې به يو کليک وکړو All Apps ته به راشو او Calculator به پيدا کړو يو کليک به پرې وکړو.

Win + R →calc

دلته کولی شو هر ډول عملیي ترسره کړو.
دا خو عادي د حساب ماشين دی کله چې View ته راشو د مختلف د حساب ماشينونه به راته وښيي لکه Programmer
Scientific او ... که scientific انتخاب کړو د لاندي تصوير په شان به د حساب ماشين راته چې په مرسته يي کولی
شو د رياضي پرمختللي او پيچلي عملیي ترسره کړو او هم د مثلثاتو او درجو محاسبات پري وکړو:



Snipping tools



دغه اپشن سره کولی شو د کمپيوټر د صفحي سکرين شاټ واخلو.

د خلاصولو طريقه:

Start→snipping tool
Win + R → snippingtool
يا به د Start په صفحه کي Right Click وکړو او All apps ته به راشو Snipping tool به پيدا کړو.
کله مو چې Snipping tool خلاص کړ مور ته به يوه صفحه خلاصه شي:



دلته به New کليک کړو که چېرې د سکرين د يوې ساحې تصوير اخلو فقد هماغه ساحه به انتخاب کړو او که چېرې د ټول سکرين تصوير اخلو ټول سکرين به انتخاب کړو دغه تصوير به راته يوه بله صفحه کي خلاص شي:

اوس که دلته غواړو دغه تصوير Save کړو نو File ته به راشو او Save as به کليک کړو چېرته ته يې Save کول غواړو هماغه ځاي به ورته انتخاب کړو او Save به کليک کړو.

Notepad

يو پروګرام دی (Text editor) په ويندوز کي د ليکلو لپاره کارول کيږي ؛ د کتابونو د ډيزاين او کتابونو د ليکلو لپاره نه کارول کيږي لکه د يو Note د ليکلو لپاره کارول کيږي؛ د کتابچي په ډول دنده ترسره کوي.
Notepad پروګرام پخپله يو Editor همد دی (Website هم پکي جوړولی شو او هم پکي د پروګرامنګ ژبې وکاروو).
د نوټ پيډ د خلاصولو طريقې:

Start→notepad
Win + R →notepad

کله چې Notepad خلاص شي مونږ ته به يوه صفحه رابنکاره شي:



دلته کولی شو ليکنه هم وکړو او هم دليکني ډيزاين او اندازه بدل کړو.

File tab:

- **New**

که دا کليک کړو يوه نوې صفحه به راته خلاصه شي.

- **Open**

کولی شو يو بل notepad فايل خلاص کړو.

- **Save**

کولی شو دغه ليکنه ثبت کړو.

- **Save as**

کولی شو يوه ليکنه په ډېرو نومونو او په زياتو ځايونو کي ذخيزه کړو.

Format tab

- **Font**

له دغه ځايه کولی شو د ليکني ډيزاين بدل کړو.



1: Font

که هر font ډيزاين مو خوښ وي هماغه به انتخاب کړو د ليکني ډيزاين به بدل شي.

2: Font style

د ليکني ډيزاين له دغه ځايه کيږي لکه **Bold** يا *Italic* ليکنه.

3: Size

کولی شو د ليکني اندازه لويه او کوچنی کړو.

4: Sample

کله چې مونږ کوم ډول ديزاين انتخاب کړو دلته يې راته د نمونې په ډول ښيي.

اوس غواړو د Notepad په واسطه داسي فايلونه جوړ کړو چې زموږ کارونه اسانه کړي:

۱ : غواړو د حساب ماشين جوړ کړم چې کليک پرې وکړم د حساب ماشين به راته خلاص کړي؟

Notepad به خلاص کړو او calc به پکې وليکو File ته به راشو او Save ته به راشو کله چې Save مو کليک کړ يوه صفحه به راته خلاصه شي:



File name:

Afghan Calculator.bat يو نوم به ورکړو خو د نوم په آخر کې bat. مهم ده دا بايد پکې وليکو.

Save as type:

دلته به All files انتخاب کړو.

کله مو چې دغه دوه کارونه ترسره کړل په ډيسکټاپ به يې Save کړو ؛ اوس چې کله په دغه آيکن ډبل کليک وکړو موږ ته به د حساب ماشين خلاصوي.

۲ : غواړو د Shutdown لپاره يو بټن جوړه کړم چې کليک پرې وکړم کمپيوټر دې بند شي؟

Shutdown /s /t 0

پورته کوډ به وليکو او Shutdown.bat به د فايل نوم انتخاب کړو او Save as type کې به All files انتخاب کړو.

۳ : غواړو دغسي يو سافټوير جوړ کړو چې هر څه ورته وليکم هغه راته ووايي؟

```
Dim Message, Speak
Message=InputBox("Enter text","Speak")
Set Speak=Createobject("sapi.spvoice")
Speak.Speak Message
```

دغه پوته کوډ به په Notepad کې وليکو او Dic.VBS به نوم ورته ورکړو Save as type کې به All files وټاکو او Save به يې کړو.

کله چې يې Open کړو يو جدول به خلاص شي هلته به ليکنه وکړو او OK به کليک کړو موږ ته به دغه ليکنه ووايي.

۴ : غواړو يو بټن جوړه کړو چې کليک پرې وکړو زموږ کمپيوټر دې Lock شي؟

C:\Windows\System32\rundll32.exe user32.dll,LockWorkStation

پورته کوډ به Notepad کې وليکو او نوم به يې Lock.bat ورکړو او All files به انتخاب کړو کله چې په دغه بټن ډبل کليک وکړو کمپيوټر به Lock شي.

WordPad

په ویندوز کې یو سافټویر دی چې د لیکلو لپاره کارول کیږي؛ خو د notepad په شان بټني پکې نشو جوړولی.
دا لږ پرمختللی سافټویر دی چې کولی شو یو څه اندازه پرمختللی کار د کتاب لیکلو لپاره وکړو.

د WordPad دخلاصولو طریقې:

Start→ WordPad
Win + R → wordpad

کله چې دغه پروګرام خلاص کړو لاندې صفحې په ډول صفحه به راته خلاصه شي:



دلته دري Tabs ښکاري: File , Home , view

File tab

ددې اړوند ټول آپشنونه مو په MS Paint پروګرام کې ویلې دي.

Home tab

دغه tab په عمومي ډول په ۵ برخو وېشل شوی:

1: clipboard

دلته د کاپي کولو، Cut کولو او Past اړوند آپشنونه دي چې مورږ دا په MS Paint کې ویلې دي.

2: Font

دلته د لیکنو اړوند ټول آپشنونه موجود دي؛ دلته مو **Bold** ، *Italic*، Underline ، ~~Strikethrough~~ دا آپشنونه مو په MS Paint پروګرام کې ویلې دي.

- Subscript X_2

دا آپشن د کیمیاوي فارمولو او نورو لیکونو کې استفاده کیږي لکه : H_2O دلته مو 2 د H څخه لږ ښکته ولیکل.

- Superscript X^2

دا آپشن د طاقت د مثالونو لپاره کارول کیږي؛ لکه : $2^3 = 8$ دلته مو 3 د 2 عدد لپاسه د همدې کمانډ په مرسته ولیکل.

- Text highlight colour

کولی شو د لیکنې لاندې رنګ راولو که هر رنګ مو انتخاب کړ هماغه رنګ به د لیکنې لاندې راشي
لکه : افغانستان

- Text colour

کولی شو لیکنې ته رنګ ورکړو.
لکه : افغانستان ، افغانستان ، افغانستان ، افغانستان ، افغانستان او ...

3: Paragraph

- Decrease indent

د ماوس کرسر لږ چپ خواته راوړي چې لیکنه به بیا له همدغه د کرسر له ځای څخه شروع کیږي.

- Increase indent

کولی شو د ماوس کرسر لږ ښي خواته راوړو او لیکنه له همدغه ځایه شروع کړو.

- Align text left (Ctrl + L)

لیکنه دي له چپ خوا څخه ترسره کیږي د انګلیسي لیکنو لپاره همدا ښه انتخاب دی.

- Center (Ctrl + E)

لیکنه د ورقې له منځ څخه کولی شو یا که یوه لیکنه مو انتخاب کړې وي هغه د ورقې منځ ته راوړي.

- Align text right (Ctrl + R)

که دا کلیک کړو لکنه به له ښي خوا څخه لیکل کیږي او که کومه لیکنه مو انتخاب کړې وي هغه د ورقې ښي خواته راوړي.

- Justify (Ctrl + J)

که لیکنه مخکې او وروسته شوې وي هغه منظموي لکه : هر قطار به له یوې اندازې څخه شروع کیږي.

- Start a list

کولی شو یو څه د لیست په ډول ذکر کړو لکه پورته چې ما دغه ډول علامې کارولې دي.

- Line Spacing

د قطارونو ترمنځ فاصله انتخابولی شو ؛ کولی شو ډېره یا لږ فاصله انتخاب کړو.

4: insert

له دغه ځایه کولی شو تصویران یا وخت او نېټه یا هم رسامي له لیکنې سر اضافه کړو.

- Picture

کولی شو تصویر له لیکنې سره اضافه کړو.

- Paint drawing

کولی شو MS Paint کې یوه رسامي وکړو او دلته یې راولو.

- Date and time

کولی شو وخت او نېټه له خپلې لیکنې سره یو ځای کړو.

- Insert object

کولی شو د یو پروګرام آبجکټ همدلته خلاص کړو چې کلیک پرې وکړو همدغه پروګرام راته خلاصوي.

5: Editing

- Find

که دا آپشن کلیک کړو موږ ته یوه صفحه خلاصوي که موږ هلته یو لغت ولیکو هغه راته پیدا کوي.

- Replace

که چېرته موږ ۵۰ ځلي د احمد نوم لیکلی وي او غواړو د احمد د نوم په ځای خان ولیکو آیا دغه ۵۰ ځلي د احمد نوم به ټول پاکوو او په ځای به یې د خان نوم لیکو که داسې کوو یو خو وخت ضایع کیږي او بل دا کار ډېر سخت دی؟

که موږ ۵۰ ځلي د احمد نوم لیکلی وي غواړو دغه ۵۰ ټولو ځایونو کې دي د احمد د نوم پرځای د خان نوم راشي دغه آپشن به کلیک کړو:

Find what: دلته به د احمد نوم ولیکو.



Replace with:

دلته به د خان نوم وليکو او Replace all به کليک کړو نو ۵۰ ځلي د احمد د نوم پر ځاي به د خان نوم راشي.

- Select all

که دا کليک کړو ټوله ليکنه به انتخاب شي.

Sound Recorder

دغه آپشن په واسطه کولی شو غږ ثبت کړو؛ په دې شرط غږ ثبتوي چې Mice زمونږ کمپيوټر بايد ولري که مايک ونلري بيا غږ نه ثبتوي.



د Open کولو طريقه يې:

Start→sound recorder

Win + R →soundrecorder

کله چې دا خلاص کړو نو لاندې صفحې په ډول صفحه به راته خلاصه شي:



که غواړو ثبت شروع کړو Start Recording به کليک کړو ثبت به شروع شي.

که غږ مو ثبت کړ غواړو ريکارډ ودروو Stop Recording به کليک کړو :



کله چې Stop Recording کړو يوه بله صفحه به راته خلاصه شي :

چېرته چې مو خوښه وي هلته به يې Save کړو.



Sticky notes

دا آپشن د نوټ او يادښت لپاره کاروو.

د خلاصولو طريقه :

Start→ sticky notes

کله چې دا Open کړو د صفحې په مخ به يو کوچنی د نوټ صفحه موږ ته ښکاره شي چې په واسطه به يې موږ کولی شو نوټ پکې وليکو.





Run

Run د ويندوز له مهمو پروګرامونو څخه دی چې د پروګرامونو او سيستمي وسايلو د چټک خلاصولو لپاره کارول کيږي او زموږ وخت نه ضايع کوي.

د Run دخلاصولو طريقې:

Windows + R

Start →run

کله چې د Run پروګرام Open کړو يوه صفحه به راته خلاصه شي؛ که هر پروګرام open کول غواړو دلته به يې وليکو او Enter به ووهو هغه پروګرام به راته خلاص شي.



د Run مهم کمانډونه:

notepad

نوټ پيډ خلاصوي

calc

د حساب ماشين خلاصوي

mspaint

د MS Paint پروګرام خلاصوي.

cmd

Command prompt خلاصوي.

explorer

file explorer يا د کمپيوټر آيکن خلاصوي.

control

کنټرول پينل خلاصوي.

taskmgr

Task manager خلاصوي؛ چې مور کتلی شو وګورو کوم پروګرامونو باندې CPU همدا اوس حالت کې پراسس کوي.

regedit

Registry editor خلاصوي؛ د کمپيوټر په تنظيماتو کې هر ډول تغيرات راوستلی شو له دغه ځايه(که چېرې څوک مسلکي او پوه نه وي بايد دلته تغيرات ترسره نه کړي ځکه د ويندوز د ختمېدو چانس هم بيا شتون لري).

osk

د سکرين په مخ مور ته يو کيبورډ خلاصوي.

magnify

Magnifier خلاصوي چې په مرسته يې د کمپيوټر سکرين رانږدې کولی شو.

څنګه کولی شو خپل کمپيوټر له وای فای سره وصل کړو؟

ددې لپاره چې کمپيوټر کې انټرنټ استفاده کړو لومړی بايد Browser انسټال کړو لکه Chrome يا Firefox چې د Browser په واسطه کولی شو په انټرنټ کې يو څه سرچ کړو.

که غواړو وای فای سره وصل شو:

لومړی شرط دادی چې زمور کمپيوټر بايد wireless NIC کارت ولري که چېرې Wireless NIC کارت ونلري د وای فای سره هيڅ نشو وصليدلی

که غواړو معلوم کړو چې زمور کمپيوټر Wireless NIC کارت لري که نه:

Control panel→Network and sharing Center→Change Adapter Settings

دلته که کليک وکړو يوه صفحه به راته خلاصه شي که Wi-Fi يکې شتون درلود بيا دغه کمپيوټر له وای فای سره وصليدی شي که Wi-Fi آيکن يکې شتون نه درلود بيا دغه کمپيوټر له وای فای سه نشي وصليدی:



کله چې دغه آپشن موجود و اوس مور کولی شو وای فای سره وصل شو.

په notification area کې به په نښه کليک وکړو زمور شاوخوا ټولې وای فای به سرچ کړي:



که هر وای فای زمور وي هغه به کليک کړو پاسورډ به راڅخه وغواړي.



اوس به د وای فای پاسورډ دلته ولیکو:

کله مو چې پاسورډ داخل کړ Next به کلیک کړو وصل به شو وای فای سره.
نوټ: د بل چا وای فای سره وصلېدل بیدون له اجازې غیر قانوني کار دی او حتی په ځینو هیوادونو کې لوی جرم ګڼل کیږي.

کله چې وای فای سره وصل کمپیوټر وصل شو Chrome یا Firefox به Open کړو د هر څخه په هکله چې معلومات غواړو هغه به په Search box کې ولیکو:



CMD



د خلاصولو طریقې:

Run →cmd
Start→cmd

موږ کمپیوټر په دوه طریقو کارولی شو cmd او GUI .

GUI (Graphical User Interface)

فرض کړه موږ یو فولډر جوړوو Right Click→New→Folder دلته کلیک کوو بیا د فولډر نوم انتخابوو نو کله چې بېې کلیک کوو یا په کمپیوټر کې چې هر ډول آیکنونه وینو دا ټول ګرافیک دي .

CMD (command prompt)

دلته ګرافیک نشته فقد توره صفحه ده او لیکل پکې کیږي چې له همدغه ځایه هم کولی شو په کمپیوټر کې فولډر جوړ کړو ، له وای فای سره وصل شو د حساب ماشین راوړو ، د کمپیوټر اړوند معلومات وګورو او نور هر ډول کار له دغه ځایه کولی شو.
لومړني کمپیوټرونه ټول د cmd په شان کاربدل هیڅ ډول ګرافیک پکې شتون نه درلود.

د cmd لومړی صفحه:



څنګه په Cmd کې خپل موقعیت تغیرولی شو؟

که مور cdm خلاص کړو عادي حالت کې مور په C:\Users\Ezatullahmirza فولډر کې زمور موقعیت ده ؛ که هر فولډر جوړوو یو فایل ډیلیټ کوو زمور دغه تغیرات به په C Drive کې دننه یو فولډر Users په نوم هغه کې دننه یو فولډر Ezatullahmirza په نوم نو زمور ټول تغیرات به دلته ترسره کیږي؛ خو که غواړو د Ezatullahmirza فولډر دننه یو بل فولډر د Desktop په نوم ده هغه ده داخل شو cd desktop به لیکو او که غواړو د Ezatullahmirza فولډر څخه ووځو شاته د Users فولډر ته راشو ..cd به ولیکو او Enter به کړو.

که د یو فولډر دننه ځو: cd Foldername

که د یو فولډر څخه ووځو: ..cd

که غواړو دوه فولډره شاته لاړ شو: ../..cd

که غواړو D drive یا بل drive ته لاړشو: D: \

۱ : غواړو د cmd په واسطه یو فولډر جوړ کړو؟

که دلته وګورو زمور اوسنی موقعیت C:\Users\Ezatullahmirza> دغه فولډر کې دی نو که غواړو دلته یو فولډر جوړ کړو md Khan به ولیکو او Enter به ووهو نو په دغه ساحه کې به راته د Khan په نوم یو فولډر جوړ شي cd معنا make directory معنا مور کمپیوټر ته وویل یو فولډر راته جوړ کړه له cd وروسته مو د فولډر نوم انتخاب کړ Khan نو کمپیوټر به مور ته یو فولډر جوړ کړي.

که غواړو د ډیسکټاپ په مخ فولډر جوړ کړو:

C:\Users\Ezatullahmirza> زمور اوسنی موقعیت دلته دی نو د Ezatullahmirza فولډر دننه یو بل فولډر دی Desktop چې هغه د کمپیوټر صفحه ده غواړو د Desktop فولډر ته داخل شو تر څو هلته یو بل فولډر جوړ کړو لومړی به دلته cd desktop ولیکو نو زمور موقعیت به په دغه شکل شي

C:\users\Ezatullahmirza\Desktop> اوس که دلته فولډر جوړ کړو په ډیسکټاپ به مور سره یو فولډر جوړ شي.

۲ : غواړو یو فولډر ډیلیټ کړو؟

لومړی به ددې فولډر موقعیت ته ځان ورسوو وروسته به rd Khan ولیکو چې دلته Khan د فولډر نوم دی چې هر فولډر ډیلیټ کول غواړو د هماغه نوم به ولیکو او Enter به ووهو فولډر به ډیلیټ شي.

۳ : که غواړو یو فایل ډیلیټ کړو؟

لومړی خو به هماغه فولډر ته ځان ورسوو:

بيا به "del "Khan.png ليکو چې له Khan څخه وروسته png. معنا دا يو تصوير ده او زه يې ډيليټ کوم که ويډيو وي د ويډيو له نوم وروسته به mp4. ليکو که هر ډول فايل وي د فايل نوم ورسته به extension يې ليکو.
خو که په دې طريقه يو فايل ډيليټ کړو نو عموماً Recycle bin ته نه ځي او مستقيم ډيليټ کيږي .

د Cmd مهم کمانډونه او دندې يې:

calc

د حساب ماشين راته خلاصوي.

dir

په کوم فولډر کې چې زمونږ موقعيت وي په دې فولډر کې څومره فايلونه وي هغه راته ښيي

cd

فولډر بدلوي

cd..

يو فولډر شاته ځي

cls

که مونږ cmd کې ډېر کارونه کړي وي هغه ټول پاکوي او له پيله راته خالي صفحه راکوي.

del

فايل خذفوي

tree

د فولډرونو جوړښت ښيي.

tasklist

اوس چې کوم کارونه د cpu په واسطه پروسيس کيږي هغه ښيي.

shutdown

کمپيوټر بندوي.

Shutdown /r /t /0

کمپيوټر Restart کوي.

chkdsk

هارډډيسک چيک کوي چې کومه ستونزه خو به نه لري.

help

د کمانډونو مرسته ښيي چې کوم کمانډ د کوم کار لپاره دی.

exit

له cmd څخه وتل.

د cmd په مرسته د User Account جوړول:

لومړی به cmd په Start کې وليکو او right click به پرې وکړ Run as Administrator به کليک کړو

net user ahmad 1234 /add

دلته ahmad د اکاونټ نوم او 1234 د اکاونټ پاسورډ دی نو يو اکاونټ مو جوړ کړ.

net user

موجوده یوزران کتل چې څو Users په کمپیوټر کې موجود دي.

net user ahmad 3378

د یو یوزر پاسورډ بدلول.

net localgroup Administrators ahmad /add

د یوزر نوعیت Administrator کول.

net user ahmad /delete

یو یوزر ډیلیټ کول.

د USB Drive د فارمټ کولو طریقې

د USB فارمټ کول ټول معلومات (فایلونه، عکسونه، ویډیو ګانې او...) دا ټول پاکوي.
یا د USB فایل سیستم لکه (NTFS, FAT32, exFAT) له سره جوړوي.
که USB ځیني سافټویري ستونزې ولري له فارمټ کولو سره له منځه ځي.
مخکې له دې چې USB فارمټ کړو باید خپل معلومات یو بل Drive ته ولیږو.

مورږ په دوه طریقو کولی شو یو USB Drive فارمټ کړو:

الف:- د cmd په واسطه

ب:- په ګرافیکي ډول

الف:

څنګه کولی شو یو USB Drive د Cmd له لارې فارمټ کړو؟

هغه USB drives یا Memory Cards چې د ویروس له وجې خراب شوي وي او په فزیکي ډول خراب نه وي په دې طریقه هم یو څه امکان ولري چې جوړ شي یا کېدای شي بیخي جوړ نشي په دې طریقه:

Win + R →cmd

diskpart

اوس به لږ صبر وکړو کله چې <DISKPART رابنکاره شو بیا به لاندې کمانډ ولیکو:

List disk

```
  Disk ###  Status         Size     Free     Dyn  Gpt
  --------  -------------  -------  -------  ---  ---
  Disk 0    Online          298 GB  1024 KB
  Disk 1    Online           58 GB      0 B
  Disk 2    Online         7680 MB      0 B

DISKPART>
```

مورږ ته به د هغو ډرایونو لیست وښیي چې د کمپیوټر سره وصل دي چې عموماً drive 0 د کمپیوټر وي خو دلته به مورږ هغه drive انتخابوو چې کوم خراب وي که له کمپیوټر سره نور ډرایونه وصل وي هغه به هم دغه لیست کې راته وښیي خو دلته به مورږ وګورو چې خراب ډرایو یا USB کوم یو ده د حافظې د اندازې له مخې یې هم معلومولی شو چې کوم نمبر دغه خراب USB ده مثلاً که 8GB وي نو دلته پورته لیست کې که وګورو په Size ساحه کې 7680MB دریم نمبر ډرایو ده چې همدغه نمبر USB خراب ده ځکه زه له مخکې څخه خبر یم چې ماسره یو USB 8GB ده او دا خرابه ده نو دلته به disk 2 زه انتخابوم:

Select disk 2
Clean
Create partition primary
Select partition 1
active
Format fs=ntfs quick

کله چې 100% پوره شو بيا به assign وليکو او Enter به ووهو او USB به فارمټ شي.

ب:-

څنګه کولی شو USB drive په ګرافيکي طريقه فارمټ کړو؟



په مخامخ شکل کي دوه جدولونه ښکاري چې پورته جدول کي د کمپيوټر دننه د هارډيسک ډروايونه ښکاري او ښکته جدول کي بيروني وصل شوي ډرايونه ښکاري چې Removable disk(H:) يو بيرونی USB Drive دی غواړو دغه فارمټ کړو.

۱: مرحله

په USB Drive به ښي کليک وکړو:



دلته به په ...Format کليک وکړو

۲: مرحله



File system:

دلته به NTFS انتخاب کړو.

Allocation unit size:

دلته به 4096 bytes انتخاب کړو.

Volume label:

دا آپشن اختياري دی کولی شو دلته د USB لپاره نوم هم ورکړو.

Quick Format:

دلته به ټکمارک ولګوو ترڅو فارمټ په چټکی سره وشي.

Restore device default:

که دا کليک کړو نو USB به عادي حالت کي فارمټ شي کوم ډول نوعيت چي لري؛ خو دا زياتره وخت نه کاروو ځکه کېداى شي د USB فايل سيستم FAT32 وي او دغه فايل سيستم له 4GB لوى فايل ځان سره نشي ساتلى.

Start:

کله چې دغه آپشن کليک کړو يوه له صفحه به خلاصه شي.

دا د خبرداري پيغام دى چې وايي که ته USB فارمټ کړي ستا ټول معلومات به له منځه لاړ شي که Cancel کليک کړو USB به فارمټ نشي او که OK کليک کړو USB فارمټ به شروع شي.



کله چې USB په مکمل ډول فارمټ شي د لاندي تصوير په شان پيغام به راشي:



که دا ډول پيغام يې راکړ نو USB په مکمل ډول فارمټ شوه.

د کيبورډ شارټکټونه او پېژندنه



د کيبورډ بټنې په ۶ برخو وېشل شوي دي:

1: Function Keys (F1 – F12)

د ځانګړو دندو لپاره دي.

2: Alphanumeric / Typing keys

حروف ، شمېرې او ليکنې يې په واسطه ليکلى شو.

3: Control / modifier keys

په يواځې ځان کوم کار نشي ترسره کولى له نورو بټنو سره يو ځاي کار کوي مثالونه يې Ctrl , Alt, Shift, Windows

4: Navigation keys

چې هره يوه ځانګړې دنده ترسره کوي. Arrow Keys, Home, End, Page up, Page Down

5: Numeric Keys

د ښي لورې عددي بټنې چې عموماً د Calculator په شکل استفاده کيږي.

6: Special Keys

دا هم ځانګړي دندې ترسره کوي : Esc, Print Screen, Scroll Lock

F1	Help	د مرستې سیستم خلاصوي او د پروګرام معلومات ښیي.
F2	Rename	د انتخاب شوي فایل یا فولډر نوم بدلوي.
F3	Search	د فایلونو او معلوماتو لټون لپاره کارول کېږي.
F4	Address Bar	د File Explorer ادرس بار فعالوي.
F5	Refresh	صفحه تازه کوي او نوي معلومات ښکاره کوي.
F6	Navigation	د کړکیو یا برخو ترمنځ حرکت کوي.
F7	Spelling Check	په ځینو پروګرامونو کې د املا کتنه کوي.
F8	Boot Menu	د کمپیوټر د شروع پر مهال ځانګړي انتخابونه ښیي.
F9	Refresh/Update	په ځینو پروګرامونو کې د تازه کولو لپاره کارول کېږي.
F10	Menu Bar	د menu bar فعالوي.
F11	Full Screen	کړکۍ په بشپړ سکرین بدلوي.
F12	Save As	د فایل په بل نوم او بل ځای کې ثبتولو لپاره کارول کېږي.
Ctrl + A	Select All	ټول متن یا فایلونه انتخابوي.
Ctrl + B	Bold	متن غټ او تور کوي.(Bold)
Ctrl + C	Copy	انتخاب شوی متن یا فایل کاپي کوي.
Ctrl + D	Font Settings	په ځینو پروګرامونو کې د فونټ سیټنګونه خلاصوي او که کوم فایل مو انتخاب کړی وي هغه هم ډیلیټ کولی شي.
Ctrl + E	Center Align	متن منځ ته برابروي.
Ctrl + F	Find	د کلمو او متن لټون کوي.
Ctrl + G	Go To	ځانګړي صفحې یا ځای ته تګ کوي.
Ctrl + H	Replace	متن بدلوي.(Find & Replace)
Ctrl + I	Italic	متن کږوي.
Ctrl + J	Justify	متن دواړو خواوو ته برابر کوي.
Ctrl + K	Insert Link	د لینک داخلولو لپاره کارول کېږي.
Ctrl + L	Left Align	متن چپ لوري ته برابروي.
Ctrl + M	Indent	متن داخل لور ته وړي.
Ctrl + N	New	نوی فایل یا کړکۍ جوړوي.
Ctrl + O	Open	موجود فایل خلاصوي.
Ctrl + P	Print	د چاپ لپاره کارول کېږي.

Ctrl + Q	Remove Paragraph Formatting	پاراګراف ساده کوي.
Ctrl + R	Right Align	متن ښي لوري ته برابروي.
Ctrl + S	Save	فايل ثبتوي.
Ctrl + T	Hanging Indent	په ځينو پروګرامونو کي ځانګړی Indent جوړوي.
Ctrl + U	Underline	د متن لاندي کربنه راولي.
Ctrl + V	Paste	کاپي يا cut شوی مواد چسپ کوي.
Ctrl + W	Close Tab/Window	کړکی يا tab بندوي.
Ctrl + X	Cut	متن يا فايل پري کوي او انتقالوي.
Ctrl + Y	Redo	لغوه شوی عمل بيا کوي.
Ctrl + Z	Undo	وروستی عمل بيرته لغوه کوي.
Windows + D	Show Desktop	ټولي خلاصي کړکی Minimize کوي او Desktopښکاره کوي. د بيا فشارولو په صورت کي پخوانی کړکی بيرته راولي.
Windows + E	File Explorer	د فايلونو او فولډرونو د مديريت لپاره File Explorerخلاصوي.
Windows + F	Search Files	د فايلونو، فولډرونو او معلوماتو د لټون کړکی خلاصوي.
Windows + I	Settings	د Windows د Settings کړکی خلاصوي ترڅو د کمپيوټر امستني بدلي شي.
Windows + L	Lock Computer	کمپيوټر قلف کوي ترڅو بل څوک ستاسي معلوماتو ته لاسرسی ونه لري.
Windows + M	Minimize All Windows	ټولي خلاصي کړکی کوچنی (Minimize) کوي.
Windows + R	Run Command	د Run کړکی خلاصوي چې د پروګرامونو او قوماندوګانو د اجرا لپاره کارول کيږي.
Windows + S	Search	د Windows عمومي لټون خلاصوي.
Windows + T	Taskbar Navigation	د Taskbar پروګرامونو ترمنځ حرکت کوي.
Windows + U	Ease of Access	د ځانګړو اړتياوو لپاره د لاسرسي آسانتياوې خلاصوي.
Windows + X	Power User Menu	د مديريت او سيستم مهم انتخابونه ښکاره کوي.
Windows +	Tab Task View	ټولي خلاصي کړکی اوVirtual Desktop ونه ښکاره کوي.
Windows + Pause/Break	System Properties	د کمپيوټر تخنيکي معلومات او System Propertiesښکاره کوي.
Windows + Home	Minimize Others	له فعالي کړکی پرته نوري ټولي کړکی Minimizeکوي.

Windows + Left Arrow	Snap Left	فعاله کړکۍ د سکرين چپ لوري ته نيمه برابروي.
Windows + Right Arrow	Snap Right	فعاله کړکۍ د سکرين ښي لوري ته نيمه برابروي.
Windows + Up Arrow	Maximize	فعاله کړکۍ بشپړه غټوي.
Windows + Down Arrow	Minimize/Restore	فعاله کړکۍ کوچنۍ يا عادي حالت ته راولي.
Ctrl + Shift + Esc	Task Manager	Task Manager مستقيم خلاصوي ترڅو روان پروګرامونه او پروسې مديريت شي.
Ctrl + Alt + Delete	Security Options	امنيتي انتخابونه لکهLock ، Sign Outاو Task Managerښکاره کوي.
Alt + Esc	Switch Windows	د خلاصو کړکيو ترمنځ په ترتيب حرکت کوي.
Alt + Space	Window Menu	د فعالي کړکۍ ځانګړی Menu خلاصوي.
Backspace Go Back		په File Explorer کې مخکينۍ کړکۍ يا فولډر ته ستنېږي.
Delete	Delete Item	انتخاب شوی فايل يا فولډر Recycle Bin ته لېږي.
Enter	Open Item	انتخاب شوی فايل، فولډر يا پروګرام خلاصوي.
Esc	Cancel Action	روان عمل لغوه کوي يا پرانيستی Menu بندوي.
Ctrl + Mouse Wheel	Zoom In/Out	د متن، انځور يا پاڼې اندازه لويه يا کوچنۍ کوي.
Shift + F10	Context Menu	د Mouse د Right Click Menu پرانيزي.
Ctrl + Shift + N	New Folder	په File Explorer کې نوی فولډر جوړوي.
Alt + Enter	File Properties	د فايل يا فولډر بشپړ معلومات او ځانګړني ښکاره کوي.
Ctrl + Double Click	Open in New Window	ځيني فولډرونه يا برخې په نوې کړکۍ کې خلاصوي.

Control panel

کنټرول پینل د کمپیوټر ټول setting او تنظیمات له دغه ځایه څخه کولی شو.

د کنټرول پینل د خلاصولو طریقې

1: Win+R (Run)→control or control panel

2: Click on Desktop icon (Control panel)

3: Start write control



Control pane→Mouse



دغه آپشن سره د ماوس ټول تنظیمات جوړولی شو.

د ماوس د سیټینګ د خلاصولو طریقې:

۱ : د کنټرول پینل څخه

۲: Run→main.cpl

۳: Run→control mouse

دغه نومونه پواینټر ته اخلي: Mouse pointer or Mouse Cursor

دلته پورته ساحه کې ۴ بټنې لیدل کیږي چې لومړی د Buttons څخه شروع کوو

1 *Switch primary key and secondary buttons*

که دغه ته ټکمارک ولګوو نو بنې کلیک به د چپ کلیک په ځای کار شروع

کړي او چپ کليک به د بني کليک په ځای کار شروع کړي د چپ لاسو انسانانو

لپاره ښه دی.

***2** Double-click speed*

دغه آپشن د ډبل کليک سرعت ښيي که fast يي کړو نو که يو فولډر خلاصوو نو بايد ډېر ژر ډبل کليک وکړو تر څو فولډر يا ايکن خلاص کړي او که سرعت يي کم کړو نو که لږ ورو هم ډبل کليک وکړو نو فولډر يا آيکن به خلاصوي.

***3** Turn on click Lock*

د پورته آپشن په واسطه کولی شو چې آيکن د يو ځای نه بل ځای کش کوو نو که موس نه ګوته جګه کړو بيا به هم آيکن د کش په حالت کي وي .

Pointers



دغه آپشن په واسطه کولی شو د ماوس pointer بدل کړو.

دغه لومړي بکس کي کولی شو چې pointer بدل کړو.

Browse

دلته نور اضافي Pointer شکلونه راوستلی شو.

Use Default

که دا انتخاب کړو او apply يي کړو نو عادي pointer به راشي.

Enable Pointer Shadow

که دغه ته ټکمارک ولګوو د Pointer لاندي به يو ډول سيوری وي ورسره.

Pointer Options



Select pointer speed

ددي په واسطه د pointer سرعت زياتوو او کموو.

Enhance Pointer precision

که دلته ټکمارک ولګوو ماوس به د لاس د حرکت سرعت ته ګوري که لاس ډېر ژر وخوځوو نو کرسر به هم ډېر ليري ولاړ شي او که ټکمارک ورځخه ليري کړو نو ماوس به ثابت حرکت کوي.

ټکمارک بايد هغه حالت کي ولګوو کله چې عادي کارونه کوو او که رسامي کوو بايد ټکمارک ورځخه ليري کړو.

Snap to

که دلته ټکمارک ورته ولګوو نو که يوه مينيو خلاصه کړو او هغه مينيو کي د OK بټن وي نو د ماوس Pointer اتومات په هماغه OK بټن باندي راځي.

Display pointers trail

دا د ماوس pointer ته لکی ورکوي.

Hide Pointer while Typing

کله چې ليکل کوي نو د ماوس pointer دي نه بنکاري.

Show location of pointer when I press the CTRL Key

که دغه ته ټکمارک ولګوو نو کله چې Ctrl بټن ووهو نو د ماوس موقعيت راته بنيي.



Hardware:

دا موږ ته د فزيکل ماوس په هکله معلومات راکوي چې موږ څه ډول ماوس وصل کړی او کوم ډول ماوس څخه استفاده کوو.



Control panel → Date and time

دلته کولی شو وخت او نېټه تنظيم کړو.

Change date and time…

دلته کولی شو وخت او نېټه کي تغيرات راولو.

Change time zone…

دلته د وخت ځای بدلولی شو يعني د کوم ښار وخت چې د خپل کمپيوټر لپاره ټاکي له دي ځايه به هماغه ښار انتخاب کړي .

Additional Clocks

له دغه ځايه کولی شو نور ساعتونه هم راولو يعني په يو وخت کې

راته د څو ښارونو وخت راته ښيي.

Internet Time : که انټرنټ سره وصل يو نو اتومات به زمونږ وخت اونښته تنظيميږي د دغه أپشن په واسطه.

Control panel→Keyboard



دغه اپشن مونږ ته د کيبورډ په هکله معلومات راکوي.

Repeat delay:

که دغه آپشن سرعت زيات کړو نو کله چې مونږ د کيبورډ يو بټن پريس ونيسو نو بيدون لدې چې وخت ونيسي ډېر ژر د هماغې بټنې ليکنه په تکرار ډول راځي او که ورو يې کړو نو بيا به لږ وخت نيسي.

Repeat rate:

که دغه آپشن سرعت زيات کړو نو که يو بټن پريس ونيسو د هماغې بټنې توری به په مسلسل ډول تکرارېږي او که سرعت يې کم کړو هماغه توری يا عدد به په کرار ډول تکرارېږي .

Cursor blank rate:

که دلته سرعت زيات کړو نو هغه کرسر به ژر ژر بنديږي او لګيږي او که سرعت يې کم کړو نو لږ وخت بعد به هغه کرسر لګيږي او بنديږي.

Hardware:

مونږ ته د فزيکل کيبورډ په هکله معلومات راکوي چې کوم ډول کيبورډ له کمپيوټر سره وصل ده.

Control panel→Taskbar



دلته د ټاسکبار اړوند ټول تنظيمات کولی شو.

Lock the taskbar

که دلته ټکمارک ولګوو نو ټاسکبار به لاک شي په دي معنا چې د ماوس د کرسر په واسطه به يې يو خوا او بله خوا نشو انتقالولی او که ټکمارک ور څخه ليرې کړو نو د ماوس د کرسر په واسطه به يې ښي خوا، چپ خوا، پورته او ښکته کولی شو.

Auto-hide the taskbar

که دي ته ټکمارک ولګوو نو ټاسکبار به اتومات پټ شي خو که د ماوس پوانټر په ټاسکبار راولو نو بيا به راته ټاسکبار وښيي .

Use small taskbar buttons: که غه آپشن ته ټکمارک ولګوو نو د ټاسکبار بټني راته کوچنۍ ښکاره کوي.

Taskbar location on screen:

دلته د ټاسکبار موقعيت معلومولی شو که Bottom انتخاب کړو نو ټاسکبار به د سکرين په لاندي برخه کې راته ښيي، که Left واخلو چپ خواته ، که Right واخلو ښي خواته ، که Top واخلو نو ټاسکبار به پورته خوا کې د سکرين راته ښيي.

Taskbar buttons:



دلته د ټاسکبار د بټنو تنظيمات کولی شو:

- Always combine , hide label

که دا انتخاب کړو نو د هر فارمټ فايل لپاره به يوه بټن په ټاسکبار کې وي او که د هماغه فارمټ نور فايلونه خلاص کړو نو هماغه نور ټول فايلونه به راته په هماغه يو بټن کې ښيي لکه لاندي شکل:

دلته په MS word پروګرام کې څو نور فايلونه خلاص شوي خو ټول په يو بټن کې ښيي.

- Combine when taskbar is full:

دغه آپشن که انتخاب کړو نو که هماغه يو فارمټ کي نور فايلونه خلاص کړو نو د هغي لپاره هم راته بيله بټن جوړوي تر هغي پوري چي کله ټاسکبار ډک شي نو بيا به ټول په يو بټن کي خلاصيږي .

نو اوس که وګورو د په هماغه يو MS Word فارمټ کي مو نور فايلونه خلاص کړي خو بيل بيل بټن ورته جوړه شوه دا به تر هغي پوري بيل بيل بټن کي وي کله چي ټاسکبار ډک شي کله چي ټاسکبار ډک شو نو بيا به د مخکيني په شان ټول په يو بټن کي يو ځای کيږي.

- Never combine: که دا انتخاب کړو نو هيڅکله به يي نه يو ځاي کوي هر يو فايل به په بيل بيل بټن کي خلاصيږي.
- Notification area:

دلته د notification area لپاره تنظيمات کولی شو چي د کوم څه پيغام دي راته وښيي او د کوم څه پيغام دي راته ونه ښيي ؛ که دلته ...customise باندي کليک وکړو لاندي صفحه به راته خلاصه شي:



دلته فقد د خبرداری اړوند تنظيمات کيږي لکه د بلوتوت،چارجر،USB،غږ او...

دلته په د هر ايکن لپاره ۳ آپشنونه شتون لري:

1: Show icon and notifications

که دا انتخاب کړو د آيکن به هم ښيي او د آيکن اړوند notification به هم ښيي.

2: Hide icon and notifications

که دا انتخاب کړو نو نه به راته آيکن ښيي او نه به راته notification ښيي.

3: Only show notifications

که دا انتخاب کړو نو فقد به راته notification ښيي آيکن به راته نه ښيي.

☐ Use peek to preview the desktop when you move your mouse to the show desktop button at the end of the taskbar

که دغه آپشن ته ټکمارک ولګوو نو که موږ د کمپيوټر په هر ځاي کې يو نو د ماوس کرسر چې د ټاسکبار ښي طرف اخري کونج ته يوسو موږ ته به د ډيسکټاپ صفحه ويې او که همدلته کليک وکړو نو مستقيم به موږ د ډيسکټاپ صفحې ته بوځي.

Jump Lists

Store recently opened programs

که دلته ټکمارک ولګوو نو هغه پروګرامونه چې موږ يې هره ورځ استعمالوو په Start menu کې به په لومړي قطار کې همدغه پروګرامونه راته ښيي.

Store and display recently opened items in jump Lists

که دا ټکمارک کړو او که MS Word پروګرام مو خلاص کړی وي نو که په همدې پروګرام په ټاسکبار کې ښي کليک کړو هغه وړ فايلونه چې موږ په ورستيو کې کارولي وي د هغې ليست به راته وښيي.





Toolbars

Address:

که دلته ټکمارک ولګوو نو په انټرنټ کې د سرچ لپاره به یو بټن موږ سره د ټاسکبار په ښي خوا کې جوړه شي که موږ سره انټرنټ وي هر څه چې پکې سرچ کړو هغه موږ ته پیدا کوي .

Links

که دلته ټکمارک ولګوو نو د ټاسکبار په ښي خوا کې به د Links په نوم بټن جوړه شي خو دا بټن به په عادي حالت کې کار نکوي ؛ دا بټن ددې لپاره ده چې په اسانی سره یو فایل خلاص کړو نو د ډیسکټاپ څخه به یو فایل د ماوس په واسطه راکش کړو او په Links بټن لپاسه به يې خوشې کړو بیا به د Links په بټن << دغسې دوه علامې راپیدا شي کله هم چې په دغو علامو کلیک کوو نو مستقیم به هماغه فایل ته موږ لاسرسی لرو.

Touch Keyboard

که دلته ټکمارک ولګوو نو په سکرین د کیبورډ د راوستلو لپاره به موږ سره یو بټن په ټاسکبار جوړه شي کله چې هغه بټن ووهو نو په سکرین به موږ سره کیبورډ ښیي چې په واسطه به موږ لیکل هم کولی شو.

Desktop:

که دلته موږ ټکمارک ولګوو په ټاسکبار به موږ سره یو بټن جوړه شي که هغه بټن کې << علامې ووهو موږ چې بیا د کمپیوټر هري برخې ته ځو هماغلته کولی شو لاړ شو.

Control panel→Language



له دغه ځایه موږ کولی شو یوه ژبه اضافه کړو یا هم یوه ژبه ختمه کړو.

Add a language

دغه آپشن په واسطه یوه ژبه اضافه کولی شو لاندې يې طریقه ذکر ده:

Add a language → Select a language → Add

Remove

یوه ژبه به انتخاب کړي او دغه آپشن به ووهي نو هغه ژبه به ختمه شي .

Move up

یوه ژبه به انتخاب کړي بیا به Move up ووهي هغه ژبه به د نورو ژبو څخه پورته لاړه شي بیا که موږ کمپیوټر چالان کړو نو دغه ژبه به په لومړي قطار کي وي.

Move down

که یوه ژبه انتخاب کړو او Move down ووهو هغه ژبه به د نورو ژبو د لیست څخه ښکته راشي.

Options

که په یوه ژبه کي په Options باندي کلیک وکړو موږ ته به یوه بله صفحه خلاصه شي فرض کړه په پښتو ژبه کي مو Options کلیک کړ نو لاندي صفحه به راته خلاصه شي:



Add an input method

دلته کولی شو نور د کیبورډ میتودونه هم اضافه کړو لکه عربي کیبورډ ، فارسی، دری ، اردو او...

فرض کړه موږ عربی میتود انتخاب کړ که بیا موږ منه لیکو نو لیکلی یي نشو ځکه د ټ توری په عربی کي نشته.

Advanced Settings



دلته کولی شو د ژبو په هکله بشپړ تنظیمات وکړو:

1: Override for windows display language

دلته که هره ژبه انتخاب کړو نو زموږ د کمپیوټر مینیو ګاني به په هماغه ژبه راته ښیي ؛ فرض کړه زه غواړم مینیو ګاني دي راته په فارسی ژبه وښیي نو فارسی ژبي مخي ته چي options لیکلي هغه به کلیک کړو او download and install language pack به کلیک کړو نو د انټرنټ څخه به ډانلوډ شي کله چي ډانلوډ شو بیرته به همدلته راشو نو په همدغه لیست کي به فارسی انتخاب کړو اوSave به کلیک کړو بیا به Log off now کلیک کړو زیاتره مینیو ګاني به په فارسی ژبه شي.

Apply language settings to the welcome screen, system accounts and new user accounts
که مونږ د کمپیوټر ژبه فارسی ته اړولې وي نو له دغه ځایه کولی شو د Welcome سکرین او د پاسورډ ورکولو صفحه هم په فارسی ژبه کړو طریقه یې
په همدې آپشن به کلیک وکړو

Administrative→copy settings…→

☐ Welcome Screen and System accounts

☐ New User Accounts

دلته به دواړو آپشنونو ته ټکمارک ولګوو او OK بیا به Restart now ووهو کمپیوټر به مو ریسټارټ او د پاسورډ ورکولو ساحه به په فارسی ژبه شي.

2: Override for default input method

که دلته هره ژبه انتخاب کړو نو کله چې کمپیوټر چالان کړو هماغه ژبه به د کیبورډ وي ؛ خو که دلته مونږ پښتو ژبه انتخاب کړي وي او زمونږ د کمپیوټر پاسورډ په انګلیسي ژبه وي نو که مونږ پاسورډ ورکوو نه به یې قبلوي ځکه زمونږ د کمپیوټر پاسورډ په انګلیسي ده او مونږ چې پاسورډ لیکو په پښتو ژبه
لیکو نو کمپیوټر یې نه قبلوي نو باید دلته مو فکر وي چې زمونږ د کیبورډ ژبه پښتو ده که انګلیسي که پښتو وه او غواړو د کیبورډ ژبه انګلیسي ته کړو نو
Alt + Shift به ووهو.

3: Switching input methods

☐ Let me set a different input method for each app windows

که دلته ټکمارک ولګوو نو که MS Word کې پښتو ژبه باندې لیکل کوم او همدې وخت کې Excel هم خلاص کړم هلته په فارسی لیکل کوم همدغه
وخت کې ګوګل هم خلاص کړم هلته په انګلیسي لیکل کوم نو که زه ګوګل کې څه سرچ کوم په انګلیسي به کیږي خو که بیرته Word ته راشم او مستقیم
لیکل شروع کړم په پښتو ژبه به لیکل کیږي او که Excel ته راشم نو په فارسی ژبه به لیکل کیږي ؛ البته دغه هره Window کې همداغه خپله ځان سره
یاد ساتي خو که بیا غواړو ګوګل کې په پښتو لیکل وکړو نو Alt + Shift به ووهو بیا به په پښتو ژبه لیکل کیږي.

☐ Use the desktop language bar when it’s available

که دې ته ټکمارک ولګوو نو په ټاسکبار ښي خوا کې به مونږ سره ژبه ښیي چې اوس کیبورډ په کومه ژبه لیکنه کوي.

Options

دلته کولی شو دا وټاکو چې د کومو بټنو په وهلو سره دې ژبه بدله شي په عادي حالت کې خو Alt +Shift او Win + Space بټنې دي خو دلته زمونږ په

خوښه خپل ځان ته پخپله د ژبې بدلولو شارټکټ جوړولی شو :



Floating on Desktop

که دغه انتخاب کړو نو د سکرين په پورته ساحه کې به راسره ژبه ښيي چې اوس په کيبورډ کومه ژبه ليکل کيږي ؛ لاندې تصوير کې ښکاري:

Docked in the taskbar

که دا انتخاب کړو نو د ټاسکبار په ښي خوا کې به راته وښيي چې کومه ژبه اوس په کيبورډ ليکل کيږي ؛ په لاندی تصوير کې کتلی شئ :



Hidden

که دا انتخاب کړو نو به په ټاسکبار کې او نه هم د سکرين په پورته ساحه کې ښکاري چې اوس کومه ژبه د کيبورډ په واسطه ليکل کيږي.

☐ Show the Language bar as transparent when inactive

که دغه ته ټکمارک ولګوو که د ژبې حالت راسره د سکرين په پورته ساحه کې ښيي نو که هغه استعمال نشي هغه په تت رنګ راسره ښيي ؛ چې لاندې تصوير کې راسره ښکاري:



☐ Show additional Language bar icons the taskbar

که دغه ته ټکمارک ولګوو نو ټاسکبار کې د ژبې سره اضافه تنظيمات هم راځي (ددې لپاره ده چې د ژبو تنظيماتو ته اسانه لاسرسی کيږي).

☐ Show text labels on the language bar

که مور د کيبورډ حالت معلومول د سکرين په پورته ساحه کې اخيستی وي هلته به د ژبې پوره نوم ښيي لکه د EN په ځای به English پوره ليکي خو په
ټاسکبار کې بيا پوره نوم نه ښيي.

Advanced key Settings



دلته د ژبو د بدلولو شارټکټونه تنظیمولی شو:

To turn off Caps Lock

دلته که Press the CAPS LOCK key انتخاب کړو نو د Caps Lock بټن د بندولو لپاره به همدا د Caps Lock بټن وهو او که Press the SHIFT key انتخاب کړو نو د Caps Lock بټن د بندولو لپاره به Shift بټن وهو .

Caps Lock:

په کیبورډ کې یوه بټنه ده که دا بټن ووهو نو که انګلیسي لیکل کوو ټول غټ توري به لیکي او که دا بټن بیرته ووهو نو د انګلیسي کوچني توري به لیکل کیږي ؛ که بیا هم کله ضرورت پیداشي چې د انګلیسي غټ توری ولیکو نو Shift بټن به ونیسو او هماغه بټن به ووهو نو هماغه توری به غټ ولیکي.

Between input languages

که دا انتخاب کړو او ...Change Key Sequence ته راشو نو لاندې صفحه به مونږ ته خلاصه شي:



دلته دوه ډوله شارټکټونه دي :

1: Switch input Language

دلته کولی شو د ژبې د بدلولو لپاره د خپلې خوې مطابق شارټکټ وټاکو؛ خو که دلته Not Assigned وټاکو نو بیا به په هیڅ یو شارټکټ سره ونشو کولی چې د کیبورډ ژبه بدله کړو بیا مجبور یو چې د ماوس په واسطه ژبه بدله کړو او که Grave Accent(`) انتخاب کړو نو بیا به د ~ بټنې په وهلو سره د کیبورډ ژبه بدلیږي.

2: Switch Keyboard Layout

دلته د کیبورډ د ژبو میتودونو د بدلولو شارټکټونه جوړلی شو (د کیبورډ میتودونه لکه انګلیسي ژبه کې مو دوه ډوله میتود اخیستی وي American او British نو که ضرورت شي چې British انګلیسي ولیکو نو بیا دلته مو چې کوم شارټکټ ورته انتخاب کړی وي د هغې په واسطه به بیا کیبورډ British انګلیسي باندې لیکل کوي).
که Text Services and input Languages صفحه کې فرض کړه پښتو مو انتخاب کړه او Change Kay Sequence ته راشو نو لاندې صفحه به مونږ سره خلاصه شي:



نو دلته فقد د پښتو ژبې د راوستلو لپاره شارټکټ جوړولی شو هر یو شارټکټ مو چې انتخاب کړ نو که هماغه بټن ووهو پښتو ژبه به راشي ؛ چې اوس حالت کې Ctrl+0 ما د پښتو ژبې د راوستلو شارټکټ جوړ کړی دی.

4: Personalisation data

- Use Automatic learning (recommended)

که دغه آپشن مو انتخاب کړی وي ویندوز زموږ له لیکلو څخه زده کړه کوي او هغه لغاتونه چې موږ یې هره ورځ ډېر لیکو کله چې بیا د هماغه لغات لومړني توري ولیکو ویندوز موږ ته هماغه لغات پشنهاد کوي چې دغه لغات ولیکه ؛ فرض کړه زه د afghan کلمه زیات استعمالوم کیبورډ کې نو که زه فقد afg ولیکم ماته کیبور پخپله د afghan کلمه وړاندیز کوي چې دغه کلمه ولیکه البته دا په مجازي کیبورډ کې او Touch کیبورډ کې کار کوي :



- Don’t use automatic learning and delete all previously collected data

که دا انتخاب کړو نو بیا به موږ سره دغه پورته تصویر په شان زموږ زیات لیکل شوي لغاتونه راته په مجازي کیبورډ کې یا هم په Touch کیبورډ کې راته نه ښیي.

5: Language for web content

☐ Don’t let websites access my language list.

که دغه آپشن ته ټکمارک ولګوو نو که زموږ په کمپیوټر کې پښتو ژبه موږ لومړی ژبه انتخاب کړي وي او یو ویبسایډ خلاص کړو هغه ویبسایډ که په
فارسی ، عربی، دری ، چینایي ، اردو ، انګلیسي ، پښتو او نورو ژبو وي موږ ته به لومړی دغه ویبسایډ په پښتو ژبه راشي ځکه موږ دغه آپشن ټکمارک
کړی دی.

6: Restore defaults

که دغه آپشن انتخاب او Save ووهو نو ددغې ټولې صفحې تنظیمات به عادي حالت ته راشي.

Control panel→Folder option



د فولډرونو ټول تنظيمات له دغه ځای څخه کيږي .

Open each folder in the same window

که دا انتخاب کړو نو که هر څومره فولډرونه open کړو نو ټول به په يوه ويندو کي وي او هم به په ټاسکبار باندې په يوه بټن کي وي.

Open each window in its own window

که دا انتخاب کړو نو هر فولډر به په بيله بيله window کي open کيږي او هم به به په ټاسکبار کي په هماغه يو بټن کي ورته بيله بټن جوړيږي.

Single-click to open item (point to select):

که دغه انتخاب کړو هر څه به راسره فقد په single click سره خلاصيږي.

- Underline icon titles consistent with my browser

که دغه انتخاب کړو نو د ټولو آيکونو او فولډرونو لاندې به يو لاين راته ښيي او هم به په يو کليک سره يې open کوي.

- Underline icon titles only when I point at them

که دغه انتخاب کړو نو کله چې د ماوس cursor په کوم آيکن يا فولډر ودروو نو فقد د هماغه آيکن يا فولډر د نوم لاندې به راته يو لاين ښيي.

Double click to open an item (Single-click to select)

دغه آپشن که واخلو نو هر فولډر يا هر آيکن به په ډبل کليک سره خلاصوي او single-click به هماغه انتخابوي.

Navigation pane:



دغه ساحې ته Navigation area وايي.

Show Favorites

که دغه آپشن ته ټکمارک ولګوو نو Navigation area کي به راسره Favorites فولډر هم ښيي.

Show all folders

که دغه ته ټکمارک ولګوو نو ټول فولډرونه به راسره په Navigation area کې ښيي.

Automatically expand to current folder:

که دا اتخاب کړو نو کوم فولډر کې چې موقعيت لرو په هماغه فولډرکې چې نور فولډرونه وي هغه راته په Navigation area کې ښيي.

View:



Folders views

لومړی په عادي حالت کې دلته Apply to folders دغه کمانډ غير فعال وي ددي

لپاره چې دغه کمانډ کار شروع کړي نو د فولډرونو سايز به د خپلې خوښې مطابق

جوړ کړو بيا مو چې دغه آپشن ok کړ نو کوم سايز مو چې دغه فولډرونو ته ورکړی

وي همدا سايز به په دې فولډرونو کې چې څومره نور فولډرونه دي واخلي.

Reset Folder

که دغه آپشن انتخاب کړو نو ټول فولډرونه به عادي حالت ته راګرځي .

Advanced Settings

☐ Always show icons, never thumbnails

که دغه ته ټکمارک ولګوو نو په يو فولډر کې که ويډيو يا تصويران وي د هغوی اصلي شکل به نه ښيي فقد د هغوی ايکن به ښيي لکه دغه تصوير کې :

☐ Always show menus

که له دغه ټکمارک ليرې کړو نو پورته ساحه کې دغه مينيو به



راسره نه ښيي او که ټکمارک ورته ولګوو نو بيا يې راسره ښيي.

☐ Display file icon on thumbnails

که دغه ته ټکمارک ولګوو نو د فايل هر ډول چې وي په هغه به د هماغه فايل يو نښه وي لکه :

او که چېرې تري ټکمارک لېرې کړو نو بيا به د فايل نوعيت نښه ورسره نه ښيي لکه لاندې شکل

☐ Display file size information in folder tips

که دغه آپشن ته ټکمارک ولګوو نو که په يو فولډر باندې د ماوس pointer ودروو نو د هغه فولډر اړوند ټول معلومات



راته ښيي لکه مخامخ تصوير کې :

او که ټکمارک ورته ونه لګوو بيا راته دغه معلومات نه ښيي.

☐ Display the full path in the title bar

که دغه ته ټکمارک ولګوو نو په که موږ يو فولډر open کړی وي د هغه فولډر پوره آدرس راته په bar title کې



او که ټکمارک ورته ونه لګوو نو بيا راته پوره آدرس نه ښيي فقد د فولډر

Hidden files and folders

نوټ: ځنګه يو فولډر hide کولی شو

Right click on folder➔properties➔Hidden دلته به ټکمارک ولګوو

◯ Don’t show hidden folders, files and drives

که د غه ته ټکمارک ولګوو نو هغه فولډرونه مو چې hide کړي وي هغه به راته نه ښيي.

◯Show hidden files, folders and drives

که دغه ته ټکمارک ولګوو نو ټول hide شوي فايلونه ، فولډرونه او ډرايونه به راته وښيي.

نوټ : که يو USB شارټکټ وايروس ولري نو USB ته به داخل شي او Show hidden files, folders and drivesبه انتخاب کړي بيا به USB فارمټ کړي نو دغه د شارټکټ وايروس به ورځخه ختم شي .

☐ Hide empty drives in the computer folders

که دغه ته ټکمارک ولګوو نو هغه ډرایونه چې خالي وي هغه نه ښيي خو اکثره وخت دا آپشن کار نکوي.

☐ Hide extensions for known file types

که دغه ته ټکمارک ولګوو نو د نوم extension (وروستاړی) به راته ښيي لکه video.mp4 یا Picture.png یا Audio.mo3 او...

نو که چيرې يو ويډيو د afghan.mp4 په نوم وي او دغه نقطي ځخه وروسته mp4 ورځخه پاک کړو نو دا ويډيو به بيا هيڅ نه play کيږي ځکه

کمپيوټر اوس دغه نه پيژني چې دغه کوم ډول فايل ده که غواړو بيرته دغه ويډيو دي راته وښيي نو د نقطي ځخه وروسته به mp4 وليکو او Enter به

يې کړو بيا به دغه ويډيو play کوي.

دا آپشن د امنيت لپاره ښه ده ځکه که چيرې يو ويډيو فايل يا تصوير يا هر فايل چې وغواړو هر ځوک دي ورته لاسرسی پيدا نکړي نو extension به

تري ليرې کړې بيا به ځوک نشي کولی چې دغه فايل open کړي .

Extension:

هر فايل ځانه وروستاړی لري چې کمپيوټر يې په همدې وروستاړي سره پيژني

د عکسونو لپاره Khan.jpg khan.png khan.jpeg khan.bmp

د ويډيو لپاره Ali.mp4 Ali.avi Ali.mkv Ali.wmv Ali.mov

د بې تصويره فايلونو لپاره Audio.mp3

MP4:

تر ټولو عام دی او هر Player کې چليږي.

Programs and Features **Control panel →Programs and Features**

دغه item په واسطه کولی شو کوم پروګرامونه مو چې انسټال کړي وي هغه Uninstall کړو يا هم تغيرات پکې راولو.
لومړی بايد د يو پروګرام installation (د يو پروګرام انسټالول) زده کړو.

لومړی غواړو Typing Master په نوم يو سافټوير انسټال کړو:

۱ مرحله:

په سافټوريز به Right click وکړو او Run as administrator به کليک کړو او yes به کليک کړو



۲ مرحله:

اوس به موږ ته يوه صفحه را خلاصه شي چې په لاندې ډول ده

دلته به Next کليک کړو تر څو بله صفحه راشي.

۳ مرحله:



اوس به يوه بله صفحه راشي چې په لاندې ډول ده

دلته چې دغه وکتور اشاره ورته شوي دلته به د ماوس په واسطه ټکمارک ولګوو او د Next بټن به کليک کړو

۴ مرحله:



اوس به يوه بله صفحه خلاصه شي

دلته که غواړو چې پروګرام دې په کوم ځای کې install شي نو Browse... به ووهو او هماغه فولډر به انتخاب کړو ؛ بيا به Next بټن ووهو

۵ مرحله:



دلته به بیا د Next بټن ووهو

۶ مرحله:



دلته به د Install بټن ووهو او آخره کې به د finish بټن ووهو

نوټ : نور ټول سافټویرونه تقریباً په همدې طریقه install کیږي.

کله مو چې دغه مرحلې ترسره کړې نو دغه سافټویر د Typing د زده کړې سافټویر ده زمونږ په کمپیوټر کې install شو.

څنګه به دغه سافټویر open کړو ؟

۱ طریقه :

په Desktop کې به وګورو ددغه سافټویر یو شارټکټ به راسره جوړ شوی وي او په هغه به Double click وکړو.

۲ طریقه:

Start menu ته به راشو هلته به Typing master ولیکو (هر سافټویر چې وي د هماغه نوم به ولیکو) مونږ ته به یې وښایی او ډبل کلیک به پرې وکړو.

اوس غواړو دغه سافټویر بیرته Uninstall کړو:

Control panel→Programs and Features



لومړی به دلته راشو او هماغه سافټویر باندې به click Single وکړو بیا به پورته ساحه کې Uninstall باندې کلیک وکړو او Yes به کلیک کړو آخر کې به OK کلیک کړو نو دغه سافټویر به Uninstall شي.

په پورته تصویر کې د هر سافټویر اړوند ۵ ډوله معلومات راته ښکاري:

1:- Name

مور ته د سافټویر نوم ښیي چې کوم نوم یې وي هغه راته ښیي.

2:- Publisher

د سافټویر کمپنی ښیي چې کومې کمپنی دغه سافټویر جوړ کړی.

3:- Installed on

مور ته د installation وخت یې ښیي چې دغه سافټویر مو په کومه نېټه install کړی.

4:- Size

مور ته د سافټویر اندازه ښیي چې څومره حافظه یې په Hard Disk کې نیولې.

5:- Version

د سافټویر Version ښیي چې کوم ورژن سافټویر ده.

Control Panel→Fonts



دلته کولی شو د لیکنې ډیزاینونه وټاکو.

A B C D E F ... ا ب ت ث ...

دغه ډول ډیزاینونه د لیکلو لپاره له دغه ځایه کولی شو جوړ او ترتیب کړو.

که دغه کې زموږ د خوښې ډیزاین نه وي نو Fonts به له انټرنټ څخه ډانلوډ کړو او install به یې کړو بیا به د لیکلو پرمهال له همدې Font څخه هم استفاده کولی شو.

Control Panel→Windows Mobility Center

د دغه item په واسطه کولی شو په اسانی سره د غږ، روښانتیا، بریښنا ، د دویم سکرین تنظیمات ترسره کړو:

دلته کولی شو غږ کم یا زیات کړو یا د سکرین روښانتیا زیاته یا کمه کړو ، دبطری په هکله هم معلومات کتلی شو ، د دویم سکرین په هکله هم معلومات کتلی شو .
دغه آپشن د اسانی لپاره ده چې په لنډ ډول دغه تنظیماتو ته لاسرسی ولرو.



Control Panel→Sound

له دغه ځايه کولی شو د کمپيوټر د غږونو تنظيمات ترسره کړو.

1:- Playback

دلته مونږ ته د هغه سپيکرونه ښيي کوم چې په دغه کمپيوټر کې استفاده کولی شو؛ مخامخ تصوير کې لومړني ۳ سپيکرونو سره يې Not Plugged in ليکلي ددې مطلب چې دا سپيکرونه تر اوسه ندي وصل خو د ځلورم تصوير سره د ټکمارک علامه ده مطلب چې دغه سپيکر اوس وصل ده نو لومړی به په ځلورم سپيکر باندې Single click وکړو ترڅو ددغه سپيکر اړوند تنظيمات ترسره کړو.



کله مو چې ځلورم سپيکر انتخاب کړ او Configure ته راشو لاندې صفحه به راته خلاصه شي دلته که Test باندې کليک وکړو نو د کمپيوټر سپيکر به غږ وکړي که جوړ وي.



که کوم سپيکر انتخاب کړو بيا Properties→Levels→Balance دغلته راشو نو لاندې تصوير په شان صفحه به راته خلاصه شي:



دلته دا ټاکو چې ښي سپيکر دې څومره غږ وکړي او چپ سپيکر دې څومره غږ وکړي.



2:- Recording

له دغه ځايه د مايکروفون (Mice) تنظيمات ترسره کولی شو.

3:- Sounds

له دغه ځايه کولی شو د Windows غږونه تنظيم کړو لکه : کله چې USB Drive وصل کړو کوم ډول غږ دې کمپيوټر کوي يا کله چې د کمپيوټر چارج کم وي يا هم ...



Connect Devices

کومه وسيله چې وصل شي موږ د هغې غږ له دغه ځايه تنظيميږي.

Device Disconnect

که کومه وسيله disconnect شي د هغې د خبرداري غږ تنظيموي.

Low battery Alarm

که د لپټاپ بطری کې چارج کم وي نو د خبرداري غږ تنظيموي.

Test

کولی شو وګورو چې کوم ډول غږ ده.

Play Windows Start-up Sound

که دا آپشن ټکمارک کړو کله چې وينډوز چالان شي نو کمپيوټر غږ کوي.

Browse

کولی شو د يو خبرداري غږ بدل کړو په خپله خوښه يو غږ پرې ولګوو؛ Browse به کليک کړو او د خپلې خوښې غږ به انتخاب کړو.

Control Panel→Power Options



دا item د کمپيوټر د بريښنا تنظيمات جوړوي.
د کمپيوټر مهم حالتونه :

Sleep

کمپيوټر په کمه بريښنا چليږي، کارونه په RAM کې ساتل کيږي او ژر بيرته چالانيږي.

Hibernate

ټول معلومات Hard disk کې Save کوي، کمپيوټر بشپړ بنديږي او بريښنا نه مصرفوي.

Shutdown

کمپيوټر په بشپړه توګه بندوي او ټول پروګرامونه او سيستم بندوي.

Restart

کمپيوټر يو ځل په بشپړ ډول بندوي او ټول پروګرامونه او سيستم بندوي بېرته بيا کمپيوټر چالانوي.



Balanced (recommended)

که دا پلان انتخاب کړو د انرژۍ او کارکردګي تر منځ توازن ساتي او د ډېرو کارکوونکو لپاره غوره انتخاب دی.

Power Saver

د بريښنا مصرف کموي، د لپټاپ د بطری عمر زياتوي خو د کمپيوټر د کار کولو سرعت کموي.

High Performance

کمپيوټر په اعظمي کارګردګی چليږي، بريښنا زياته مصرفوي او د درنو پروګرامونو او لوبو لپاره مناسب دی.

Choose what the Power button do

د ا انتخابوو کله چې د کمپيوټر د power button ووهو نو کمپيوټر دي کوم حالت ته لاړ شي.



When I press the power button

که د کمپيوټر د power button يو ځل ووهو
دلته دوه آپشنونه دي on batter او plugged in (کله چې بطرۍ وي او کله چې چارج وصل وي)
که دلته sleep انتخاب کړو نو کمپيوټر به sleep حالت ته لاړ شي، که Hibernate انتخاب کړو
Hibernate حالت ته، که Shutdown انتخاب کړو کمپيوټر به Shutdown شي او که
do nothing انتخاب کړو بيا که د power button وهو هيڅ کار به نه کوي.

When I press the Sleep button

که د کمپيوټر د sleep button يو ځل ووهو نو کمپيوټر دي کوم حالت ته لاړ شي
Sleep button په ځينو کمپيوټرونو کي وي او ځينې يې نه لري په لپټاپونو کي عموماً د
Fn+F1 بټنو څخه د Sleep button په ځاي کار اخستل کيږي چې په ☾ علامي سره ښودل کيږي.

دلته هم که sleep انتخاب کړو کمپيوټر sleep حالت ته ځي، که Shutdown انتخاب کړو کمپيوټر
Shutdown کيږي او که do nothing انتخاب کړو نو هيڅ هم نه ترسره کوي.

When I close the lid

کله چې لپټاپ چالان وي او لپټاپ قات کړي (سکرين يې پرې رابشکته کړي) نو کمپيوټر دي کوم حالت ته لاړ شي ؛ که هر حالت دې انتخاب کړ کمپيوټر به هماغه حالت ته ځي.

Require a password (recommended)

دغه آپشن عادي حالت کې کار نکوي ددې لپاره چې کار شروع کړي نو Change Settings that are currently Unavailable باندې به يو کليک وکړو دغه آپشن به هم کار شروع کړي؛ که Require a password مو انتخاب کړی وي نو که کمپيوټر مو sleep يا Hibernate حالت ته تللی وي کله چې ببرته کمپيوټر چالانوو پاسورډ به

راځخه غواړي.

Don’t require a password

که دغه آپشن مو انتخاب کړی وي او کمپيوټر مو sleep يا Hibernate حالت ته تللی وي بيرته چې کمپيوټر چالانوو پاسورډ به راځخه نه غواړي.

☐Turn on fast start-up (recommended)

که دغه آپشن ته ټکمارک ولګوو کله چې کمپيوټر Shutdown کړو بل ځل چې بيا کمپيوټر چالانوو کمپيوټر به ژر چالانيږي ځکه کمپيوټر د چالانېدو پر
مهال چې کوم پروګرامونه ضروري وي هغه په Hard disk کي ساتل کيږي او ويندوز هم په بشپړ نه بنديږي.

☐ Sleep

که دلته ټکمارک ولګوو نو په power menu کي به راته د sleep آپشن هم ښيي.

Power menu:

له دغه ځای څخه کولی شو کمپيوټر Shutdown,restart,sleep ته بوځو؛ د ماوس کرسر به د سکرين ښي طرف پورته خواته بوځو Settings ته به
راشو بيا به power ته راشو هلته چې کليک وکړو power menu ورته وايي.



☐ Hibernate

که دغه آپشن ته ټکمارک ولګوو په power menu کي به راسره Hibernate هم ښيي.

☐ Lock

که دلته ټکمارک ولګوو په Account Picture menu کي به راته د Lock آپشن هم ښيي.

Account picture menu

کله چې Start ته راشو د سکرين په ښي طرف پورته خوا کي زمونږ خپل اکاونټ معلوميږي په هغه چې کليک وکړو Account picture menu راته خلاصيږي.

Choose when to turn off the display

دلته وخت ورکولی شو چې د څومره وخت لپاره زه کمپيوټر ونه کاروم د کمپيوټر رنا دي کمزوري شي، سکرين دي بند شي خو پروګرامونه دي بند نشي
يا هم کمپيوټر دي sleep حالت ته لاړ شي.



Dim the display:

دلته هم دوه حالتونه لرو يو د بطری حالت ده او بل د چارج حالت ده که هر يو کې مو هر په هره اندازه وخت ورکړ هماغومره وخت وروسته به د سکرين رنا لږه کمزوري شي.

Turn off the display:

که هر څومره وخت مو ورکړ هماغومره وخت وروسته به د سکرين رنا بنده شي خو په کمپيوټر کې به پروګرامونه چليږي که ماوس ته لږ حرکت ورکړو يا د کيبورډ کومه بټن ووهو سکرين بيرته چالانيږي.

Put the computer to sleep:

که دلته هم هر څومره وخت ورکړو فرض کړه ۲ دقيقې وخت مو ورکړ اوس که چيرې مور ۲ دقيقې په کمپيوټر کې هيڅ کار ونکړو نو کمپيوټر به اتومات sleep حالت ته ځي.
البته که دغه پورته ۳واړه آپشنونو کې مو never انتخاب کړ نو بيا به کمپيوټر هيڅکله هم دغه حالت ته نه ځي.

Create a Power Plane:

دلته کولی شو د خپلې خوښې مطابق پلان جوړ کړو لومړی به دلته د پلان نوم ورکړو
بيا به د Next بټن ووهو.



کله مو چې د Next بټن ووهله يوه بله صفحه به راته خلاصه شي :

دلته به د خپلې خوښې تنظيمات جوړ کړي او Create به ووهي پلان به جوړ شي.



Control Panel→Ease of Access Center

دغه item د هغه کاروونکو لپاره ده چې د سترګو دليدلو ستونزه ولري، د اوربدلو ستونزه ولري يا هم غواړي په اسانۍ سره ويندوز وکاروي.



Start Magnifier

که دغه آپشن باندې کليک وکړو نو لاندې صفحې په شان يوه صفحه به راته خلاصه شي که چېرته په + علامه کليک وکړو سکرين به راته نږدې کړي کله چې د ماوس کرسر هر چېرته وړو هماغه ساحه به راته نږدې ښيي او که به – علامه کليک وکړو بيرته به سکرين راته کوچنی ښيي.



همدغه آپشن د شارټکټ دلارې :

Win + +

که د ماوس کرسر هر چېرته وي هماغه ساحه راته نږدې کوي.

Win + -

د پورته مرحلې معکوس بيرته سکرين کوچنی کوي او عادي حالته ته راولي.

Start on Screen Keyboard

مور ته به په سکرين باندې يو مجازي کيبورډ راکړي ؛ چې د ماوس په واسطه که هره بټن وهو نو هماغه ډول ليکل به کيږي دا آپشن هغه وخت کې غوره دی چې کله کيبورډ خراب وی يا کيبورډ موجود نه وي.

د همدغه کيبورډ راوستلو لنډه طريقه:

Win + R →osk

Start→osk



Start Narrator

دغه آپشن د هغه کارووونکو لپاره دی چې سترګې يې کار نکوي ؛ که دغه آپشن باندې کليک وکړو د ماوس کرسر چې هر چېرته وړو هماغه ځای راته په voice (غږ) کې وايي ؛ که په دغه آپشن دبل کليک وکړو لاندې صفحه به راته خلاصه شي:



Voice:

دلته کولی شو د غږ تنظيمات يې جوړ کړو غږ اندازه، سرعت او نوعيت يې بدل کړو او هم کولی شو غږ بدل هم کړو يا نور غږونه له انټرنټ څخه ډانلوډ کړو.

Exit:

که دا کليک کړو او Yes ووهو نو له دغه mode څخه به بيرته عادي حالت ته راشو له کيبورډ څخه

لنډه طريقه يې: Caps Lock + ESC + Enter

Set up High Contrast

که دغه آپشن فعال کړو نو سکرين به راته تور رنګ کې ښيي او ليکنې به پکې په ژيړ يا سپين رنګ ښکاري ؛ د هغه استعمالوونکو لپاره ښه دی چې د سترګو نظر يې کمزوری وي.

د همدغه آپشن د فعالولو يا غير فعالولو دواړو لپاره يو شارټکټ دی: Left Alt + Left Shift + print Screen

Control Panel→Device Manager

ددې item په واسطه کولی شو چې د کمپيوټر ټول Hardware (وسايل) مديريت او کنټرول کړو.

د همدې item خلاصول له په لنډه طريقه: win + R →devmgmt.msc

Driver:

يو سافټوير ده چې د چې Hardware په کار اچوي ؛ که د ماوس يا کيبورډ driver په کمپيوټر کې نصب نه وي نو ماوس او کيبورډ به هيڅکله هم کار ونکړي ددې لپاره چې ماوس او کيبورډ کار وکړي بايد د ماوس او کيبورډ Driver نصب کړو.



- دلته مور ته د نصب شويو وسايلو ليست ښيي
- Driver نصب، اپډيټ او حذف کولی شو
- خراب يا نه پيژندل شوي وسايل معلوميږي
- د هارډوير ستونزې راته معلوموي
- وسيله Disable او Enable کولی شو

Computer

دلته د computer آیکن دننه ACPI x64-based PC به راته وښيي چې دا د بریښنا (Power) د مدیریت لپاره کاریږي او د کمپیوټر د برق ټول سیستم همدلته موجود ده , Restart , Sleep , Shutdown Hibernate ټول له همدغه ځایه اصلاً کیږي.

Audio inputs and outputs

دلته د Audio inputs وسایلو لکه مایکروفون (Mice) او Audio outputs وسایلو لکه , Speakers Headphones , HDMI Output دغه وسایل راته ښيي چې هر ډول Audio input/output وسیله وصل وي ؛ د دوی اړیکه له Drivers سره ساتي؛ کومه وسیله فعاله ده او کومه غیر فعاله ده دا راته ښيي؛ د غږ د ستونزو په تشخیص کې مرسته کوي.

Batteries

دلته د لپټاپ د بطری او بریښنا اړوند وسایل ښيي.

- Microsoft AC Adapter

د چارجر (Adapter) استازیتوب کوي او Windows ته ښيي چې چارجر وصل دی کنه.

- Microsoft ACPI-Compliant Control Method Battery

د لپټاپ د بطری مدیریت کوي ، د بطری فیصدي ښيي ، Charging او Discharging حالت راته ښيي.

Keyboard

موږ ته ښيي چې کوم ډول کیبورډ وصل ده .

Mice and other Pointing devices

دلته هغه وسایل ښيي چې د سکرین د کرسر (Pointer) د حرکت او کنټرول لپاره کاریږي.
په عمومي ډول پکې لاندې شیان شتون لري:

Mouse: USB Mouse, Bluetooth Mouse

Touchpad: د لپټاپ ټچ سکرین چې کوم ډول ټچ سکرین وصل ده

Monitors

کوم ډول سکرین وصل ده هر ډول او هر ماډل یو سکرین یا ډپر سکرینونه چې وصل وي هغه راته ښيي.

Imaging devices

کوم ډول کیمره چې وصل وي هغه راته ښيي.

Disk Drives

کوم ډول HDD یا SSD چې وصل وي ماډل یې او نوعیت یې راته ښيي.

Processors

موږ ته پراسیسورونه ښيي چې څو ډوله او څو دانې پروسیسرونه وصل دي.

همدلته په (device manager) کې د هر device لپاره ۳ ډوله آپشنونه کتلی شو:

1:- ⚠

که هر device سره دغه ډول علامه موجوده وي ددې معنا داده چې ددې وسیلې لپاره Driver شتون نلري یا Driver خراب شوی.

اوس غواړو د همدغي ويسلي لپاره Driver اپډيټ کړو يا که د دغي وسيلي اړوند driver شتون ونلري بيا به له انټرنټ څخه د همدي وسيلي لپاره Driver ډانلوډ کړو:
په هماغه وسيله به Right click وکړو ...Update software drivers به کليک کړو
Search automatically for Updated driver software به کليک کړو نو اتومات به د همدغي وسيلي لپاره driver اپډيټ شي او وسيله به کار شروع کړي.
که چيرې کار ونکړي بيا به هم په وسيله بنې کليک وکړو ...Update software drivers به کليک کړو بيا به Browse my computer for Driver software باندې به کليک وکړو يوه صفحه به راته خلاصه شي هلته به Browse باندې کليک وکړو او C Drive به انتخاب کړو بيا نو Driver به فعال شي او وسيله به کار وکړي.
که چيرې بيا هم وسيلي کار ونکړ نو بيا به له انټرنټ څخه يو Driver د همدي وسيلي لپاره ډانلوډ کړو بيا به په Device manager کې په هماغه وسيله Right click وکړو او ...Update software drivers به انتخاب کړو بيا به هم په Browse باندې کليک وکړو او هماغه Driver چې د کمپيوټر په هر ځای کې وي هماغه ځاي به ورته انتخاب کړو نو Driver به نصب شي او وسيله به کار شروع کړي.

2:-⬇
که device manager کې په کومه وسيله دغه پورته په شان علامه وګورو نو هدف يې دا دی چې وسيله disable (غير فعاله شوې) نو په همدې وسيلي به Right click وکړو او Enable به کليک وکړو نو وسيله به فعاله شي.

اوس غواړو Camera غير فعاله کړو:

په Camera به Right Click وکړو او Disable به کليک کړو او yes به ووهو نو Camera به غير فعاله شي، کار به نه کوي.
که غواړو Camera بيرته فعاله کړو نو په Camera به Right Click وکړو او Enable به کليک کړو؛ Camera به فعاله شي.

Scan for hardware changes

دغه آپشن هغه وخت کاروو چې کله يوه وسيله وصل کړو او نه ښکاري نو بيا به په يوې وسيلي بنې کليک وکړي او Scan for hardware changes به کليک کړو هغه وسيله به راښکاره شي.
مثلاً يو USB Drive مور وصل کړو او هغه ښکاره نشي نو Disk drives باندې به کليک وکړو او په همدې وسلي به Right Click وکړو او Scan for hardware changes باندې به کليک وکړو نو دغه USB Drive به راته ښکاره شي .



Control Panel→User Accounts (د کارووونکي حساب)

User Accounts

User Account هغه هويت دی چې د کمپيوټر هر کارووونکي ته ورکول کيږي تر څو؛ کمپيوټر ته ننوځي(Log in) ، خپل فايلونه او تنظيمات وساتي، پروګرامونه وکاروي او د خپلو صلاحيتونو مطابق په کمپيوټر کې بدلونونه راولي.

که يوه اداره وي ۲۴ ساعته کار کوي او ۳ شفټه کارووونکي ولري نو په ۲۴ ساعتونو کې ۳ ډلې خلک بدليږي هغه کارووونکي چې کمپيوټر کاروي آيا د هغوی لپاره به ېېل ېېل کمپيوټر اخلو؟
نه يواځې يو کمپيوټر بسنه کوي يعنې يو کمپيوټر ته په ۲۴ ساعتونو کې ۳ نفر بدليږي هر يو ته به ېېل ېېل اکاونټونه جوړ کړو او د هر چا به خپل اکاونټ او خپل پاسورډ وي؛ که يو نفر غواړي د بل چا اکاونټ ته داخل شي پاسورډ به ورځخه غواړي يعنې په حقيقت کې يو کمپيوټر ده خو په منطقي ډول مو يو کمپيوټر په ۳ برخو ووېشه.

که فرض کړو فيسبوک يو کمپيوټر ده په زرګونو استعمالوونکي لري هر استعمالوونکی ID او Password لري چې د همدې په اساس فيسبوک ته داخليږي؛ نو که کمپيوټر هم فيسبوک فرض کړو مور پکې استعمالوونکي لرو هر يو ته Account جوړوو او د اکاونټ لپاره يې Password جوړوو نو فقط همدغه يو شخص به کولی شي په کمپيوټر کې دننه په خپل اکاونټ کې تغيرات راولي د بل چا اکاونټ ته به نشي داخلېدلی او دغه ټول نفر به Administrator کنټرولوي.
User Account څخه هدف يو کمپيوټر په څو برخو وېشو او هر نفر ته ېېل اکاونټ او پاسورډ ټاکو.

د مايکروسافټ اکاونټ او د Local Account له نظره اکاونټونه په دوه برخو وېشل شوي دي:
1: Local Account
هغه اکاونټونه چې بيدون له انټرنټ څخه کار کوي او يوازې په همدې يو کمپيوټر کې ساتل کيږي؛ لکه Ahmad, Ali, Karim

2: Microsoft Accoutn
دا د مايکروسافټ آنلاين اکاونټونه دي، لکه ahmad@outlook.com کولی شو خپل معلومات په انلاين ډول په one Drive کې وساتو.
Users Accounts په عمومي ډول په دوه لويو کټګوريو وېشل شوي دي:

1: User Accounts

- Administrator
- Standard
- Guest

2: Built-in Accounts

- Administrator

- Guest
- Default Accounts
- SYSTEM
- Local Service
- Network Service

User Accounts

هغه اکاونټونه دي چې استعمالوونکی یې پخپله جوړوي؛ او په ۳ ډوله ده:

1: Administrator

کله چې مونږ ویندوز نصب کړو ویندوز مونږ ته وایي یو اکاونټ جوړ کړه همدغه اکاونټ ته Administrator اکاونټ وایي چې د کاروونکي له خوا جوړ شوی وي او د Administrators د ډلې غړیتوب لري.
تر ټولو د لوړ صلاحیت لرونکي حساب دی، دا حساب کولی شي تقریباً د کمپیوټر ټول تنظیمات بدل کړي.
صلاحیتونه:

- ✓ نوی اکاونټ جوړول
- ✓ User Account حذف کولی شي
- ✓ پاسورډونه بدل کړی
- ✓ سافټویر نصب کړي
- ✓ سافټویر حذف کړي
- ✓ Device Driver نصب کړي
- ✓ Windows Settings بدل کړي
- ✓ Security Policies تنظیم کړي
- ✓ د control Panel ټولې برخې اداره کړي
- ✓ System Files ته لاسرسی ولري
- ✓ د شبکې (Network) تنظیمات بدل کړي

محدودیتونه

که څه هم Administrator تر ټولو لوړ صلاحیت لري خو د (UAC(User Account Control له امله ځینې مهم عملیات د تاید غوښتنه کوي لکه یو
سافټویر چې نصبوو په هغه Right Click کوو بیا Run as Administrator کلیک کوو او یوه بله صفحه راته خلاصیږي هلته yes وهو.
د Administrator دندې

- ✓ د سیستم مدیریت
- ✓ د کاروونکو مدیریت
- ✓ امنیت ساتل
- ✓ د سافټویر نصبول
- ✓ د شبکې اداره

2: Standard Accoutn

دا عادي کارووونکی دی چې کمپیوټر کاروي خو د سیستم په مهمو برخو کې بدلون نشي راوستلای.

صلاحیتونه

- ✓ خپل فایلونه کارول
- ✓ خپل پاسورډ بدلول
- ✓ خپل Desktop تنظیمول
- ✓ ځینې پروګرامونه چلول
- ✓ Print کارول
- ✓ انټرنټ کارول

محدودیتونه

- ✓ سافټویر نشي نصبولی
- ✓ Driver نشي نصبولی
- ✓ د Administrator پاسورډ پرته د System Setting نشي بدلولی
- ✓ نور User Accounts نشي اداره کولی
- ✓ Security Policies نشي بدلولی

دندې

- ✓ ورځنی کار
- ✓ Office استعمال
- ✓ انټرنټ استعمال
- ✓ زده کړه او تفریح

3: Guest Account

مېلمه (لنډ مهاله) کارووونکو ته ویل کیږي؛ کله چې یو مېلمه کمپیوټر استعمالوي نو له دغه User څخه استفاده کوي.

صلاحیتونه

- ✓ انټرنټ کارول
- ✓ پروګرامونه چلول
- ✓ فایلونه لیدل

محدودیتونه

- ✓ Software نشي نصبولی
- ✓ System Settings نشي بدلولی
- ✓ Password نشي بدلولی
- ✓ User Accounts نشي اداره کولی
- ✓ یو فایل نشي Delete کولی

دندې

- ✓ موقتي کارونه
- ✓ محدود لاسرسی
- ✓ فقط لیدل بدلول نشي کولی

Built-in Accounts

Windows ځيني اکاونټونه پخپله جوړوي، دا حسابونه د سيستم د عمليو او کارونو لپاره ضروري دي.
دا حسابونه اکثره پټ او غير فعال وي.
مختلف ډولونه او په مختلفو ګروپونو وېشل شوي دي:

1: Administrator Account (Hidden)

نوم يې Administrator وي.
ځانګړتياوي

- ✓ تر ټولو لوړ صلاحيت لري
- ✓ د UAC محدوديتونه پرې کم وي
- ✓ د ستونزو د حل لپاره کارول کيږي
- ✓ عموماً غيرفعال (Disable) وي

احتياط
په ورځني استعمال کې يې فعالول نه سپارښتل کيږي ځکه امنيتي خطرونه زياتوي.

2: Guest Built-in Account

دا د Guest اصلي سيستمي حساب دی؛ او عموماً Disable وي خو Administrator يې فعالولی شي.

3: Default Account

دا يو داخلي سيستمي حساب دی چې د نوې User Profiles د جوړولو لپاره کارول کيږي او کارووونکی يې نه وينې.

کله چې control Panel کې User Accounts باندې کليک وکړو يوه صفحه به راته خلاصه شي:



پورته تصوير کې موږ دوه Tables لرو اول به Table 1 په مکمل ډول سره وايو بيا به Table 2 وايو.

Table 1

***Part 1*: Make changes to my account in PC Settings**

زموږ د اکاونټ تغيرات به د PC Settings په ساحه کې کيږي کله چې په دې آپشن کليک وکړو يوه صفحه به راته خلاصه شي



- Switch to a Microsoft Account

که د مایکروسافټ اکونټ لرو له دغه ځایه کولی شو خپل Local Account څخه د مایکروسافټ اکاونټ ته داخل شو؛ ګټه یې داده چې مونږ زیات خدمتونه ته لاسرسی درلودلی شو.

- Change your password

کولی شو له دغه ځایه د کمپیوټر پاسورډ بدل کړو؛ که دا آپشن کلیک کړو یوه صفحه راته خلاصیږي



دلته به د کمپیوټر اوسنی پاسورډ ولیکو او د Next بټن به ووهو؛ یوه بله صفحه به راته خلاصه شي



New Password

دلته به نوی پاسورډ ولیکو

Re-enter Password

دلته به همدغه نوی پاسورډ بیا ولیکو

Password hint

دلته به د پاسورډ لپاره شفر ولیکو چې کله مو پاسورډ له یاده ووت دغه شفر به مونږ ته پاسورډ رایادوي.

- Create a picture password

دلته کولی شو د عکس څخه پاسورډ جوړ کړو.

که دلته کلیک وکړو لومړی به د کمپیوټر اوسنی پاسورډ راڅخه وغواړي او بیا به Choose a picture باندې کلیک کړو او یو تصویر به انتخاب کړو

دلته به Use this Picture باندې کلیک وکړو

دلته به د تصوير په ۳ ځايونو کي کليک وکړو او finish کله چې بيا کمپيوټر Lock کړو مور په دوه طريقو کولی شو کمپيوټر خلاص کړو اوله طريقه دغه تصوير به راته په Lock سکرين کي وښيي کومو ۳ ځايونو کي مو چې کليک کړی وي هملته به ۳ کليکونه وکړو کمپيوټر به خلاص شي يا به د کمپيوټر خپل پاسورډ استعمال کړو.

- Create a PIN

که دا کليک کړو کمپيوټر ته ۴ عددي پاسورډ ورکولی شو.
که کمپيوټر ته Password, Picture password , PIN password ۳واړه ولګوو ايا ټول به کار کوي؟
هو که له دغه ۳ پاسورډونو څخه هر يو انتخاب او صحيح يې وليکو کمپيوټر به خلاص شي.

- Change

کله چې دا کليک کړو نو که کمپوټر sleep حالت ته لاړشي بيا يې چې کله خلاصوو پاسورډ راځخه نه غواړي او دغسي پيغام يې لپاسه پرې ليکلی وي:
Any user who has password does’t need to enter it waking this PC
او کله چې يې ښرته کليک کړو او دغسي پيغام ورسره راشي: Any user who has password must enter when waking this PC بيا چې کله کمپيوټر sleep حالت کي وي او ښرته يې چالانوو پاسورډ به راځخه غواړي.

- Add a user

له دغه ځايه کولی شو يو User اضافه کړو کله چې دغه آپشن کليک کړو يوه صفحه راته خلاصيږي:



Username

دلته به د استعمالوونکي نوم وليکو

Password

دلته به د استعمالوونکي پاسورډ وليکو

Re-enter password

دلته به هماغه پورتنی پاسورډ بيا وليکو

Password hint

د پاسورډ شفر به وليکو که چېرې مور ځخه پاسورډ هېر شي د شفر په واسطه به کېداي شي پاسورډ بېرته ذهن ته راشي.

Part 2: Change your account name



له دغه ځايه کولی شو د اکاونټ نوم بدل کړو؛ کله چې دلته کليک وکړو يوه بله صفحه راته خلاصيږي:

New account name

دلته به د اکاونټ نوم وليکو او Change Name به کليک کړو.

Part 3: Change your account type

له دغه ځايه کولی شو د اکاونټ نوعيت بدل کړو؛ که دا کليک کړو يوه بله صفحه به راته خلاصه شي:



Standard

که دا انتخاب کړو د اکاونټ ډول به Standard شي او کارونه به يې محدود شي.

Administrator

که دا انتخاب کړو د اکاونټ نوعيت به Administrator شي چې د ټول سيستم مدير به وي او هر څه به کولی شي.

خو که مخامخ تصوير ته وګورو Standard آپشن کار نکوي؛ ځکه چې زه اوس په Administrator اکاونټ کې يم هغه اکاونټ چې د وندوز د نصبولو پرمهال ما جوړ کړی په هره وينډوز کې حداقل يو دانه Administrator اکاونټ شتون لري خو که زه يو بل اکاونټ جوړ کړم نو بيا د هغه اکاونټ لپاره Standard آپشن کار کوي.

Part 4: Manage another accoutn



له دغه ځايه کولی شو نور اکاونټونه اداره کړو او هم نور اکاونټونه اضافه کړو.

که دلته کليک وکړو يوه بله صفحه راته خلاصيږي:



دلته مورِ ته ټول اکاونټونه ښيي چې په ټول کمپيوټر کې څو اکاونټونه شتون لري.
که دلته وګورو کوم اکاونټ چې پاسورډ لري په هغه يې password protected ليکلي دي او که چېرته دا يې ورسره نه وي ليکلي نو په شه چې پاسورډ نلري.
دلته Khan په نوم اکاونټ ما د Windows له نصبولو وروسته جوړ کړی ددې کمپيوټر اصلي استعمالوونکی (هغه استعمالوونکی چې د ويندوز د نصب پر مهال جوړ شوی) هغه Ezatullahmirza دی خو کله چې په Khan اکاونټ باندې Single click وکړم يوه بله صفحه به راته خلاصه شي چې په لاندې ډول ده:

Add new User in PC settings

دلته هم کولی شو يو نوی کارووونکی اضافه کړو.



Change the account name

د اکاونټ نوم بدلولی شو.

Change the password

د اکاونټ پاسورډ بدلولی شو.

Set up Family Safety

د وخت محدوديت پرې لګولی شو لکه هره ورځ دې دغه اکاونټ د سهار له ۸ بجو څخه تر ۱۰ بجو پورې کمپيوټر وکارولی شي خو له ۸ بجو مخکې او له ۱۰ بجو وروسته به دغه اکاونټ نشي کولی کمپيوټر ته داخل شي که پاسورډ هم ورته ياد وي دا به نشي کولی کمپيوټر ته داخل شي .
ددې موضوع په اړه په راتلونکي لوست کې په مکمل ډول معلومات وايو.

Change the account type

دلته کولی شو د اکاونټ نوعيت بدل کړو.

Delete the account

دغه آپشن په واسطه کولی شو اکاونټ ډيليټ کړو،

- Delete Files

که دا کليک کړو د اکاونټ ټول فايلونه ډيليټ کيږي.



- Keep Files

که دا کليک کړو د اکاونټ ټول فايلونه ساتل کيږي.
که مور Delete Files کليک کړو يوه بله صفحه به راته خلاصه شي:

دلته به Delete Account کليک کړو او اکاونټ به په مکمل ډول سره ختم او له منځه لاړ شي.



Part 5: Change User Account Control Settings



که دا آپشن کليک کړو د لاندي صفحي په ډول يوه صفحه راته خلاصيږي:



دلته ۴ آپشنونه ښکاري:

- Always notify

که دا انتخاب کړو نو هر بدلون ته به د اجازي غوښتنه کوي؛ لکه که سافټوير انسټالوو يا د ويندوز settings بدلوو نو د اجازي غوښتنه به کوي همدا تر ټولو خوندي انتخاب دی.

- Notify me only when applications try to make changes to my computer(default)

که دا آپشن انتخاب کړو کله چې يو سافټوير کي تغيرات راولو يا يې نصبوو د تايد لپاره يو پيغام راکوي چې صفحه توره شي او يواځي هماغه پيغام راته پکي ښکاري خو که د کمپيوټر په settings کي تغيرات راولو بيا خبر نه راکوي.
همدا د ويندوز ډيفالټ انتخاب دی.

- Notify me only when applications try to make changes to my computer(do not dim my desktop)

که دا آپشن انخاب کړو د سافټوير يا د نصب پرمهال خبرتيا راځي خو سکرين نه تياره کيږي ؛ لږ امنيت لري.

- Never notify

که دا انتخاب کړو هيڅکله خبرداری نه راکوي که سافټوير انسټالوو يا هم ويندوز کي تغيرات راولو خبرداری نه راکوي خو عموماً ددي آپشن سپارښتنه نه کيږي.

Table 2



***Part 1:* Create a password reset disk**

له دغه ځايه کولی شو خپل USB Drive د کمپيوټر د پاسورډ په توګه وکاروو که له مورږ څخه د کمپيوټر پاسورډ هېر شي په Lock سکرين کي کولی شو Reset password کليک کړو او نوی پاسورډ کمپيوټر ته ورکړ خو USB به له کمپوټر سره وصل وي.

لومړی به يو USB له کمپيوټر سره وصل کړو
کله چې بيا دغه آپشن کليک کړو يوه صفحه راته خلاصيږي

دلته به Next کليک کړو.

اوس به يوه بله صفحه راته خلاصه شي:



که له يو څخه زيات بيروني ډرايونه وصل وي دلته به يې راته ليست وښيي کېداي شي له يو څخه زيات USB له کمپيوټر سره وصل وي دلته به هغه USB انتخاب کړو کومه چې مورږ يې غواړو د کمپيوټر پاسورډ وګرځوو او Next به کليک کړو.

اوس به يوه بله صفحه بښکاره شي

دلته مخامخ جدول کي به د کمپيوټر اوسنی پاسورډ وليکو او Next به کليک کړو.



له دي وروسته به يوه بله صفحه راته Open شي:

کله چې ۱۰۰٪ پوره شو Next به کليک کړو او آخره کې به Finish کليک کړو.

په USB کې به دغسې يو فايل راسره جوړ شي دا فايل بايد ډيليټ نشي ځکه پاسورډ په همدې فايل کې ده.

که د کمپيوټر پاسورډ راځخه هېر شي څنګه د همدې USB په واسطه يې ختم کړو؟

- USB به له کمپيوټر سره وصل کړو او د پاسورډ ځاي ته به راشو
- Reset Password به کليک کړو
- Next به کليک کړو او USB به انتخاب کړو

يوه بله صفحه به راته خلاصه شي او ۳ اپشنونه به لري:

دلته به نوی پاسورد وليکو Type a new password:

دلته به نوی پاسورډ دويم ځل ليکه وليکو Type a new password agin to confirm:

دلته به د نوي پاسورډ شفر وليکو Type a new password hint:

Control panel→ Family Safety

که موږ څو اکاونټونه جوړ کړي کړي وي له دغه ځايه کولی شو د وخت بنديز پرې ولګوو لکه د Ali په نوم که يو اکاونټ موږ جوړ کړی وي وخت ورته ټاکو چې د شنبې او يکشنبې دي کمپيوټر له 08:00 AM ځخه تر 09:00 AM پورې وکاروي نو Ali فقط د شنبې او يکشنبې ورځو کې د سهار له ۸ بجو ځخه تر ۹ بجو پورې کمپيوټر کارولی شي که ۰۹:۰۱ دقيقې هم شي اتومات به دا له خپل اکاونټ ځخه وځي.

کله چې دغه آپشن باندې کليک کړو د لاندې صفحې په ډول صفحه به راته خلاصه شي:

دلته به هغه اکاونټ انتخاب کړو په کوم چې د وخت محدوديت لګوو خو دلته زه د Ali په نوم اکاونټ انتخابوم:



اوس به د مخامخ تصوير په شان يوه بله صفحه راښکاره شي؛
په مخامخ صفحه کي ۳ ډوله آپشنونه لرو

1 Option: Family Safety

که دله Off ته ټکمارک لګېدلی وي په دغه اکاونټ باندي هيڅ ډول محدوديت نشو لګولی او که On يي کړو نو نور ټول آپشنونه هم ورسره فعاليږي؛ که غواړو چې په دغه اکاونټ د وخت بندیز ولګوو يا د انټرنټ بندیز ولګوو يا د سافټوير بندیز ولګوو بايد دغه آپشن on کړو.

2 Option: View activity reports

د فعالېدو او يا د غير فعالېدو نېټه وخت او ټول report راته ښيي چې دغه يوزر کله او په کوم وخت داخل شوی خپل اکاونټ ته.

3 Option: Windows settings

دا آپشن به تر هغه وخته غير فعال وي تر څو چې لومړی آپشن فعال نکړو کله چې دا آپشن فعال شو:

- **Web filtering**

له دغه ځايه کولی شو د انټرنټ اړوند بندیزونه پرې ولګوو که دا کليک کړو يوه بله صفحه به راته خلاصه شي:



Ali can use all websites

که دغه آپشن انتخاب کړو نو هيڅ ډول بندیز په دغه اکاونټ نشته.

Ali can only use the websites that allow

که دا کليک کړو يوازي هغه ويبسايډونه به کارولی شي کوم ته مور اجازه ورکړي وي او کوم مو چې بلاک کړي وي هغه به نشي کارولی چې په لاندي تصوير کي يي کتلی شو:



☐ **Block file downloads**

که دلته ټکمارک ولګوو نو دغه استعمالوونکی به نشي کولی چې ډانلوډ وکړي.

Click here to change allow list

که دلته کليک وکړو يوه بله صفحه به راته خلاصه شي چې په لاندي ډول ده:



که مخامخ جدول کې www.facebook.com وليکم او همدې ته مخامخ Block کليک کړم په Blocked websites ليست کې به راشي او دغه استعمالوونکی به نشي کولی چې فيسبوک وکاروي؛ خو که Allow کليک کړو دغه ويبسايډ به کارولی شي. که غواړو www.facebook.com له Block حالت څخه وباسو همدغه به انتخاب کړو او Remove به کليک کړو.

- **Time limits**



له دغه ځايه کولی شو په استعمالوونکي د وخت محدوديت ولګوو؛ که دغه آپشن کليک کړو لاندې صفحه به راته خلاصه شي:



1: Set time allowance

که دلته کليک وکړو وخت به ورته ټاکو چې په يوه اونۍ کې څو ورځې او په هره ورځ کې دې څو ساعته خپل اکاونټ ته داخلېدلی شي؛ کله چې دلته کليک وکړو يوه بله صفحه به راته خلاصه شي:



دلته به ورته ورځې وټاکو او په هره ورځ کې دې څو ساعته او څو دقيقې دغه اکاونټ داخلېدلی شي له دغه ځايه يې ټاکلی شو.

2: Set Curfew



که دا کليک کړو له دغه ځايه هم کولی شو د وخت بندېز ولګوو خو د جدول په ډول لکه مخامخ تصوير کې ښکاري:
دلته ۷ سطرونه او ۲۴ ستونونه ښکاري چې سطرونه ورځې او ستونونه ساعتونه دي کولی شو له دغه ځايه هم وټاکو چې په کومه ورځ کې دې څو ساعته دغه استعمالوونکی خپل اکاونټ ته داخل شي؛ چې آبي رنګ معنا Block وخت (دغه وخت کې نشي داخلېدلی) او سپين رنګ معنا دغه وخت کې داخلېدلی شي.

- **App restriction**

له دغه ځايه کولی شو دا وټاکو چې دغه يوزر دې کومو سافټويرونو او کومو اپليکيشنونو ته لاسرسی ولري او کومو ته دې ونلري؛ که دلته کليک وکړو د لاندې صفحې په ډول صفحه به راته خلاصه شي:



دلته که کوم سافټویر ته ټکمارک ولګوو دغه سافټویر به کارولی شي او کوم ته چې ټکمارک نه وي هغه به نشي کارولی.

Control panel → BitLocker Drive Encryption

له دغه ځایه کولی شو د کمپیوټر یو Drive ته یا یو USB Drive ته پاسورډ ورکړو؛ کله چې دا کلیک کړو د مخامخ صفحې په ډول صفحه به راته خلاصه شي:



دلته که هر ډرایو ته غواړو پاسورډ ورکړو هماغه ډرایو به انتخاب کړو چې دلته زه غواړم E Drive ته پاسورډ ورکړم او Turn BitLocker on به کلیک کړو:



اوس به یوه بله صفحه راښکاره شي:

☐ Use a password to unlock the Drive

دلته به ټکمارک ولګوو او Enter your password او Re-Enter your password دلته دواړو ځایونو کې به یو شان پاسورډ ولیکو پاسورډ باید له ۸ تورو کم نه وي او Next بټن به کلیک کړو:

اوس به یوه بله صفحه راته راښکاره شي چې په لاندې ډول ده:



زمونږ د پاسورډ د Recovery key راته ښيي چې چېرته يې ثبت کول غواړي که print کوي يې نو Print the recovery key به کليک کړو که پرنټر موجود وي پرنټ به شي که غواړي کمپيوټر کې دي ثبت شي بيا به Save to a file به کليک کړو او Next به ووهو:
دلته به هغه يو ځاي انتخاب کړو چېرته چې مونږ د ډرايو Recovery ثبتول غواړو

اوس به يوه بله صفحه راته ښکاره شي :



دلته دوه آپشنونه ښکاري:

Encrypt used disk space only

که دا انتخاب کړو فقط د حافظې هغه ځاي به کوډ کوي په کوم کې چې ډېټا شتون ولري او کوم فايلونه چې ډيليټ شوي وي هغه نه کوډ کوي چې خورا دغه آپشن چټک ده.

Encrypt entire drive

که دا آپشن انتخاب کړو د حافظې خالي ځاي به هم کوډ کړي او ډيليټ شوي فايلونه به هم کوډ کړي بيا به ځوک نشي کولی فايلونه Recovery کړي.
خو اوس مهال به لومړی آپشن انتخاب کړو او Next به ووهو:



دلته به Start encryption کليک کړو او يوه بله صفحه به رابښکاره شي:

دلته به صبر وکړو چې دغه ډرايو په مکمل ډول سره پاسورډ واخلي خو که نيمايي کې هم Drive وباسو او Disconnect يې کړو بيا هم پاسورډ اخلي يا به صبر وکړو کله چې دا ۱۰۰٪ پوره شو پاسورډ به واخلي.

اوس چې USB وصل کړو پاسورډ به راڅخه غواړي کله چې USB اوپن کوو:



که چېرته پاسورډ زمونږ له یاده ووځي بیا به هماغه Recovery key څخه استفاده کوو په همدې Drive به دبل کلیک وکړو بوه صفحه به راته خلاصه شي:



دلته مخامخ جدول کې که Password ولیکو او Unlock کلیک کړو نو USB Drive به خلاص شي؛ خو کله چې USB ببرته Disconnect شي بیا به راڅخه پاسورډ غواړي.
که غواړو همغه Recovery key استفاده کړو More options به کلیک کړو او Enter Recovery key به انتخاب کړو او هغه Recovery key به په notepad کې Open کړو او فقط

Recovery Key:

463375-335236-392524-172480-065516-373098-132737-004796

دغه لاندې ۴۸ عدده به کاپي کړو او هلته به يې Past کړو او Unlock به کلیک کړو نو د USB پاسورډ به خلاص شي.

که غواړو پاسورډ يې ببرته ختم کړو:
په همدې Drive به Right click وکړو :



دلته به په لومړي آپشن **Unlock Drive...** باندې کلیک وکړو پاسورډ به ولیکو یا به Recovery key استفاده کړو او Unlock به کلیک کړو کله چې ۱۰۰٪ تکمیل شو پاسورډ به ختم شي.

Control panel → Autoplay AutoPlay

دا item ددې لپاره دی چې کله يو USB, CD, DVD, Memory card, Camera يا بل يو ذخيره کوونکي وسيله له کمپيوټر سره وصل کړ کوم عمل دې ترسره کړي.



☐ Use AutoPlay for all Media and devices

که دلته ټکمارک ولګوو AutoPlay کار کوي او د وسيلو لپاره ټاکلي عملونه اجرا کيږي او که ټکمارک ونه لګوو AutoPlay بنديږي او ويندوز په اتومات ډول کوم عمل نشي کولی.



کله چې USB فلش يا خارجي حافظه وصل شي لاندې انتخابونه ليدل کېداي شي

- Open folder to view files (File Explorer)

که يو فلش وصل کړو اتومات فولډر پرانيزي او ښيي.

- Take no action

هيڅ عمل نه ښيي مجبور پخپله به په Computer آيکن کليک کوې او USB Drive ته به داخليږي.

- Ask me every time

هر ځل دې پوښتنه کوي؛ چې څه وکړي او د لاندې تصوير په ډول موږ ته يو پيغام په صفحه راته ښيي:



يادونه : پورته ۳ آپشنونو څخه چې هر يو انتخاب کړو بايد آخره کې د Save آپشن کليک کړو.

Control Panel → Default Programs



دلته دا ټاکلی شو چې کله يو پروګرام خلاصيږي په کوم اپ کي دي راته خلاص کړي لکه يو ويډيو دي راته په VLC پلير کي راته پلی کوي دي ته اړتيا نشته چې هر ځل د هرې ويډيو په پلی کولو سره دي مور VLC Player ټاکو يا دي د تصوير Open کول راته په کوم اپ کي ښيي لکه Photos يا Windows photos Viwer يا دوه يا څو pdf Reader مو نصب کړي وي لکه Adobe pdf Reader يا Foxit pdf Reader مو نصب کړي وي اوس دلته دا ټاکو چې ټول pdf فايلونو باندي چې کليک کوو په کوم پروګرام کي دي راته Open کوي Adobe کي يا Foxit کي.

کله چې دلته کليک وکړو لاندي يوه صفحه به راته خلاصه شي:



1 Option: Set your default programs

دلته کولی شو دا وټاکو چې کوم ډول فايلونه دي راته په کوم اپ کي په default حالت کي خلاص کړي.

کله چې دا کليک کړو يوه بله صفحه به راته خلاصه شي:



دلته فرض کړه مور VLC Player انتخاب کړ نو دوه آپشنونه به نور راښکاره شي چې په لاندي ډول ده:



Set this program as default

که دا انتخاب کړو ټول فايلونه به په VLC Player کي اوپن کوي.

Choose default for this program

دلته مور دا ټاکو چې په VLC پلير کي دي په Default حالت کي د کوم Extension لرونکي فايلونه خلاصوي.

2 Option: Set program access and Computers defaults



دلته ټاکلی شو چې ټول پروګرامونه دي راته د ويندوز په Default پروګرامونو کي اوپن کړي لکه براوزر دي په internet Explorer کي او تصويران او ويډيوګاني هم همدغسي په ډيفالټ پروګرامونو کي اوپن کوي.

Photos:

د ويندوز خپل د تصوير اوپن کولو پلير ده چې تصويران پکي اوپن کيږي.

Windows Media Player

دا د ويندوز Default ويډيو پلير ده چې د ويډيو او mp3 فايلونو د اوپن کولو لپاره کارول کيږي.

دلته که کليک وکړو يوه بله صفحه راته خلاصيږي :



Microsoft Windows

د مايکروسافټ خپل سافټويرونه به کاروي لکه internet Explorer د براوزر په توګه Outlook Express د ايميل په توګه Windows media player د ميډيا پلير په توګه کاروي.

Non-Microsoft

د مايکروسافټ پرته نور نصب شوي پروګرامونه د ډيفالټ په توګه ټاکي. لکه Firefox د براوزر په توګه VLC د ميډيا پلير په توګه او...

Custom

مورِ ته اجازه راکوي چې پخپله يو سافټوير وټاکو براوزر دي کوم اپ کي خلاص شي يا ويډيو دي په کوم اپ کي پلی شي او...

Control panel → Troubleshooting Troubleshooting

که چېرته په کمپيوټر کي کومه ستونزه پيدا شي دغه item په واسطه کولی شو د کمپيوټر مشکل پيدا کړو او حل يې کړو.



کله چې دلته کليک وکړو د لاندي صفحي په ډول به يوه صفحه راته ښکاره شي:

دلته ۴ آپشنونه موجود دي:

1 Option: Programs





که چېرې د سافټویر اړوند کوم مشکل وي دلته به کلیک وکړو؛
کله چې دلته کلیک وکړو د پروګرامونو لیست به راته راښکاره شي چې په لاندې ډول ده:

دلته ۵ ډوله د سافټویر ځایونه راته ښیي

- Network

که شبکه (انټرنټ) کې مشکل وي دلته به کلیک کړو او Next به ووهو.

- Web Browser

که براوزر کې یا ویبسایډونو کې مشکل وي دلته به کلیک او Next به ووهو.

- Programs

هغه سافټویرونه چې مور نصب کړي وي که هغه کې مشکل وي دلته به کلیک کړو او له لیست څخه به یواځې هغه سافټویر انتخاب کړو کوم کې چې مشکل وي.

- Printing

که پرنټر راسره وصل وي یا نه وصلیږي له دغه ځایه به یې مشکل حلوو.

- Media Players

که د ویډیو ګانو اړوند مشکل وي دلته به کلیک کړو او Next به ووهو.

مثلاً مور په کمپیوټر کې VLC Media Player نصب کړی دی که چېرته دغه سافټویر مشکل ولري troubleshooting→Programs→program compatibility troubleshooting ته به راشو او دلته به کلیک وکړو یوه صفحه به راته خلاصه شي:



دلته به Next کلیک کړو او لدې وروسته به یوه بله صفحه راته خلاصه شي:



له دغه پروګرامونو لیست څخه به هغه پروګرام انتخاب کړي کوم چې مشکل لري مور اوس VLC Player انتخابوو ځکه مور غواړو ددې مشکل حل کړو دلته به VLC Player انتخاب او د Next بټن به ووهو:



دلته به د مشکل ډول ټکمارک کړو چې کوم ډول مشکل لري غوره خبره داده چې ټول ټکمارک او د Next بټن ووهو له دې وروسته به بله صفحه راشي هلته به د عامل سیستم پوښتنه وکړي که د کمپیوټر اوسنی عامل سیستم پکې موجود و دا به انتخاب کړو او که موجود نه و بیا به I don’t know انتخاب کړو او بیا به Next بټن ووهو؛ که کوم مشکل ولري هغه درته ښیي او حلوي یې کله چې مشکل حل شي Test the program... به کلیک کړو او پروګرام به چیک کړو چې آیا پروګرام جوړ شوی کنه که پروګرام جوړ شوی و Next به کلیک کړو او آخره کې به yes, save these Settings به کلیک کړو دغه پروګرام به جوړ شي.

2 Option: Hardware and Sound





که هارډویر کې یا غږ کې مشکل وي له دغه ځایه یې کولی شو چې حل کړو.

کله چې په دغه آپشن باندې کلیک وکړو یوه صفحه به راته خلاصه شي چې په مخامخ ډول ده:

په دغه صفحه کې هم کولی شو د مختلفو وسیلو مشکل پیدا او حل کړو:

- Sound

له دغه ځایه کولی شو د غږ مشکل پیدا کړو چې سپیکر کې مشکل ده که بل څه او یا یوه د یوې بلې وسیلې د غږ مشکل پیدا کړو لکه که Projector وصل وي نو د هغې د غږ مشکل هم پیدا کولی شو چې کېبل کې مشکل ده که وسیله کې.

- Device

که کومه وسیله کمپیوټر سره نه وصلیږي لکه کیبورډ ، ماوس ، USB ، کیمره یا بله وسیله یا دکمپیوټر دننه کومه پرزه مشکل ولري (Driver) ونلري له دغه ځایه کولی شو د وسیلې مشکل پیدا او حل کړو.



- Network

د شبکې اړوند وسایل لکه د NIC Card یا Ethernet port مشکلات له دغه ځایه پیدا او حل کولی شو؛ که دلته کلیک وکړو او Next ووهو د مخامخ صفحې په ډول صفحه به راته راښکاره شي:

دلته به هغه ځای انتخاب کړو کوم چې مشکل لري لکه : Wi-Fi, Ethernet, Bluetooth او که ټول مشکل ولري بیا به All network adapter انتخاب کړو او Next به ووهو مشکل به راته پیدا او حل کړي.

3 Option: Network and Internet





دلته د شبکې او انټرنټ اړوند مشکلات پیدا او حلولی شو؛ که کلیک وکړو لاندې صفحه به مشاهده کړو:

- Internet Connection

د شبکې سره د وصلېدلو مشکل راته پیدا کوي او حلوي يې.

- Shared Folder

کوم فولډر مو چې شبکه کې شریک کړی وی دهغې اړوند مشکلات پیداکوي او حلوي.

4 Option: System and Security





دلته د سیستم او امنیت اړوند ستونزې تشخیص او حلولی شو.

- Internet Explorer Safety

دلته د internet Explorer اړوند تنظیمات او امنیت معاینه کوو او ګورو چې Browser خو به نا امنه شوی نه وي که Recommended يې کړو بیا Browser خپل عادي حالت ته راځي.

- System Maintenance

د امنیت او ساتنې ستونزې پیدا کوي لکه د Fire wall, Windows Update او امنیتي پیغامونو ستونزې تشخیصوي.

Firewall:

په ویندوز کې یو امنیتي سیستم دی چې زموږ کمپیوټر او شبکه ساتي؛ اصلي دنده يې داده چې وګوري کوم پروګرامونه یا معلومات انټرنټ ته داخلیږي او وځي لنډه دا چې Firewall باید فعال وساتل شي ترڅو د هیکرانو له حملې څخه خوندي پاتې شو.

- Power

دلته کولی شو د برېښنا او د بطرۍ اړوند مشکلات پیدا کړو او حل يې کړو.

- Search and indexing

که کوم فایل په Search کې نه پیداکیږي له دغه ځایه يې مشکل حلولی شو.

د troubleshooting په صفحه کي نور آپشنونه هم ترسترګو کيږي چې په لاندې تصوير کې يې کتلی شو:

- View all

مورِ ته ټول هغه مشکلات ښيي کوم چې مورِ حل کړي وي.

- View history

مورِ ته د مشکلاتو د حل تاريخچه ښيي.

- Change settings

که دلته راشو يوه بله صفحه به راته خلاصه شي :



Computer Maintenance

که دا آپشن فعال کړو دا وخت ټاکي چې د سيستم ساتنې کارونه په کوم وخت کې ترسره شي او په اتومات ډول د ستونزو د لټون او حل لپاره کاريږي.

☐ Allow troubleshooting to being immediately when started

که دلته ټکمارک ولګوو او د يو څه troubleshoot کوو وينډوز به له مورِ څخه اجازه نه غواړي اتومات به هغه مشکل پيدا کوي او حل کوي خو که ټکمارک ونه لګوو زياتره وخت به کمپيوټر له مورِ څخه اجازه غواړي کله چې مورِ مشکل پيدا کوو او حلوو.

Control panel → Region Region

دغه آپشن د يوې منطقې (سيمې) نېټه او وخت، اسعار، د مايکروسافټ خدمات چې په افغانستان کې کوم خدمات يې فعال دي او دې ته ورته نور معلومات همدې سيمې اړوند برابروي او په کمپيوټر کې يې عملي کوي لکه وخت او نېټه د افغانستان ټاکو د پيسو واحد هم افغانی ټاکلی شو:

Shortcut: intl.cpl

کله چې دلته کليک وکړو لاندې يوه صفحه به راته Open شي:



دلته پورته ساحه کې ۳ بټنې شتون لري, Formats, Location, Administrative .

1 Button: Formats

- Format: English (United States)

په دغه ساحه کې چې هر هيواد انتخاب کړې د هغه هيواد تاريخ ، وخت او نېټه به د کمپيوټر وخت او نېټه وټاکل شي؛ چې مخامخ شکل کې د USA وخت او نېټه ټاکل شوي.

- Short date

د لنډ تاريخ فارمټ راته ښيي؛ هغه نېټه چې عادي حالت کې په ټاسکبار کې راته ښيي.

M معنا مياشت d معنا ورځ او y معنا کال که دلته دې هر ډول فارمټ انتخاب کړ نېټه به درته په همدې ډيزاين کې ښيي:

M/d/yyyy

چې خوا ځخه مياشت بيا ورځ بيا کال لکه: 03/4/2026

۳ مياشت ۴ ورځ ۲۰۲۶ کال

- Long date

د اوږدې نېټې فارمټ برابروي؛ اوږده نېټه هغه وخت کتلی شو کله چې د ماوس Pointer په ساعت ودروو لکه:

dddd/MMMM d/yyyy

چې خوا ځخه ورځ بيا مياشت بيا کال چې په پورته تصوير کې يې ليدلی شئ ؛ او که بل فارمټ انتخابوئ هم له دغه ځايه انتخابېدلی شي.

- Short time

له دغه ځايه هغه وخت چې په ټاسکبار راته ښيي د هغه فارمټ جوړولی شو؛ که H:mm يا HH:mm انتخاب کړو د کمپيوټرساعت به ۲۴ ساعته شي (AM & PM) به راته نه ښيي که د ورځې يو بجه شي ۱۳ به راته ښيي که ۲ بجې شي ۱۴ به راته ښيي او...

- Long time

دلته اوږد تاریخ لپاره فارمټ ټاکلی شو؛ کله چې په ټاسکبار کې په وخت باندې یو کلیک وکړو یوه کوچنی صفحه راته خلاصیږي دلته د همدغې صفحې لپاره فارمټ ټاکلی شو:



- First day of the week

دلته د اوونۍ لومړۍ ورځ ټاکو چې اونۍ دې له کومې ورځې شروع شي.

- Examples

په پورته آپشنونو کې که تغیرات راولو دلته یې مثالونه کتلی شو.

2 Button: Location



له دغه ځایه خپل موقعیت ټاکلی شو یا د نړۍ بل هیواد هم ټاکلی شو ګټه یې داده چې که هر هیواد مو ټاکلی وي د هغه هیواد د هوا حالت، یا ځینې ویبسایډونه همدغه سیمه ښه تشخیصوي او د همدې سیمې اړوند محتوا ښې او داسې نور خدمتونه چې مایکروسافټ کمپنۍ د هغه هیواد لپاره برابر کړي وي هغه به اکسیس کړو.

دلته د نړۍ هر هیواد ټاکلی شو.

3 Button: Administrative



د وېندوز ځینې سیستمي او غیر یونیکوډ (Non-Unicode) پروګرامونه له دغه ځایه خپل سیمه ییز تنظیمات اخلي.

✓ Copy Settings...

له دغه ځایه کولی شو د اوسني کارووونکي (Current User) تنظیمات کاپي کړو Welcome Screen ته System account ته یا نوی جوړېدونکي User Account ته.

کله چې کلیک کړو یوه صفحه به راته خلاص شي:



دلته د اوسني کارووونکي ټول تنظيمات ښيي راته.

☐ Welcome Screen and system accounts

که دلته ټکمارک ولګوو دغه اوسني تنظيمات به په Welcome Screen او System accounts باندې راته تطبيق کړي.

☐ New User Accounts

که دلته ټکمارک ولګوو کله چې نوی User Account جوړ شي دغه تنظيمات به د نوي کارووونکي په سيستم باندې هم تطبيق شي.

Control panel → indexing Options Indexing Options

دا item په ويندوز کې د چټک Search لپاره کارپرې تر څو يو فايل په چټکۍ سره پيدا کړو په D drive کې يا C drive کې يا ...

کله چې په دغه آپشن کليک وکړو مخامخ صفحه به مشاهده کړو:



➢ Modify

له دغه ځايه دا ټاکلی شو چې په کوم ډرايو کې دې چټک سرچ وکړي دلته به کليک وکړو او يوه بله صفحه به راته خلاصه شي:



دلته مو چې هر يو ډرايو انتخاب کړ هماغه به راته په چټک Search کې راته ښيي.

خو که دلته مو هر ډرايو انتخاب کړ مثلاً D Drive نو په همدغه drive به Right click وکړو او Properties ته به راشو بيا به General ته راشو او

☐ Allow files on this drive to have contents...

دلته به ټکمارک ولګوو ترڅو indexing ته اجازه ورکړي.

اوس چې Search کوو مطلوبه فايلونه به ډېر ژر پيداکوي.

➢ Pause

که دلته کليک وکړو چټک Search به بند شي.

➢ Advanced

که دلته کليک وکړو يوه بله صفحه به راته ښکاره شي:



په دغه صفحه کي هم دوه برخې کتلی شو:

- Index Settings

☐ Index encrypt files

کوډ شوي فايلونه يا کومو فايلونو ته مو چې پاسورډ ورکړی وي هغه هم index (د سرچ په ليست) کي داخلوي.

☐ Treat similar words with diacritics as different words

که دلته ټکمارک ولګوو بيا که داسي کلمې وي Ahmad او A`hmad نو وينډوز به دغه دواړه کلمې بېلې بېلې وګڼي ځکه دويم نوم کي د A لپاسه ` دغسي علامه ده او که ټکمارک ونه لګوو بيا يې وينډوز دواړه راته په سرچ کي ښيي له ` علامې څخه صرف نظر کوي.

Rebuild

د دغه آپشن دنده داده چې ټول index له سره جوړوي هغه وخت يې کاروو چې کله Search سم کار ونکړي، فايلونه نه پيداکيږي يا د لټون پايلي سمې نه وي.

کله چې په دغه آپشن کليک وکړو بيا به OK کليک کړو له modify څخه به بيا هغه فولډرونه او Drives وټاکو کوم کي چې مونږ Search کوو.

Select New

له دغه ځايه کولی شو يو نوی موقعيت وټاکو فولډر يا ډرايو په کوم کي چې مونږ غواړو سرچ وکړو.

- File Types

دلته دا ټاکو چې په سرچ کي دي راته کوم ډول فايلونه پيدا کړي يواځې عکسونه، ويډيو، pdf يا بل ډول فايلونه راته پيدا کړي.



که دلته کليک وکړو لاندي صفحه به راته خلاصه شي:

دلته که هر ډول فايلون سرچ کول غواړو هماغه ته به ټکمارک ولګوو او نور څخه به ټکمارک پاک کړو.

Index Properties Only

که دلته دغه اپشن انتخاب کړو يوازي د فايل نوم او معلومات index کوي.

Index Properties and file Contents

که دلته ټکمارک ولګوو د فايل دننه چې څه ليکل شوي وي د هغه په اساس هم سرچ کولی شو مثلاً د Word فايل دننه مو Afghan ليکلی که په Search کي Afghan هم وليکو دغه فايل به راته راپيدا کړي.

Control pane → Recovery Recovery

دا item ددې لپاره دی چې که کمپيوټر کې ستونزه پيداشي يا سيستم ضعيف شي، سيستم بېرته سم حالت ته راګرځوي او د ويندوز default حالت ته يې راولي.
که System restore کړو شخصي ډېټا له منځه نځي.



Open System Restore

که دلته کليک وکړو زمور سيستم restore کوي خو ډېټا مو له منځه نه ځي.
کله چې دلته کليک وکړو يوه بله صفحه به راته خلاصه شي:



دلته به د Next بټن کليک وکړو او يوه بله صفحه به راته خلاصه شي:



دلته به PROPLUS انتخاب او Next به کليک کړو؛ بيا به OK انتخاب کړو تقريباً نيم ساعت نه تر يو ساعت پورې انتظار به وکړو بيا به زمور سيستم Restore شي او د windows ډيفالټ Setting به په کمپيوټر اپلی شي.

Control panel → Windows Defender Windows Defender

دا د وينډوز امنيتي پروګرام(Antivirus) دی چې د ويرسونو (Viruses) مخنيوی او کشف کوي، د جاسوسی سافټوير (Spyware) مخنيوی کوي، فايلونه او پروګرامونه Scan کوي.
کله چې په دغه آپشن کليک وکړو لاندي صفحه به مشاهده کړو:



دلته ۴ بټنې شتون لري:

- Home

دلته کولی شو سکين وکړو چې ۳ ډوله سکين کوي

1: Quick

مهم ځايونه ژر معاينه کوي.

2: Full

ټول کمپيوټر معاينه کوي ؛ چې معمولاً وخت نيسي.

3: Custom

چې له دغه ځايه موږ پخپله فولډر انتخابوو کوم فولډر سکين کړي.

4: Scan now

کله چې دا کليک کړو Scan به شروع شي.

- Update

که دلته راشو همدا Windows defender به تازه شي او نوي د وايروس ډولونه به هم وپېژني او د update تنې په وهلو سره نوي امنيتي معلومات ډانلوډيږي ؛ دا آپشن بيدون له انټرنټ څخه کار نکوي.

Control panel → System 

دغه item مونږ ته د System په هکله بشپړ معلومات راکوي.
په مخامخ تصوير کې ۳ جدولونه ښکاري:



- Windows edition

دلته راته عامل سيستم ښيي چې کوم عامل سيستم (Window) مو نصب کړي ده.

- System

دا مهم ځاي دی دلته راته د کمپيوټر د هارډويئر او پروسيسور په هکله ټول معلومات ښيي؛ چې هر آپشن يې په لاندې ډول دی:

- Processor

دلته راته د کمپيوټر CPU او Generation (نسل) په اړه معلومات ښيي؛ کوم ماډل CPU ده Core i3, Core i5, Core i9 او دا هم راته ښيي چې کمپيوټر کوم نسل ده.
پورته تصوير کې Core i5 ليکلي دا کمپيوټر Core i5 ده له Core i5 څخه بيا Core i7 ښه ده ځومره چې د Core قيمت لوړيږي هغومره کمپيوټر قوي کيږي.
پورته تصوير کې M 520 يې ليکلي دي دا مونږ ته د کمپيوټر نسل ښيي که له M وروسته عددونه ۳ رقمي وو نو لومړی نسل کمپيوټر دی او که ۴ رقمي ول لکه Core i5-1135G7 نو له چپ خوا څخه به لومړي دوه عددونه وګورو چې څو دي دلته ۱۱ دي دا 11th Generation کمپيوټر دی.
که Core i5-8250U دغسې عدد وي دلته که له چپ خوا څخه دوه عددونه وګورو ۸۲ دي نو نشو ويلی چې دا ۸۲ نسل کمپيوټر دی ځکه تر اوسه (۱۴۰۵ ه . ش) کال پورې ۱۴ نسل کمپيوټرونه بازار ته راوتلي نو دلته به فقط چپ خوا څخه لومړی عدد ونيسو چې ۸ دی دا کمپيوټر ۸ نسل دی.
کله چې ځانته يا بل چاته کمپيوټر اخلو بايد لومړی يې Generation (نسل) وګورو ځکه که د يو کمپيوټر نسل څومره پورته وي هغومره کمپيوټر قوي او چټک وي.
دا پروسيسرونه Intel کمپنۍ جوړوي خو اوس يې د نوم طريقه بدله کړې لکه Intel Core Ultra 7 يا Intel Core Ultra 9 په دغو پروسيسرونو کې اوس د پخوانيو په شان د نسل سلسله نه کارول کيږي د نسل په ځاي (Series) کاروي لکه Intel Core Ultra 7 155H يا Intel Core ultra 7 258V
چې 1xx ماډولونه يې Series1 دي لکه (125H, 155h, 185H) او 2xx ماډلونه يې Series 2 دي لکه (226V, 258V, 288V) .

- Installed memory (RAM)

مورِ ته د کمپيوټر موقتي حافظه ښيي چې څومره ظرفيت لري که RAM هر څومره ډېر وي هغومره به کمپيټر ډېر او چټک کار کوي.

- System type 64-bit Operation System, x64 based Processor

د پراسسر نوعيت ښيي چې په يو وخت کې څومره ډېټا پراسس کولی شي اوس چې پورته تصويږ کې وګورو چې خوا څخه لومړنی ليکل شوی عدد چې ۶۴ دی معنا 64 bit وينډوز نصب شوې او x64 معنا پراسيسور په يو وخت کې 64 bit ډېټا پراسس کولی شي.

د کمپيوټر د اخستلو پر مهال بايد x64 عدد ته مو پام وي بايد x64 کمپيوټر واخلو ځکه اوس مهال زياتره سافټويرونه 64 bit دي که 32 bit کمپيوټر وي
بيا نشو کولی چې 64 bit سافټوير پکې نصب کړو.

- Pen and touch no pen or Touch Input is available for this display

که کمپيوټر مو ټچ سکرين وي يا د ټچ لپاره قلم ولري دلته يې راته ښيي.

- Computer name, domain and workgroup Settings

له دغه ځايه کولی شو د کمپيوټر نوم بدل کړو چې په شبکه کې ډېر مهم ده.
که غواړو د کمپيوټر نوم بدل کړو همدلته Change → Computer name → Change Settings کله چې دلته کليک وکړو يوه صفحه به راته خلاصه شي:



Computer name:
دلته به نوی نوم وليکو او OK به کليک کړو او restart now به کليک کړو کمپيوټر به Restart شي او د کمپيوټر نوم به بدل شي.

Control panel → Administrative tools



د کمپيوټر تر ټولو مهم item ده چې له دغه ځايه د کمپيوټر مهم تنظيمات برابرولی شو:



1 Option: Computer Management

که دلته کليک وکړو لاندې صفحه به راته خلاصه شي:

- Local Users and Groups

د سيستم او استعمالوونکي ټول اکاونټونه له دغه ځايه کټلی فعالولی او غير فعالولی شو.

- Disk Management

له دغه ځايه کولی شو د کمپيوټر دايمي حافظه (SSD/HDD) اړوند تنظيمات وکړو:

اوس که دلته موږ غواړو يو Drive دي راته نه ښيي (وصل ده خو کله چې په کمپيوټر آيکن کليک وکړو بايد دغه Drive دلته ونه ښيي) :

فرض کړه يو USB ده چې E Drive ده په همدې به Right Click وکړو:



دلته به ...Change Drive letter and Path باندې کليک وکړو.

اوس بله يوه صفحه راته خلاصه شي:



دلته به Remove باندې کليک کړو او Yes به کليک کړو اوس دغه USB Drive وصل ده خو په File Explorer کې به راته نه ښکاري.



دلته USB وصل ده خو دلته File Explorer کې يې راته نه ښيي.



که غواړو دغه فلش دې ېېرته راته وښيي:

دلته به په فلش Right Click وکړو او Change Drive Letter and Path باندې به کليک وکړو.



دلته به په Add باندې کليک وکړو.



دلته به OK کلیک کړو نو فلش به راته وښیي.
او هم له دغه ځایه کولی شو د Drive نوم بدل کړو.

2 Option: System Information

له دغه ځایه کولی شو د ټول سیستم او ټول کمپیوټر معلومات وګورو.



3 Option: System Configuration

د دغه item په واسطه کولی شو د کمپیوټر مهم تنظیمات ترسره کړو.

که کمپیوټر مو ضعیف وي او چټک کار نکوي لاندې مرحلې تعقیب کړئ:
اوس به لاندې صفحه راته راښکاره شي → System Configuration→Boot→Advanced Options...

Number of Processor:

دلته به کليک وکړو او تر ټولو لوی عدد به انتخاب کړو دا د پراسسر Cores دي.

Maximum Memory:

څو GB رم چې د کمپيوټر سره وصل وي هغه ټول اندازه به دلته انتخاب کړو او OK به کليک کړو بيا به Restart now کليک کړو کمپيوټر به Restart شي او د کمپيوټر په سرعت کې به انشأالله زياتوالی راشي.



دریمه برخه

مایکروسافټ آفس

مایکروسافټ آفس (Microsoft Office)



مایکروسافټ آفس د Microsoft شرکت لخوا جوړ شوی سافټویر دی.
دا پروګرام د کتابونو یا اسنادونو د لیکلو، حساب کتاب، پریزینټیشن او د معلوماتو د مدیریت (Database) لپاره کارېږي.
Microsoft Office په دفترونو ، ښوونځیو، پوهنتونونو او کاروبارونو کې ډېر کارېږي.
Microsoft Office نسخې:
Microsoft Office 2010, Microsoft Office 2013, Microsoft Office 2016, Microsoft Office 2019, Microsoft Office 2021
چې ۲۰۲۱ نسخه یې تر ټولو نوې او ښه نسخه ده خو په زوړ سیستم کمپیوټر کې یا کار نکوي او یا که کار هم کوي ضعیفه کار به کوي.
دغه لاندنیو برنامو ته دغه نومونه هم کارولی شو: MS Word, MS Excel او ...
مایکروسافټ آفس کې مهم سافټویرونه عبارت دي له : Word , Excel , Power Point , Access

Microsoft Word



دا پروګرام د کتابونو، اخبارونو، مکتوبونو او هر ډول لیکنو لپاره کارول کیږي.

Microsoft Excel

دا پروګرام د حساب کولو لپاره کارېږي او په مکتبونو کې د زده کوونکو د نتایجو لپاره هم کارول کیږی.

Microsoft Power Point

دا پروګرام د ښوونکو لپاره دی چې د خپل درس خلاصه دلته پکې لیکي او د سکرین په مخ یې زده کوونکو ته تشریح کوي.

Microsoft Access

دا پروګرام د کوچنیو ډیټابیسونو لپاره دی لکه د مکتب لپاره چې د ټولو زده کوونکو معلومات لکه نوم، پلار نوم، نیکه نوم، اساس نمبر، تذکري نمبر، موبایل شماره، ټولګی ، ولایت ، ولسوالی، کلی ، ادرس، عکس دا ټول په دغه پروګرام کې ساتلی شو.

د مایکروسافټ آفس د نصبولو طریقه:

که CD لرو او کمپیوټر مو CD-ROM ولري CD به داخل کړو او نصب به یې کړو.
که Hard disk یا USB کې راسره د Microsoft Office سافټویر وي Right click به پرې وکړو او نصب به یې کړو.
که انټرنټ څخه یې ډانلډوو د مایکروسافټ له رسمي سایډ څخه به یې ډانلوډ او نصب کړو.

Microsoft Word

یو معیاري سافټویر دی د کتابونو ، مقالو، راپورونو، مکتبونو او هر ډول لیکنو لپاره کارول کیږي.

د خلاصولو طریقه:

Start → word
Win + R → winword
یا یو فولډر کې Right Click → New → Microsoft Word Document به کلیک کړو.

کله چې MS Word پروګرام Open کړو لاندې صفحه به مشاهده کړو:





دغه پورته پټي ته Title bar وايي.

دغه پټي ټولي پټي ته Ribbon وايي چې په دي کې بيا دننه نور آپشنونه لکه File, Home, Insert, Design دي دغه هر يو ته بيا Tab وايي لکه
Home tab, File tab او...



دغه پټي ته هم Ribbon وايي چې دننه پکې ګروپونه دي لکه: Clipboard Group, Font Group, Paragraph Group, Style Group

دغه ساحه بنکته خواته چپ خوا کې شتون لري چې Status bar ورته وايي.

=rand()

که پورته فارموله په Word کې وليکو او Enter بټن ووهو مونږ ته به ۵ پاراګرافه ليکنه راکړي (ددې لپاره ده چې په دغه ليکنه يوه تجربه وکړي).
که دغه فارمولي قوس کې (20) وليکو مونږ ته به ۲۰ پاراګرافه ليکنه راکړي.

File Tab

که په File tab کليک وکړو لاندې صفحه به راسره مشاهده شي:



دلته چپ خوا کې ډېرې بټنې ليدل کيږي:

- Info

د ليکل شوي فايل په اړه معلومات راکوي؛ راته دلته ښيي
دلته ۲ جدولونه ښکاري:

1: Protected Document

له دغه ځايه کولی شو فايل ته پاسورډ ورکړو؛ دلته به کليک وکړو او Encrypt with Password به کليک کړو يوه صفحه به راته خلاصه شي هلته به پاسورډ وليکو او OK به کليک کړو بيا به بل جدول راښکاره شي هلته به بيا همدغه پاسورډ وليکو او OK به کليک کړو کله چې دغه فايل بيا خلاصوو پاسورډ به راځخه غواړي. که غواړو پاسورډ يې ببرته ختم کړو همدلته به راشو او ليکل شوی پاسورډ به پاک کړو او OK به کليک کړو پاسورډ به ختم شي.

2: Properties

دلته موږ ته د فايل په هکله معلومات ښيي چې څومره صفحې لري، څومره لغاتونه لري، د فايل نوم څه ده، د کمپيوټر څومره حافظه يې نيولې، د کمپيوټر په کوم ځاي کې دغه فايل ثبت ده او...

- New

له دغه ځايه کولی شو يو نوی فايل خلاص کړو که دلته کليک وکړو لاندې صفحه به راته خلاصه شي:



له دغه ځايه کولی شو تيار ليکل شوي او ډيزاين شوي فايلونه هم Open کړو لکه د زده کوونکو مياشتنی راپور يا د زده کوونکو ستاينليک که د زده کوونکو ستاينليک دلته موجود نه و په پورته Search کې به Student Appreciation of School وليکو په دې شرط چې کمپيوټر بايد انټرنټ سره وصل وي او د زده کوونکي نوم او د مکتب نوم به پکې اضافه کړو.

که غواړو يوه خالي صفحه دې راته خلاصه شي Blank به انتخاب کړو.

Ctrl + N

موږ ته نوې صفحه خلاصوي.

- Open

که دلته کليک وکړو کوم word فايلونه چې موږ سره کمپيوټر کې ذخيره وي هغه به له دغه ځايه Open کړو.

Shortcut: Ctrl + O

- Save

له دغه ځايه کولی شو فايل په کمپيوټر کې ذخيره کړو.

Shortcut: Ctrl + S

- Save as

کولی شو يو فايل په څو نومونو او څو ځايونو کې ذخيره کړو.

Shortcut: F12

- Print

کولی شو دغه فایل Print کړو په دي شرط چې کمپيوټر سره پرنټر وصل وي.

Shortcut: Ctrl + P

- Share

کولی شو دغه فایل د E-mail دلاري ولېږو يا يې په Cloud کې ذخيره کړو.

Cloud:

يو انلاين ذخيره ده چې استعمالوونکي کولی شي خپل معلومات پکې ذخيره کړي.

- Export

کولی شو دغه فایل pdf ته بدل کړو ځکه نن ورځ pdf فارمټ په هر ځاي کې کاريږي.

- Close

کولی شو اوسنی Document بند کړو.

کله Close کلیک کړو يا په پورته ساحه کې د X علامه کلیک کړو لاندې يو پيغام به راته ښکاره شي:



Save:

که دا کلیک کړو فایل به راته ثبت کړي.

Don't Save:

که دا کلیک کړو فایل به ثبت نه کړي او فایل به بند شي.

Cancel

که دا کلیک کړو دغه پيغام به ختم شي او بېرته به په همدغه فایل کې پاتې شو.

Home Tab



دغه Tab په ۵ ګروپونو وېشل شوی:

1 Group:- Clipboard

- Cut

ددې په واسطه کولی شو يوه ليکنه له يوه ځايه کټ کړو(پرېک کړو)؛ که کومه ليکنه کټ کول غواړو لومړی به هغه انتخاب کړو بيا به يې کټ کړو.

Shortcut: Ctrl + X

- Copy

کولی شو د يوې ليکنې کاپي واخلو(ليکنه دي په لومړني ځاي کي هم موجوده وي او بل ځاي ته دي هم انتقال شي).

Shortcut: Ctrl + C

- Past

که کومه ليکنه مو کاپي کړې وي يا مو Cut کړې وي ددې په واسطه کولی شو نوي ځاي کي دغه ليکنه واچوو؛ لومړی به په يو ځاي کي کليک وکړو چېرته چې ليکنه راوستل غواړو بيا Past کليک کړو.

Shortcut: Ctrl + V

- Format Painter

Ahmad

Khan

دلته که وغواړو چې Ahmad نوم په کوم ډيزاين او په کوم رنګ ليکل شوی د Khan نوم بايد د Ahmad د نوم په شان ډيزاين او رنګ واخلي نو لومړی د Ahmad نوم انتخاب کړو بيا به Format Painter کليک کړ؛ وروسته له دي به د Khan نوم انتخاب کړو د Khan نوم به هم د Ahmad په شان ډيزان واخلي.

2 Group:- Font

دغه برخه مو په WordPad پروګرام کي ويلي ده.



دلته فقط ۲ آپشنونه اضافه دي:

1: Text Effects

که دلته کليک وکړو له دغه ځايه کولی شو ليکنو ته بڼکلي او ۳ بعدي ديزاينونه انتخاب کړو.

2: Clear all formatting

که يوې ليکنې ته مو ډېر ډيزاينونه ورکړي وي او غواړو هغه ديزاينونه ترې ختم کړو همدغه ليکنه به انتخاب کړو او Clear all formatting به کليک کړو ساده ليکنه به پاتي شي.

3 Group:- Paragraph

- Bullets

که يو څه ليست کوو کولی شو د هر قطار په پيل کي علامي وکاروو چې په لاندي ډول دی:

- Align Left , Center , Align Right

دغه مخامخ ۳ آپشنونه دي له چپ خوا څخه:



1:- Align Left

که کوم قطار کې د ماوس Cursor وي او دا کليک کړو ليکنه به راته چپ خوا څخه ليکي؛ او که ډېره ليکنه مو کړي وي غواړو له چپ خوا څخه دې راشي ټوله ليکنه به انتخاب کړو او دا آپشن به کليک کړو ټوله ليکنه چپ خواته راځي.

Shortcut: Ctrl + L

2:- Center

ليکنه منځ ته راوړي.

Shortcut: Ctrl + E

3:- Align Right

ليکنه ښي طرف ته راوړي.

Shortcut: Ctrl + R

- Decrease indent & increase indent

دغه دواړه آپشنونه ليکنه په قطار کې ښي طرف او چپ طرف ته لږ لږ انتقالوي.



- Left to Right & Right to Left

دغه دوه آپشنونه هغه وخت استعماليږي کله چې پښتو ژبه او انګليسي ژبه دواړه يو ځاي ليکو؛ که انګليسي ژبه ډېره ليکو او يوه يوه کلمه پکې د پښتو ژبې هم ليکو بيا به Left to Right انتخاب کړو او که پښتو ژبه ډېره ليکو او يوه يوه کلمه پکې د انګليسي هم ليکو بيا به Right to Left انتخاب کړو.



- Line and paragraph spacing



دلته کولی شو د قطارونو او پاراګرافونو تر منځ فاصله وټاکو چې بايد هر قطار به له پورته قطار څخه څومره لرې واقع شي.

- Shading



له دغه ځايه کولی شو د يو قطار لپاره د ليکنې لاندې رنګ وټاکو؛ چې ټول قطار به په دغه رنګ وي.

Afghanistan
Afghanistan
Afghanistan
Afghanistan
Afghanistan

که غواړو چې دغه رنګونه دې ببرته لېرې شي په همدې آپشن به کليک وکړو او No Color به انتخاب کړو.

- Borders

له دغه ځايه کولی شو د پاراګراف لپاره بارډر وټاکو، د هر پاراګراف پورته يا ښکته يا ټول پاراګراف څخه بايد بارډر وي لکه:

Video provides a powerful way to help you prove your point. When you click Online Video, you can paste in the embed code for the video you want to add. You can also type a keyword to search online for the video that best fits your document.
To make your document look professionally produced, Word provides header, footer, cover page, and text box designs that complement each other. For example, you can add a matching cover page, header, and sidebar. Click Insert and then choose the elements you want from the different galleries.
Themes and styles also help keep your document coordinated. When you click Design and choose a new Theme, the pictures, charts, and SmartArt graphics change to match your new theme. When you apply styles, your headings change to match the new theme.
Save time in Word with new buttons that show up where you need them. To change the way a picture fits in your document, click it and a button for layout options appears next to it. When you work on a table, click where you want to add a row or a column, and then click the plus sign.
Reading is easier, too, in the new Reading view. You can collapse parts of the document and focus on the text you want. If you need to stop reading before you reach the end, Word remembers where you left off - even on another device.

که غواړو هيڅ بارډر دې رانشي No Border به انتخاب کړو.

- Sort

دا تنظيم کوي فرض کړه مونږ لاندې ليست لرو:

اوس غواړو دغه نومونه داسې تنظيم کړو که د چا نوم په "ا" شروع وي هغه دې لومړی راشي، ورپسې که "ب" د چا د نوم لومړی توری وي دويم دې هغه راشي همداسې تر آخره که " ي" د چا د نوم په آخر کې وي هغه دې آخره کې راشي.



په دې آپشن به کليک وکړو او يوه صفحه به راته خلاصه شي:

دلته به په مخامخ جدول کې Paragraphs انتخاب کړو او په

يما
وحيد
علي
شمس
رضوان
حميد
حمزه
جواد
بلال
احمد

Type: کي به Text انتخاب کړو او Ascending به انتخاب کړو له الف نه تر ي پوري به نومونه تنظيم کړي.

که غواړو له ي څخه دي شروع وکړي او آخري نوم دي د هغه چا راولي چي لومړی توری يي الف وي بيا به Descending کليک کړو.

نوټ: دغه همدغه طريقه د انګليسي نومونو لپاره هم کاريږي.

4 Group:- Styles



له دغه ځايه هم کولی شو ليکنو ته ډيزاين ورکړو؛ که غواړو ډيزاين بېرته ختم شي Normal به کليک کړو.

5 Group:- Editing



1:Find

که موږ ۲۰۰ صفحي کتاب ليکلی وي او غواړو د خان نوم پکي پيدا کړو دلته به کليک وکړو او لاندي جدول کي به خان وليکو راته پيدا به يي کړي.

دلته يي راته ډېري هغه جملي پيدا کړي په کومو کي چي خان ليکل شوي هري جملي ته چي تلل غواړو همغه به کليک وکړو که دا جمله په هره صفحه کي وي هملته به مو بوځي.

Shortcut: Ctrl + F

2:- Replace

له دغه ځايه کولی شو ليکل شوي کلمي نورو کلمو ته بدلي کړو.
که دلته کليک وکړو مخامخ صفحه به مشاهده کړو:

که موږ ۲۰۰ صفحي کتاب ليکلی وي او په مختلفو صفحو کي مو د احمد نوم ۵۰ ځلي ليکلی وي غواړو د احمد د نوم په ځاي د کريم نوم وليکو Find what دلته به د احمد نوم وليکو او Replace with دلته به د کريم نوم وليکو او Replace all به کليک کړو همدا ۵۰ ځلي د احمد په ځاي به د کريم نوم راشي.

Shortcut: Ctrl + H



Go To

له دغه ځايه کولی شو يوي صفحي ته لاړ شو Page به انتخاب کړو او مخامخ جدول کي به د صفحي نمبر وليکو او Next به کليک کړو مستقيم به همغي صفحي ته لاړ شو.

Shortcut: Ctrl + G



3:- Select



له دغه ځايه کولی شو ليکنه يا تصويران انتخاب کړو.

- Select All

ټوله ليکنه او ټول تصويران انتخابوي.

Shortcut: Ctrl + A

- Select Objects

تصويران يا شکلونه انتخابوي.

Insert Tab



Insert Tab هم له مختلفو ګروپونو جوړ دی:

1 Group:- Pages



- Cover Page

له دغه ځایه کولی شو د کتاب لپاره پوخ جوړ کړو:

دلته به یو Cover انتخاب کړو او د خپلې خوښې لیکنه به وکړو.

More Cover from Office.com

کولی شو په انلاین ډول نور پوخونه هم سرچ کړو.

Save Selection to Cover Gallery...

که کوم Cover کې مو تغیرات راوستل کولی شو دلته یې ثبت کړو او په نورو کتابونو کې تري اسفاده وکړو.

- Blank Page

فرض کړه ۵ ورقې کتاب مو لیکلی دی غواړو د ۲ او ۳ صفحې په منځ کې یوه خالي صفحه واخلو د ۲ صفحې په آخره کې به یو کلیک وکړو او Blank Page اپشن به انتخاب کړو د ۲ او ۳ صفحې په منځ کې به یوه خالي صفحه اضافه شي.

- Page Break

که ۵ ورقې لیکنه مو کړې وي او د ۳ ورقې په دویم قطار کې کلیک وکړو بیا Page Break انتخاب کړو له دغه کلیک شوي ځای څخه بنکته ټوله لیکنه به راتلونکي صفحې ته انتقال کړي او پورته لیکنه به همدغه ورقه کې پاتې شي.

2 Group:- Tables

له دغه ځایه کولی شو جدولونه رسم کړو:



که په هره اندازه Row او Column انتخاب کړو په هماغه ډول جدول راته جوړوي.

3 Group:- Illustrations



له دغه ځايه کولی شو تصويران، شکلونه او ګرافونه راولو:

- ✓ Pictures

کولی شو تصوير په ليکنه کي اضافه کړو.

- ✓ Online Pictures

کولی شو آنلاين تصويران ليکني سره راولو.

- ✓ Shapes

کولی شو شکلونه رسم کړو:



دا شکلونه په ډيزاينونو کي ډي د استفادي وړ دي.

فرض کړه دغه شکل مو رسم کړ په پورته Ribbon کي به راسره يو بل Tab د Format په نوم پيدا شي؛ چې له دغه ځخه به په شکل کي تغيرات راوستلی شو.



Format tab

Insert Shapes

کولی شو په رسم شوي شکل لپاسه بل شکل رسم کړو.

Shape Styles

کولی شو د شکل رنګ او ډیزاین بدل کړو.

Shape Fill

کولی شو د شکل دننه ډیزاین وټاکو؛ لکه د شکله دننه رنګ او ډیزاین او لاندي آپشنونه پکي شامل دي:



کولی شو د شکل رنګ هم وټاکو او که غواړو د شکل دننه دي راته تصویر راشي بیا به دلته ...Picture باندي کلیک وکړو او یو تصویر به راشي لکه:



Shape Outline:

د شکل بیرونی بارډر کي تغیرات راوستلی شو له رنګونو څخه رنګ انتخابولی شو او که No Outline انتخاب کړو بیا به هیڅ بیرونی بارډر ونلري.

Shape Effects:

د شکل ډیزان له دغه ځایه هم کولی شو او هم شکل ۳ بعدي کولی شو.

Wrap Text:



کولی شو د شکل ځای وټاکو له لیکني سره په کوم ډول حالت کي دغه شکل باید موجود وي. که دله Behind Text وټاکو شکل به د لیکني شاته راځي او که in Front of Text کلیک کړو د لیکني لپاسه به شکل راځي؛ او
که Edit wrap Points کولی شو د شکل په زاویو کي پخپله تغیرات راولو.

- SmartArt

کولی شو تیار جوړ شوي ډیزاینونه ددې لپاره راوړ چې یو څه یې راته پکې تشریح کړي وي؛ لکه:



- Chart

له دغه ځایه کولی شو د معلومات د ګراف په بڼه وښایو لکه : که یو مکتب فرض کړو چې هر ټولګي کې څومره زده کوونکي شتون لري غواړو دا د ګراف په ډول سره وښایو؛ په Chart به کلیک وکړو او لاندې صفحه به خلاصه شي:

دلته کولی شو مختلف ډوله ګرافونه انتخاب کړو خو مور دلته د Column ګراف انتخابوو او OK به کلیک کړو:



د لاندې صفحې په ډول صفحه به راته خلاصه شي:



په پورته جدول کې به د Category په ځای ټولګي ولیکو او په B سطر کې به د زده کوونکو تعداد ولیکو؛ لکه په لاندې ډول:



اوس به ددې ګراف راته په لاندې ډول سره وښايي:

په دې ډول کولی شو د هر ډول ډېټا لپاره دغسې ګراف جوړ کړو چې همدغه ډېټا هم کولی شو په بل ډول ګراف سره وګورو لکه دايروي:



- Screenshot 

کولی شو د سکرين څخه عکس واخلو او ورډ فايل ته اتومات راځي.

4 Group: Header & Footer



کولی شو د ورقې د پورته او ښکته ساحې تنظيمات وکړو.

Header

د ورقې پورته ساحې ته وايي لکه لاندې شکل کې:



که دلته هر څه وليکو د ټولو صفحو په سر کې به همدغه ليکنه راشي.

Footer



د ورقې لاندې ساحې ته وايي لکه لاندې تصوير کې:

که دلته هم هر څه وليکو د ټولو صفحو په آخر کې به راته ښکاره شي.

Page Number

له دغه ځايه کولی شو د صفحو نمبر انتخاب کړو:



دلته که Top of Page انتخاب کړو د ورقې پورته ساحه کې به د صفحې شماره راځي او که Bottom of Page انتخاب کړو د ورقې په لاندې ساحه کې به راته د صفحې نمبر ښيي.

5 Group: Text



- Text Box

د ليکنې بکس ده که دلته کليک وکړو د ماوس په واسطه به يو بکس جوړ کړو او دننه به پکې ليکنه وکړو بيا کولی شو دغه ليکنه هر ځاې ته انتقال کړو که له ليکنې سره بګروند او باډر راځي :

بګروند ختمول: پورته Ribbon کې به Format ته راشو او Shape fill به کليک کړو او No Fill به انتخاب کړو که رنګ ورکوو له همدغه ځايه ورته رنګ هم ټاکلی شو.

باډر ختمول: پورته Ribbon کې به Format ته راشو او Shape Outline به کليک کړو دلته به No Outline انتخاب کړو د بکس باډر به هم ختم شي.

- Date & Time

له دغه ځايه کولی شو وخت او نېټه هم د ليکنې سره راولو.

- Signature Line

که خپله امضا مو په يو کاغذ کړې وي او سکين کړې مو وي کولی شو دلته له ليکنې سره يې راولو.

6 Group: Symbols



دغه ګروپ کي کولی شو د ليکني سره سمبولونه هم راولو

- Equation

کولی شو رياضيکي سوالونه دلته راولو او حل يي کړو لکه :

$$x = \frac{-b \pm \sqrt{b^2 - 4ac}}{2a}$$

- Symbol

کولی شو سمبولونه او نښې له دغه ځايه له ليکنو سره اضافه کړو.

Design Tab

دغه tab کي کولی شو د ليکني او ورقي لپاره ډيزاين انتخاب کړو.

1 Group: Document Formatting

له دغه ځايه کولی شو د ليکني ډيزان بدل کړو.

2 Group: Page Background



- Watermark

له دغه ځايه کولی شو د صفحي د اصلي ليکني لاندي ليکنه راولو يا يو تصوير راولو.

- Page Color

کولی د ټولي صفحي لپاره رنګ وټاکو چې ټوله صفحه دي په کوم رنګ وي.

- Page Borders

کولی شو د ټولې صفحې لپاره باډر وټاکو؛ Page Border→Art دلته به کلیک وکړو مختلف شکلونه به راته بښکاره شي چې د صفحې د باډر په توګه يې ټاکلی شو.

Page Layout Tab



1 Group: Page Setup

- Margins

کولی شو د لیکنې اندازه د ورقې د څلورو طرفونو څخه وټاکو چې لیکنه دې څومره لېرې وشي د ورقې له ۴ طرفونو څخه.

- Orientation

کولی شو د صفحې ډول انتخاب کړو صفحه دې افقي وي که عمودي.

- Size

د صفحې سایز ټاکلی شو لکه A4 ورقه، A3 ورقه او...

- Line Numbers

کولی شو د هرې کرښې لیکنې سره دې نمبر راته وښیي دلته به Continuous انتخاب کړو.



View Tab



1 Group: Views

کولی شو د صفحې د کتلو مختلف ډولونه وګورو(صفحه دې راته په مختلف ډولونو ښکاره شي).

2 Group: Show

- Ruler

که دلته ټکمارک ولګوو د ورقې په دوه طرفونو کې به راته خطکش ښکاره کړي

- Gridlines

که دلته ټکمارک ولګوو د صفحې لاندې به راته سطرونه او ستونونه ښکاره شي؛ لکه لاندې تصویر:



- Navigation Pane

که دلته ټکمارک ولګوو د سکرین په چپ طرف کې به راته یو جدول ښکاره شي چې په واسطه یې کولی شو یو نوم یا یوه جمله پیدا کړو.



که هر کلمه یا لغات پیدا کول غواړو دلته به یې سرچ کړو.

Designs in MS Word Program (ډیزاینونه په ورډ کې)



Microsoft Excel

د مايکروسافټ آفس له پروګرامونو څخه يو پروګرام دی چې د محاسبو لپاره کارول کيږي.

د خلاصولو طريقې:

Start→ Excel
Win + R → Excel
Right Click → New → Microsoft Excel Worksheet

د مايکروسافټ ايکسل لومړی صفحه پېژندل



دلته به له نويو الفاظو سره اشنا شو:

- Cell

دلته هري خانې ته Cell (حجره) وايي.

- Row

افقي قطارونو ته (ښي طرف څخه چې چپ طرف ته غزېدلي) Row وايي لکه 1 Row, 2 Row او...



- Column

عمودي قطارونه چې له پورته څخه ښکته خواته پراته دي Column وايي لکه پورته تصوير کې A څخه ښکته تول لين ته Column وايي او
همداسې B توري څخه ښکته دي ته د B کالم وايي او همداسې C Column او...



دغه ټولې صفحې ته Sheet وايي چې کولی شو په يو ايکسل فايل کې څو Sheets واخلو.



Formula bar

که کومه فارموله اپلی کوو دلته يې هم راته ښيي:



Cell Address

دلته په ايکسل کې هر Cell ځانته يو آدرس لري لکه A3, B5, D9 لته له A3 کې له A څخه هدف A Column او له 3 څخه هدف دريم Row ده.



دلته که وګورو هر Cell خپل آدرس لري لکه ۴۷ چې ليکل شوي ددې آدرس A5 دي ځکه په A کالم کې دی او 5 نمبر Row ده.
د 50 آدرس B3 ده ځکه په B Column کې ده او په 3 نمبر Row کې ده.
د 78 آدرس C4 ده ځکه په C Column کې ده او په 4 نمبر Row کې ده.
دغه ويکتور چې ورته شوی معنا داده چې دغه Cell انتخاب شوی او که اوس ليکنه کوو همدغه Cell کې به ليکنه کيږي؛ چې ددې Cell آدرس D5 ده.

که کوم Cell کې مو کليک کړی وي ددې آدرس راته د Clipboard ګروپ لاندې ښيي چې په تصوير کې په سور جدول کې ښودل شوی دی.

له دغه ځايه کولی شو بل Sheet هم اضافه کړو د جمع علامه به کليک کړو.
که غواړو ددي Sheet نوم بدل کړو همدلته به پري Right Click وکړو
او Rename ته به راشو.

څه فکر کوئ په يو Sheet کي به څومره Cells موجود وي؟
لومړی به د ستونونو نوم بدل کړو نمبرو ته طريقه يي:

File→Options→ Formulas→ ☐R1C1reference style

دلته به ټکمارک ولګوو او د Columns نومونه به له A, B ,C څخه 1,2,3 ته بدل شي.
Ctrl بټن به زور ونيسو او (↓) Down Arrow key به ووهو آخري Row ته به راشو او بيا به Ctrl بټن زور ونيسو او (→) Right Arrow key به ووهو آخري Column ته به لاړ شو اوس به دغسي يو نمبر راته ښکاره شي:



آخري Row نمبر 1048576 ده او آخري Column نمبر 16384 ده چې ټول Cells معلوموو
1048576 x 16384 = **17178820608**
نو ټول **17178820608** Cells په يو Sheet کي موجود دي.

او که دغه فايل کي بل Sheet واخلو نو په هغه کي به هم دغومره Cells موجود وي.

Home Tab



په ايکسل کي د Home tab هم په مختلفو ګروپونو وېشل شوی چې هر ګروپ ځانته دنده ترسره کوي:

1 Group: Clipboard

دغه ګروپ مو په MS Word پروګرام کي ويلی دی.

2 Group: Font

دا ګروپ مو هم په MS Word پروګرام کي ويلی دی خو دلته فقط يو آپشن اضافه دی:

➢ Border

له دغه ځايه کولی شو Cells ته بيرونی بارډر وټاکو که بارډر ونه ټاکو بيا چې کله دغه ورقه Print کړو بارډر به نلري.

کله چې په دغه آپشن کليک وکړو لاندي صفحه به راته خلاصه شي:



له دغه ځايه کولی کوم سيلونه مو چې انتخاب کړي وي فقد د هغې پورته خواته بارډر ورکړو يا ټولو طرفونو ته يې بارډر ورکړو او هم کولی شو د بارډر رنګ بدل کړو او د بارډر ډيزاين هم بدلولی شو.

3 Group: Alignment



✓ 1 Option: Top Align

کولی شو لیکنه د Cell په پورته ساحه کې راولو؛ لکه:



✓ 2 Option: Middle Align

کولی شو لیکنه له پورته خوا څخه د Cell په منځ کې راولو.

✓ 3 Option: Bottom Align

کولی شو له پورته څخه ښکته خواته د Cell په لاندې ساحه کې لیکنه وکړو؛ لکه:

✓ 3, 4 ,5 Options: Align Left, Center, Align Right

Align Left په واسطه لیکنه به د Cell له چپ طرف څخه کیږي، Center لیکنه به له منځ څخه کیږي، Align Right لیکنه به له ښي طرف څخه کیږي.

✓ 7 Option: Orientation

که دلته کلیک وکړو لاندې صفحه به مشاهده کړو:



کولی شو په Cell کې افقي ډول، مایل ډول، عمودي ډول او په هره درجه لیکنه وکړو:

لکه مخامخ شکل په هره درجه کې کولی شو لیکنه وکړو؛ او که بیا په خپله خوښه درجه ټاکو بیا به Format Cell Alignment اپشن باندې کلیک وکړو او د خپلې خوښې درجه به وټاکو.

✓ 8 Option: Decrease indent

کولی شو ليکنه په Cell کي لږ لږ چپ طرف ته انتقال کړي.

✓ 9 Option: increase indent

کولی شو ليکنه په Cell کي لږ لږ ښي طرف ته انتقال کړي.

✓ 10 Option: Right to Left & Left to Right

کولی شو ليکنه له ښي طرف څخه چپ طرف ته او له چپ طرف څخه ښي طرف ته وکړو.

✓ 11 Option: Wrap text

✓
✓ که دغه آپشن مو نه وي انتخاب کړی نو که ليکنه له Cell څخه وځي د پورته ليکني په ډول به د بل
✓ Cell لپاسه راځي او که دغه آپشن مو انتخاب کړی وي کله چې ليکنه د Cell آخري ساحي ته ورسيږي
✓ نوره ليکنه به ښکته کيږي.
✓
✓
✓

Afghanistan is Beautiful

Afghanist
an is
Beautiful

✓ 12 Option: Merge & Center

کولی شو Cells (ډېر سيلونه) يو ځاي کړو او يو Cell ورڅخه جوړ کړو؛ دا آپشن هغه وخت کارول کيږي کله چې مونږ د صفحې په سر کي عنوان ليکو
ټول عنوان به په يو Cell کي نه ليکو.



که دلته کليک وکړو مخامخ صفحه به مشاهده کړو:
که Merge & Center کليک کړو سيلونه به انتخاب شي او ليکنه به له منځ څخه کيږي.
که دا کليک کړو کوم سيلونه مو چې انتخاب کړي وي هر يو به بيل بيل Row کي يو ځاي کړي لکه:



که سيلونه مو يو ځاي کړي وي او غواړو بېرته يې جلا کړو Unmerge Cells به انتخاب کړو.

4 Group: Number



که دلته په General باندې کليک وکړو لاندې صفحه به مشاهده کړو:



- General

د ايکسل عادي (default) بڼه ده؛ شمېرې، متن او نور معلومات هماغسې ښيي چې کوم ډول داخل شوي وي.

- Number

شمېرې په عادي عددي بڼه ښيي لکه : که فقط 40 وليکو نو اتومات 40,00 کيږي چې عددي برخه يې هم ورسره ښيي.

- Currency

کولی شو د نمبرونو سره پولي واحد راولو لکه : افغانی، ډالر، پاونډ او...
څنګه ورسره Afg راوستلی شو:
په مخامخ شکل کې چې ...More Number Formats ليکلي کليک به پرې وکړو Number
button→Currency→Symbol
دلته به A بټن کليک کړو نو AFN به هم راته را ښکاره شي.

- Accounting

که يو دا انتخاب کړو بيا که عددونه ليکو د اکاونټينګ په ډول به يې راته ليکي لکه : که 90 وليکو اتومات به $90,0,00 دغسې شکل ته واوړي.

- Short Date

دلته راته لنډ تاريخ ښيي (تاريخ له ۱/۱/۱۹۰۰) ورځې څخه شروع کيږي مثلاً که 25 دي وليکل 1900/1/25 به په دغه Cell کې وليکي او په همدې ترتيب هر څومره چې پورته عدد ليکي هغومره به تاريخ اوس زماني ته رانږدې کوي درته.

- Long Date

دلته راته اوږد تاريخ ښيي لکه Tuesday, January 3, 1900 هم ورځ او هم مياشت په ليکلي بڼه دا هم له 1900/1/1 تاريخ څخه شروع کيږي مثلاً که 5 ليکي Thursday, January 5, 1900 تاريخ به راته راکړي.

- Time

د کومو Cells لپاره چې time انتخاب کړو کولی شو وخت پکې بیا ولیکو لکه 7:8 چې ولیکو اتومات 7:08 AM دغسې پخپله جوړوي.

- Percentage

که دا د کومو Cells لپاره وټاکو که یو عدد پکې بیا ولیکو لکه 40 نو اتومات ورسره د فیصدي علامه اضافه کوي لکه: 40%

- Text

لیکنه، عددونه او هر څه د لیکنې په ډول ذخیره کوي که cells لپاره Text انتخاب شوی وي او مونږ غواړو جمع يې کړو نه به جمع کیږي ځکه Text انتخاب شوی باید General یا Number انتخاب کړو تر څو ریاضیکي عملیې په عددونو ترسره کړو.

5 Group: Styles

له دغه ځایه کولی شو جدول ته ډیزاینونه ورکړو.

6 Group: Cells



- Insert



کولی شو یو نوی Row یا Column یا نوی Sheet اضافه کړو.

- Delete



کولی شو یو نوی Row یا Column یا نوی Sheet ډیلیټ کړو کړو.

د مايکروسافټ ايکسل فارمولي

په ايکسل پروګرام کي ډېرې فارمولي شتون لري چې په مختلفو کټګوريو وېشل شوي دي لکه : حسابي فارمولي، د وخت او نېټې فارمولي، د متن فارمولي، منطقي فارمولي، احصايوي فارمولي، د لټون فارمولي، مالي فارمولي، ډېټابيس فارمولي، معلوماتي فارمولي، انجينرۍ فارمولي.

حسابي فارمولي

1: =sum(A1;A2)

دغه دواړه Cells به جمع کړي.

او که غواړو ډېر Cells په يو وخت انتخاب کړو لکه: (sum(a1:b10= دا ددي تر منځ چې څومره Cells وي هغه ټول عددونه جمع کوي.

G1+H8+A10= کولی شو په انتخابي ډول يو يو Cell هم جمع کړو.

2: =C1 – A2

له C1 خانې څخه د A2 خانه منفي کوي.

3: product(a3;b6)

A3 حجره به له b6 سره ضرب کړي.

b6*c9= په دغه ډول هم ځانګړي حجرې ضربولی شو.

4: b9/a3

د b9 حجره په a3 حجره باندې وېشي.

5: average(a1:a10)

د دغو حجرو اوسط به راته وښايي.

6: =max(a1:a10)

په دغو حجرو کې به راته تر ټولو لوړ قيمت پيدا کړي.

7: =min(a1:a10)

په دغو حجرو کې به راته تر ټولو کوچنی قیمت پیدا کړي.

8: =count(a1:a5)

له a1 حجرې څخه تر a5 حجرې پورې د هغو حجرو حساب به راته راکړي په کوم کې چې عدد لیکل شوی وي که لیکنه پکې شوې وي هغه به نه حسابوي.

9: =500*10%

د ۵۰۰ عدد ۱۰٪ راته محاسبه کوي.

د وخت او نېټې فارمولې

1: =today()

د نن ورځې نېټه به راولي.

2: =now()

د اوس وخت نېټه او وخت دواړ راته راولي.

3: =year(a1)

که a1 حجره کې نېټه وي فقط کال به ترې راولي.

4: =month(a1)

که a1 حجره کې نېټه وي فقط میاشت به ترې راولي.

5: =day(a1)

که a1 حجره کې نېټه وي فقط ورځ به ترې راولي.

6: =hour(a1)

که a1 حجره کې نېټه او وخت وي فقط ساعت به ترې راولي.

7: =minut(a1)

که a1 حجره کې نېټه او وخت وي فقط دقیقه به ترې راولي.

8: =second(a1)

که a1 حجره کې نېټه او وخت وي فقط ثانيه به تري راولي.

9: =b5-c9

که دواړو حجرو کې نېټې وي د دواړو نېټو ترمنځ به د ورځو تفاوت راته وښيي.

10: =date(2026;6;20)

خپله نېټه جوړول.

11: =time(10;30;00)

خپله وخت جوړول.

12: =

د متن فارمولي

1: =len(a4)

په دغه حجره کې چې څومره توري ليکل شوي وي د هغې شمېر راته راکوي(Space) هم پکې حسابوي.

2: =left(b4;3)

که دغه حجره کې مو Ahmad ليکلی وي د چپ لوري څخه فقط ۳ توري Ahm را اخلي؛ خو که پښتو ژبه باندې مو ليکنه کړې وي بيا له ښي خوا څخه ۳ توري را اخلي : نتيجه Ahm

3: =right(c5;4)

که دغه حجره کې مو هر څه په انګليسي ليکلي وي له ښي خوا څخه به ۴ توري يې را واخلي ؛ خو که په پښتو ژبه مو ليکلي وي بيا به له چپ لوري څخه ۴ توري را واخلي .

4: =mid(c3;2;4)

په c3 حجره کې چې څه ليکلي وي له دويم کرکټر څخه دې شروع وکړي او ۴ کرکټرونه دې راولي.

5: =upper(a4)

په a4 حجره کې چې څه لکيلي وي هغه به راته د انګليسي په غټو تورو بدل کړي.

6: =lower(c3)

په c3 حجره کې چې څه ليکلي وي هغه به راته د انګليسي په کوچنيو تورو بدل کړي په کومه حجره کې چې دغه فارموله اپلی کړو همدلته به راته يې وښيي.

7: =proper(c2)

د c2 حجره کې د لیکنې لومړی توری غټ راولې.

د زده کوونکو د نتایجو لپاره یو ساده جدول

نوموړی داسې د نتایجو فارمټ دی چې کولی شي په اتومات ډول اول نمره، دویم نمره او په همدې ترتیب تر آخر نمره پورې ټول زده کوونکي معلوم کړي او هم یې د درجې په اساس ترتیب کړي.

۱ مرحله : Ctrl + P بټن به ووهو تر څو مور ته د صفحې باډر بشکاره شي.

۲ مرحله: Page layout ټب کې به Page setup ګروپ ته به راشو او Orientation څخه به Landscape انتخاب کړو.

۳ مرحله : Page layout ټب کې به Page setup ګروپ ته به راشو بیا به Margins باندې کلیک وکړو او Custom Margins... باندې به کلیک وکړو او د صفحې اندازه به د لاندې تصویر په ډول وټاکو:



کله مو چې دغه اندازه د صفحې څلور طرفو ته وټاکله OK به یې کړو.

۴ مرحله : له A1 نه تر N38 حجرو پورې (کومې چې د همدغې یوې صفحې باډر آخرې حد وي)

انتخاب به کړو او All Border به انتخاب کړو.

۵ مرحله : اوس به له a1 نه تر n6 پورې ټولې حجرې یو ځای کړو:



۶ مرحله: اوس به لیکنه وکړو او هم به لوګو د مکتب اضافه کړو:


N9
A B C D E F G H I J K L M N O
1 2 3 4 5 6 7 8
عرفان افغان خصوصي ښوونځی
د امتحاناتو کمیټه
د څلورم ټولګي د میاشتنی ازموینو نتیجه
۱۴۰۵ لمریز کال
جوزا میاشت

۷ مرحله : اوس به د لاندې تصوير په ډول ډيټا او نمرې په حجرو کې وليکو:



د امتحاناتو کمېټه
د خلورم ټولګي د مياشتنی ازمويښو نتيجه
۱۴۰۵ لمريز کال
جوزا مياشت

شمېره	نوم	د پلار نوم	قرانکريم	دينيات	پښتو	دری	رياضی	کمپيوټر	ساينس	انګليسي	مجموعه	فيصدي	درجه
۱	شريف	اسدالله	۹۵	۱۰۰	۸۸	۸۶	۷۶	۸۸	۱۰۰	۹۵			
۲	جواد	کريم	۸۸	۹۰	۹۶	۸۰	۸۸	۹۶	۹۰	۸۸			
۳	وحيد الله	احمدزی	۹۰	۸۶	۷۰	۹۱	۹۵	۷۰	۸۶	۹۰			
۴	ادريس	شريف الله	۷۶	۸۰	۸۴	۹۷	۸۴	۸۴	۸۰	۷۶			
۵	حمزه	عبيدالله	۸۸	۹۱	۹۳	۸۵	۸۲	۹۳	۹۱	۸۸			
۶	رضوان	داود	۹۵	۹۷	۶۸	۷۹	۷۶	۶۸	۹۷	۹۵			
۷	ثناءالله	عمر	۸۴	۸۵	۹۳	۹۸	۸۸	۹۳	۸۵	۸۴			
۸	اصيل خان	هاشم	۸۲	۷۹	۱۰۰	۶۶	۹۵	۱۰۰	۷۹	۸۲			
۹	شمرور	خان آغا	۷۰	۹۸	۹۳	۹۰	۸۴	۹۳	۹۸	۷۰			
۱۰	اميرخان	جواد	۶۶	۹۲	۸۵	۱۰۰	۸۲	۸۵	۹۲	۶۶			
۱۱	علی	ابوبکر	۹۰	۷۴	۷۹	۹۹	۷۶	۷۹	۷۴	۹۰			
۱۲	حيات الله	عثمان	۱۰۰	۹۳	۶۹	۹۱	۸۸	۷۸	۹۳	۱۰۰			
۱۳	زبير	محمد ولي	۹۹	۱۰۰	۷۸	۸۹	۹۵	۱۰۰	۹۹	۹۹			
۱۴	محمد	شکيب خان	۹۱	۷۹	۹۹	۹۱	۸۴	۹۱	۷۹	۹۱			
۱۵	يونس	موسی	۸۹	۹۵	۷۵	۸۲	۹۱	۷۵	۹۵	۸۹			

۸ مرحله: اوس به مجموعه د ټولو زده کوونکو پيدا کوو:

د لومړني زده کوونکي مجموعه به په دغه ډول پيدا کړو هغه حجرې به جمع کړو په کومو کې چې نمرې ليکل شوي وي او Enter بټن به ووهو.



د امتحاناتو کمېټه
د خلورم ټولګي د مياشتنی ازمويښو نتيجه
۱۴۰۵ لمريز کال
جوزا مياشت

شمېره	نوم	د پلار نوم	قرانکريم	دينيات	پښتو	دری	رياضی	کمپيوټر	ساينس	انګليسي	مجموعه	فيصدي	درجه
۱	شريف	اسدالله	۹۵	۱۰۰	۸۸	۸۶	۷۶	۸۸	۱۰۰		=SUM(D8:K8)		
۲	جواد	کريم	۸۸	۹۰	۹۶	۸۰	۸۸	۹۶	۹۰	۸۸			
۳	وحيد الله	احمدزی	۹۰	۸۶	۷۰	۹۱	۹۵	۷۰	۸۶	۹۰			
۴	ادريس	شريف الله	۷۶	۸۰	۸۴	۹۷	۸۴	۸۴	۸۰	۷۶			

کله مو چې Enter بټن ووهله بيا به همدغه حجره انتخاب کړو او د همدې حجرې ښي کونج لاندې خوا کې به يو + علامه را ښکاره شي همدغه فارموله به لاندې کش کړو:

اوس به د ټولو زده کوونکو مجموعه راته وښيي.

د امتحاناتو کمېټه
د خلورم ټولګي د مياشتنی ازمويښو نتيجه
۱۴۰۵ لمريز کال
جوزا مياشت

شمېره	نوم	د پلار نوم	قرانکريم	دينيات	پښتو	دری	رياضی	کمپيوټر	ساينس	انګليسي	مجموعه	فيصدي	درجه
۱	شريف	اسدالله	۹۵	۱۰۰	۸۸	۸۶	۷۶	۸۸	۱۰۰	۹۵	۷۲۸		
۲	جواد	کريم	۸۸	۹۰	۹۶	۸۰	۸۸	۹۶	۹۰	۸۸			
۳	وحيد الله	احمدزی	۹۰	۸۶	۷۰	۹۱	۹۵	۷۰	۸۶	۹۰			

۹ مرحله : اوس غواړو فيصدي يې معلومه کړو ۲ طرقې لري

۱ طريقه: اوسط به يې معلوم کړو او فارموله به لاندې کش کړو تر څو د نورو زده کوونکو فيصدي هم ښکاره شي

	شمېره	نوم	د پلار نوم	قرانکريم	دينيات	پښتو	دري	رياضي	کمپيوټر	سائنس	انګليسي	مجموعه	فيصدي	درجه
8	۱	شريف	اسدالله	۹۵	۱۰۰	۸۸	۸۶	۷۶	۸۸	۱۰۰	۹۵	=AVERAGE(D8:K8)		
9	۲	جواد	کريم	۸۸	۹۰	۹۶	۸۰	۸۸	۹۶	۹۰	۸۸	۷۱۶		
10	۳	وحيد الله	احمدزی	۹۰	۸۶	۷۰	۹۱	۹۵	۷۰	۸۶	۹۰	۶۷۸		
11	۴	ادريس	شريف الله	۷۶	۸۰	۸۴	۸۴	۸۴	۹۷	۸۴	۷۶	۶۶۱		

۲ طريقه: مجموعه به د مضامينو په شمېر ووېشو چې د مضامينو شمېر دلته ۸ دی:

د امتحاناتو کمېټه
د څلورم ټولګي د مياشتنی ازمويښو نتيجه
جوزا مياشت

	شمېره	نوم	د پلار نوم	قرانکريم	دينيات	پښتو	دري	رياضي	کمپيوټر	سائنس	انګليسي	مجموعه	فيصدي	درجه
8		شريف	اسدالله	۹۵	۱۰۰	۸۸	۸۶	۷۶	۸۸	۱۰۰	۹۵	۷۲۸	=C8/8	
9		جواد	کريم	۸۸	۹۰	۹۶	۸۰	۸۸	۹۶	۹۰	۸۸	۷۱۶		
10		وحيد الله	احمدزی	۹۰	۸۶	۷۰	۹۱	۹۵	۷۰	۸۶	۹۰	۶۷۸		
11		ادريس	شريف الله	۷۶	۸۰	۸۴	۸۴	۸۴	۹۷	۸۴	۷۶	۶۶۱		

۱۰ مرحله : اوس که غواړو د هر زده کوونکي درجه معلومه کړو:

SUM =RANK(C8;$C$8:$C$22;0)

د امتحاناتو کمېټه
د څلورم ټولګي د مياشتنی ازمويښو نتيجه
جوزا مياشت

	شمېره	نوم	د پلار نوم	قرانکريم	دينيات	پښتو	دري	رياضي	کمپيوټر	سائنس	انګليسي	مجموعه	فيصدي	درجه
8	۱	شريف	اسدالله	۹۵	۱۰۰	۸۸	۸۶	۷۶	۸۸	۱۰۰	۹۵	۷۲۸	۹۰.۵	=RANK(C8;$C$8:$C$22;0)
9	۲	جواد	کريم	۸۸	۹۰	۹۶	۸۰	۸۸	۹۶	۹۰	۸۸	۷۱۶	۸۹.۵	3
10	۳	وحيد الله	احمدزی	۹۰	۸۶	۷۰	۹۱	۹۵	۷۰	۸۶	۹۰	۶۷۸	۸۴.۸	11
11	۴	ادريس	شريف الله	۷۶	۸۰	۸۴	۸۴	۹۷	۸۴	۸۰	۷۶	۶۶۱	۸۲.۶	14

پورته فارموله به وليکو او Enter به يې کړو او لاندې به يې کش کړو د ټولو زده کوونکو درجې به راته پيدا کړي چې اول نمره څوک ده او دويم، دريم او... درجې به زده کوونکو ته د مجموعو په اساس ورکړي.

د فارمولې تشرېح:

rank

دا د ايکسل فنکشن دی چې مقام(درجه) پيدا کوي (دا عدد د نورو عددونو په منځ کې څويم لوی دی).

C8

دا هغه حجره (Cell) دی چې رتبه یې معلومو یعني د لومړني زده کوونکي درجه اوس پیدا کوي.

$C$8:$C$22

دا د ټولو زده کوونکو د مجموعو لیست دی او $ ددې لپاره کارول شوی چې چې دغه رینج قفل کوي که دغه فارموله ښکته Drag کړو خو له دغه رینج څخه به نه وځي.

0

دا تر ټولو مهمه برخه ده؛ له لوړې نه تر ټیټې رتبې ټاکي لکه:

تر ټولو لوړه نمره = Rank 1

دویمه لوړه = Rank 2

دریمه = Rank 3

که دلته د 0 په ځای 1 ولیکو نو بیا به معکوس شي لکه که د چا تر ټولو ټیټه نمره وي د هغه درجه به 1 کړي او که د چا تر ټولو پورته نمره وي د هغه درجه به آخر کړي.

اوس به د هر زده کوونکي درجې هم راته وښیي؛ چې په لاندې تصویر کې ښکاري:



عرفان افغان خصوصي ښوونځی
د امتحاناتو کمیټه
د ځلورم ټولګي د میاشتنی ازموینو نتیجه

۱۴۰۵ لمریز کال
جوزا میاشت

شمیره	نوم	د پلار نوم	قرائکریم	دینیات	پښتو	دري	ریاضی	کمپیوټر	ساینس	انګلیسي	مجموعه	فیصدي	درجه
۱	شریف	اسدالله	۹۵	۱۰۰	۸۸	۸۶	۷۶	۸۸	۱۰۰	۹۵	۷۲۸	۹۱.۰	2
۲	جواد	کریم	۸۸	۹۰	۹۶	۸۰	۸۸	۹۶	۹۰	۸۸	۷۱۶	۸۹.۵	3
۳	وحید الله	احمدزی	۹۰	۸۶	۷۰	۹۱	۹۵	۷۰	۸۶	۹۰	۶۷۸	۸۳.۸	11
۴	ادریس	شریف الله	۷۶	۸۰	۸۴	۹۷	۸۴	۸۴	۸۰	۷۶	۶۶۱	۸۲.۶	14
۵	حمزه	عبدالله	۸۸	۹۱	۹۳	۸۵	۸۲	۹۳	۹۱	۸۸	۷۱۱	۸۸.۹	5
۶	رضوان	داود	۹۵	۹۷	۶۸	۷۹	۷۶	۶۸	۹۷	۹۵	۶۷۵	۸۴.۴	12
۷	ثناءالله	عمر	۸۲	۸۵	۹۳	۹۸	۸۸	۹۳	۸۵	۸۴	۷۱۰	۸۸.۸	6
۸	اصیل خان	هاشم	۸۲	۷۹	۱۰۰	۶۶	۹۵	۱۰۰	۷۹	۸۲	۶۸۳	۸۵.۴	10
۹	شهروز	خان آغا	۷۰	۹۸	۹۳	۹۰	۸۲	۹۳	۹۸	۷۰	۶۹۶	۸۷.۰	8
۱۰	امیرخان	جواد	۶۶	۸۵	۸۲	۱۰۰	۸۵	۹۲	۸۵	۶۶	۶۶۸	۸۳.۵	13
۱۱	علی	ابوبکر	۹۰	۷۹	۷۹	۹۹	۷۶	۷۹	۷۴	۹۰	۶۶۱	۸۲.۶	14
۱۲	حیات الله	عثمان	۱۰۰	۷۹	۹۱	۸۸	۶۹	۹۳	۱۰۰	۹۳	۷۱۳	۸۹.۱	4
۱۳	زبیر	محمد ولي	۹۹	۱۰۰	۷۸	۸۹	۹۵	۷۸	۱۰۰	۹۹	۷۳۸	۹۲.۳	1
۱۴	محمد	شکیب خان	۹۱	۷۹	۹۱	۹۹	۸۴	۹۱	۷۹	۹۱	۷۰۵	۸۸.۱	7
۱۵	یونس	موسی	۸۹	۹۵	۷۵	۹۱	۸۲	۷۵	۹۵	۸۹	۶۹۱	۸۶.۴	9

۱۱ مرحله: اوس غواړو که څوک اول نمره وي باید نوم، پلار نوم او ټولې نمرې هر څه یې لومړی راشي بیا دې ورپسې د دویم نمره ټوله ډیټا راشي په دې ترتیب تر اخر نمره پورې (د درجې په اساس یې ترتیبوو):

که پورته شکل کې وګورو د ټولو زده کوونکو ډیټا په A8:M22 رینج کې ده :

۱ مرحله: دغه د ډېټا رینج به Select کړو.

عرفان افغان خصوصي ښوونځی
د امتحاناتو کمېټه
د خلورم ټولګي د میاشتنی ازموینو نتیجه

۱۴۰۵ لمریز کال
جوزا میاشت

شمېره	نوم	د پلار نوم	قرانکریم	دینیات	پښتو	دری	ریاضی	کمپیوټر	ساینس	انګلیسي	مجموعه	فیصدي	درجه
۱	زبیر	محمد ولي	۹۹	۱۰۰	۷۸	۸۹	۹۵	۷۸	۱۰۰	۹۹	۷۳۸	۹۲.۳	1
۲	شریف	اسدالله	۹۵	۱۰۰	۸۸	۸۶	۷۶	۸۸	۱۰۰	۹۵	۷۲۸	۹۱.۰	2
۳	جواد	کریم	۸۸	۹۰	۹۶	۸۰	۸۸	۹۶	۹۰	۸۸	۷۱۶	۸۹.۵	3
۴	حیات الله	عثمان	۱۰۰	۹۳	۷۹	۹۱	۸۸	۶۹	۹۳	۱۰۰	۷۱۳	۸۹.۱	4
۵	حمزه	عبیدالله	۸۸	۹۱	۹۳	۸۵	۸۲	۹۳	۹۱	۸۸	۷۱۱	۸۸.۹	5
۶	ثناءالله	عمر	۸۴	۸۵	۹۳	۹۸	۸۸	۹۳	۸۵	۸۴	۷۱۰	۸۸.۸	6
۷	محمد	شکیب خان	۹۱	۷۹	۹۱	۹۹	۸۴	۹۱	۷۹	۹۱	۷۰۵	۸۸.۱	7
۸	شمروز	خان آغا	۷۰	۹۸	۹۳	۹۰	۸۴	۹۳	۹۸	۷۰	۶۹۶	۸۷.۰	8
۹	یونس	موسی	۸۹	۹۵	۷۵	۹۱	۸۲	۷۵	۹۵	۸۹	۶۹۱	۸۶.۴	9
۱۰	اصیل خان	هاشم	۸۲	۷۹	۱۰۰	۶۶	۹۵	۱۰۰	۷۹	۸۲	۶۸۳	۸۵.۴	10
۱۱	وحید الله	احمدزی	۹۰	۸۶	۷۰	۹۱	۹۵	۷۰	۸۶	۹۰	۶۷۸	۸۴.۸	11
۱۲	رضوان	داود	۹۵	۹۷	۶۸	۷۹	۷۶	۶۸	۹۷	۹۵	۶۷۵	۸۴.۴	12
۱۳	امیرخان	جواد	۶۶	۹۲	۸۵	۸۲	۱۰۰	۸۵	۹۲	۶۶	۶۶۸	۸۳.۵	13
۱۴	ادریس	شریف الله	۷۶	۸۰	۸۴	۹۷	۸۴	۸۰	۷۶	۷۶	۶۶۱	۸۲.۶	14
۱۵	علي	ابوبکر	۹۰	۷۴	۷۹	۹۹	۷۶	۷۹	۷۳	۹۰	۶۶۰	۸۲.۵	15

۲ مرحله: Data tab کي به Sort ته راشو:



۳ مرحله: کله چې په Sort کلیک وکړو لاندي صفحه به ښکاره شي:



دلته به Sort by ساحه کي کلیک وکړو او لاندي صفحه به مشاهده کړو:



Sort by ساحه کي به **درجه** انتخاب کړو او Order ساحه کي به Smallest to Largest انتخاب کړو اوس به اول نمره لومړی، دویم نمره دویم، دریم نمره دریم او

همداسي په ترتيب به يې راته وښيي.

کله چې نوموړي صفحه پرنټ کړو په لاندې ډول به وي:



عرفان افغان خصوصي ښوونځی
د امتحاناتو کمیټه
د څلورم ټولګي د میاشتنۍ از موینو نتیجه

۱۴۰۵ لمریز کال
جوزا میاشت

شمیره	نوم	د پلار نوم	قرانکریم	دینیات	پښتو	دري	ریاضي	کمپیوټر	ساینس	انګلیسي	مجموعه	فیصدي	درجه
۱	زبیر	محمد ولي	۹۹	۱۰۰	۷۸	۸۹	۹۵	۷۸	۱۰۰	۹۹	۷۳۸	۹۲.۳	1
۲	شریف	اسدالله	۹۵	۱۰۰	۸۸	۸۶	۷۶	۸۸	۱۰۰	۹۵	۷۲۸	۹۱.۰	2
۳	جواد	کریم	۸۸	۹۰	۹۶	۸۰	۸۸	۹۶	۹۰	۸۸	۷۱۶	۸۹.۵	3
۴	حیات الله	عثمان	۱۰۰	۹۳	۷۹	۹۱	۸۸	۶۹	۹۳	۱۰۰	۷۱۳	۸۹.۱	4
۵	حمزه	عبیدالله	۸۸	۹۱	۹۳	۸۵	۸۲	۹۳	۹۱	۸۸	۷۱۱	۸۸.۹	5
۶	ثناءالله	عمر	۸۴	۸۵	۹۳	۹۸	۸۸	۹۳	۸۵	۸۴	۷۱۰	۸۸.۸	6
۷	محمد	شکیب خان	۹۱	۷۹	۹۱	۹۹	۸۴	۹۱	۷۹	۹۱	۷۰۵	۸۸.۱	7
۸	شمروز	خان آغا	۷۰	۹۸	۹۳	۹۰	۸۴	۹۳	۹۸	۷۰	۶۹۶	۸۷.۰	8
۹	یونس	موسی	۸۹	۹۵	۷۵	۹۱	۸۲	۷۵	۹۵	۸۹	۶۹۱	۸۶.۴	9
۱۰	اصیل خان	هاشم	۸۲	۷۹	۱۰۰	۶۶	۹۵	۱۰۰	۷۹	۸۲	۶۸۳	۸۵.۴	10
۱۱	وحید الله	احمدزی	۹۰	۸۶	۷۰	۹۱	۹۵	۷۰	۸۶	۹۰	۶۷۸	۸۴.۸	11
۱۲	رضوان	داود	۹۵	۹۷	۶۸	۷۹	۷۶	۶۸	۹۷	۹۵	۶۷۵	۸۴.۴	12
۱۳	امیرخان	جواد	۶۶	۹۲	۸۵	۸۲	۱۰۰	۸۵	۹۲	۶۶	۶۶۸	۸۳.۵	13
۱۴	ادریس	شریف الله	۷۶	۸۰	۸۴	۸۴	۹۷	۸۴	۸۰	۷۶	۶۶۱	۸۲.۶	14
۱۵	علي	ابوبکر	۹۰	۷۴	۷۹	۹۹	۷۶	۷۹	۷۳	۹۰	۶۶۰	۸۲.۵	15

ومن الله التوفيق